# د پښتو ژبي ودي ته

## د سمبالولو او

## بازار له اړخه یوه کتنه



Ketabton.com

لیکوال :

انجنیر فهیم پښتون وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو ژبي ودي ته د سمبالولو او بازار له اړخه يوه کتنه

ليکوال:
انجينر فهيم پښتون وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د پښتو ژبي ودي ته د سمبالولو او بازار له اړخه يوه کتنه |
| ليکوال: | انجينر فهيم پښتون وردګ |
| کمپوز: | په خپله ليکوال |
| د پښتې طرحه او انلاين چاري: | مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون |

www.Larawbar.net

LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک


| سرلیک | د پاڼې شمېره |
|---|---|
| سریزه او د زړه خواله | ۹ |
| په ناپوهۍ کې لویه تېروتنه | ۱۵ |
| بله ستونځه | ۱۸ |
| پښتو ته یوه هر اړخیزه کتنه | ۲۰ |
| د پښتو ژبې اړ او مرستندویه برخې | ۲۱ |
| اره یا اسلي برخه | ۲۲ |
| د پښتو ادبیات | ۲۲ |
| دود دستور، هر او نځور | ۲۳ |
| مرستندویه برخه | ۲۶ |
| پښتو ژبې ته د مایکل پورټر په بېلګیزه کې کتل | ۲۷ |
| د غوښتنې شرایت او حالات | ۲۷ |
| د کاروبار ورته او مرستندویه برخې | ۲۸ |
| د رسد او خامو موادو او ځواکونو شرایت | ۲۸ |
| د شرکتونو سټراټېژۍ او سیالۍ ډګر او متلب | ۲۸ |
| د غوښتنې شرایت او چاپېریال | ۲۹ |
| د کاروبار ورته او مرستندویه برخې | ۳۰ |
| د رسد او خامو موادو چاپېریال پانګونه او ټاکونکي | ۳۱ |
| د شرکتونو سټراټیژۍ او سیالۍ ډګر او انګړ | ۳۱ |
| د سیالۍ پښځه ګونې ځواکونه او د لوی چاپېریال د برخو ټاکونکو څېړنه | ۳۳ |
| بدیلونه | ۳۴ |
| غوښتونکي یا کاروونکي | ۳۴ |
| نوي سیالان | ۳۵ |
| رسوونکي | ۳۶ |
| سیالي او اوسني سیالان | ۳۶ |
| د کسب او خیز نړۍوالتوب چلوونکي، هڅوونکي او خوځوونکي ځواکوونه | ۳۷ |
| د بازار چلوونکي | ۴۰ |
| د مسرپ او خرڅې چلوونکي | ۴۰ |
| د سیالۍ چلوونکي | ۴۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو ودې چلونکي او هڅوونکي او خوځوونکي ځواکونو څېړنه په بېلګېزه کې ۴۱
د بازار چلوونکي ۴۲
د واکمن یا سرکار چلوونکي ۴۴
د سیالۍ چلوونکي ۴۵
د کلتور چلوونکي ۴۵
د اند چلوونکي ۴۷
ستراتیژیکې څېړنې ۴۹
په نړۍ کې د نورو ژبو ودې ته یوه لنډه او زغلنده کتنه ۴۹
د پښتو څېړنه د ستراتیژیکو سیالیو بېلګېزه کې ۵۳
د پښتو څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې ۵۲
د پښتو فلم څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې ۵۷
کور ۵۸
کلې ۶۰
ټول هېواد او نوره نړۍ ۶۱
د پښتو ننداري څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې ۶۲
کور ۶۵
کلې ۶۵
ټول هېواد او نوره نړۍ ۶۶
د پښتو انځور څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې ۶۸
کور ۶۸
کلې ۶۹
ټول هېواد او نوره نړۍ ۷۰
د پښتو ټنګ ټکور څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې ۷۲
کور ۷۳
کلې ۷۵
ټول هېواد او نوره نړۍ ۷۶
د پښتو اتڼ څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې ۷۸
کور ۷۹
کلې ۸۰
ټول هېواد او نوره نړۍ ۸۰
په لندن او نوره اروپا کې اتڼ ۸۱
د اتڼ هر اړخیزه څېړنه د دود دستور په بېلګېزه کې ۸۲
نزم او خپلواکي ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورليد او نوښت ۸۷
کالي او ښکلا ۸۹
مشر تابه او د هغه د لاس ته راوړو لپاره په ښه والي سيالي ۸۹
ولسواکي او د ولسواکۍ لپاره د سيالو ډلو زېږېدنه او بيا په ښېګڼه سيالي او د ولس زړه تر لاسه کول ۸۹
ټولنيزې اړيکې ډېرول او ځواکمن کول ۹۰
د اتڼ اغېزې څېړنه د دود دستور په نورو برخو ۹۱
د اتڼ اغېزې څېړنه د ژوندانه په سپماوي برخه ۹۲
د اتڼ اغېزې څېړنه د ژوندانه په ټولنيزه برخه ۹۴
د اتڼ اغېزې څېړنه د ژوندانه په سياسي برخه ۹۵
د اړتيا غوښتنې وړاندېينې او اغېزې بليګيزې پايله ۹۷
د اتڼ تر سيورې لاندې ۹۸
څه وکړوو؟ ۱۰۳
د آرو يا اسلي موادو لړل ۱۰۴
د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو سره څېړنه ۱۰۵
د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو ځايونو سره څېړنه ۱۰۸
د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (ولسمشر) څېړنه ۱۰۹
د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (کابينې) څېړنه ۱۱۲
د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (پلازمېنه وال) څېړنه ۱۱۵
د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (ټول هېواد او نوره نړۍ) څېړنه ۱۱۷
د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو ځايونو (رسنۍ وسيلې) څېړنه ۱۲۰
د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو ځايونو (دزده کړې مرکزونه چارواکي قضا او دوه ګونې جرګې) څېړنه ۱۲۲
دوه وړاندېزونه او تګلاره ۱۲۳
لومړی: د ښکته څخه يانې د ولسونو څخه پورته خواته يانې چاواکو خواته ۱۲۴
سياسي او کليوالي جرګې ۱۲۵
اتڼ، ننداره يا ډرامې او جرګه ۱۲۷
دويم: د پاسه يانې د چارواکو لخوا ښکته خواته يانې د ولسونو خواته ۱۲۹
د اسلي او رسمي برخو سره نغاښتنه ۱۳۱
تګلاره ۱۳۴
په سيمه کې پښتو ۱۳۷
اخزليکونه ۱۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انځورونه او ببلګیزې

د پاڼې شمېره | د انځور شمېره


Figure 1انځور شمېره ۱ د پښتو د ودې پاییښتي برخې او اوښتون. **Fout! Bladwijzer niet gedefinieerd.**
Figure 2انځور شمېره ۲ د څو ژبود توپیر ببلګې ........................................................ 23
Figure 3انځور شمېره ۳ د ستراتېژۍ لپاره یوه کرښه ............................................ 25
Figure 4انځور شمېره ۴ د پښتو ژبې دوه اړینې برخې ............................................ 26
Figure 5انځور شمېره ۵ د پښتو ژبې اړې برخې ببلګیزه............................................ 27
Figure 6انځور شمېره ۶ د پښتو د ادبیاتو ببلګیزه ................................................ 28
Figure 7انځور شمېره ۷ د دود دستور او هنر انځور ببلګیزه د پېښن څخه .................... 28
Figure 8انځور شمېره ۸ د پښتو ژبې مرستندویه برخې ببلګیزه ............................... 30
Figure 9انځور شمېره ۹ د مایکل پورټر د هېوادني الماسي ببلګیزه ............................ 31
Figure 10انځور شمېره ۱۰ د مایکل پورټر د ببلګیزې څخه د پښتو ژبې هېوادني برخې لپاره ببلګیزه ..... 33
Figure 11انځور شمېره ۱۱ د مایکل پورټر د سیالیو پینځه ځواکه ببلګیزه ...................... 37
Figure 12انځور شمېره ۱۲ د مایکل پورټر د سیالۍ پینځه ګونې ببلګیزې څخه د پښتو لپاره ببلګیزه ....... 38
Figure 13انځور شمېره ۱۳ د کسب نړۍ والتوب لپاره ببلګیزه .................................... 42
Figure 14انځور شمېره ۱۴ د کسب نړۍ والتوب ببلګیزه د جورج ییپ له کتاب څخه ............ 43
Figure 15انځور شمېره ۱۵ د ۱۴ ببلګیزې پښتو ژباړه ............................................ 44
Figure 16انځور شمېره ۱۶ د پښتو ودې چلونکي او هڅوونکي او خوځوونکي ځواکونو ببلګیزه ........... 47
Figure 17انځور شمېره ۱۷ د سیالۍ د چلوونکي برخې ببلګیزه................................... 54
Figure 18انځور شمېره ۱۸ د نړۍ نورو ژبو ته د کتنې ببلګیزه .................................. 55
Figure 19انځور شمېره ۱۹ د څو ژبو چې بیا راژوندۍ شوي دي ببلګه............................ 55
Figure 20انځور شمېره ۲۰ د ستراتېژیکو څېړنو لپاره پیل ........................................ 59
Figure 21انځور شمېره ۲۱ د ستراتېژیکو سیالیو څېړنیز ببلګیزه ................................ 60
Figure 22انځور شمېره ۲۲ د ستراتېژیکو سیالیو ببلګیزه د پښتو لپاره ........................ 61
Figure 23انځور شمېره ۲۳ د دود دستور او هنر انځور د ببلګیزې لومړۍ برخې ببلګیزه................... 62
Figure 24انځور شمېره ۲۴ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه ببلګیزه ................ 63
Figure 25انځور شمېره ۲۵ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه ببلګیزه ................ 69
Figure 26انځور شمېره ۲۶ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه ببلګیزه ................ 73
Figure 27انځور شمېره ۲۷ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه ببلګیزه................. 77
Figure 28انځور شمېره ۲۸ د اتڼ دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه ببلګیزه ........... 83
Figure 29انځور شمېره ۲۹ په لندن کې د خپلواکۍ د ورځې لمانځلو اتڼ .......................... 90

(c) ketabton.com: The Digital Library



Figure 30 انځور شمېره ۳۰ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنيزه بېلګيزه ... 91
Figure 31 انځور شمېره ۳۱ د وېلز ولسي نڅا چې په ورک کېدو ده ... 94
Figure 32 انځور شمېره ۳۲ د اتڼ څېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي ... 97
Figure 33 انځور شمېره ۳۳ د اتڼ څېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي ... 98
Figure 34 انځور شمېره ۳۴ د اتڼ څېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي ... 100
Figure 35 انځور شمېره ۳۵ د اتڼ څېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي ... 102
Figure 36 انځور شمېره ۳۲ د اتڼ څېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي ... 104
Figure 37 انځور شمېره ۳۷ د اتڼ څېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي ... 105
Figure 38 انځور شمېره د مایکل پورټر هېوادني الماسي بېلګيزه ... 107
Figure 39 انځور شمېره ۳۹ د ۳۸ پښتو ژباړه د پښتو ژبې لپاره ... 108
Figure 40 انځور شمېره ۴۰ د پښتو د ارو مواد لرلو څخه ګټه اوچتول ... 111
Figure 41 انځور شمېره ۴۱ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو سره ... 112
Figure 42 انځور شمېره ۴۲ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو سره ... 114
Figure 43 انځور شمېره ۴۳ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو سره ... 116
Figure 44 انځور شمېره ۴۴ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 117
Figure 45 انځور شمېره ۴۵ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 120
Figure 46 انځور شمېره ۴۲ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 123
Figure 47 انځور شمېره ۴۷ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 125
Figure 48 انځور شمېره ۴۸ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 127
Figure 49 انځور شمېره ۴۹ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 128
Figure 50 انځور شمېره ۵۰ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 131
Figure 51 انځور شمېره ۵۱ د لاندې پرګنوله خواځخه د ودې سټراټېژي ... 133
Figure 52 انځور شمېره ۵۲ د سټراټېژۍ لپاره څېړنه او د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه ... 134
Figure 53 انځور شمېره ۵۳ د ارو او مرستندویه برخو سره نغابنتنې پیل ... 138
Figure 54 انځور شمېره ۵۴ د ارو او مرستندویه برخو سره نغابنتنه او لارې چارې ... 140

(c) ketabton.com: The Digital Library



Figure 55 انځور شمېره**۵۵** د اړې او رسمي برخو سره نغاښتنه، اړېکې او اغېزې ............................ 141
Figure 56 انځور شمېره **۵۶** پښتو په ټولنه او نړۍ کې ................................................................ 142
Figure 57 انځور شمېره **۵۷** د پېښن د پوهې **ځخه** اړول شوی ................................................... 143
Figure 58 انځور شمېره **۵۸** د پېښن د پوهې **ځخه** ..................................................................... 143
Figure 59 انځور شمېره **۵۹** د پېښن د پوهې **ځخه** پښتو ژبې ودې لپاره اړول شوې بېلګېزه ................. 144

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

دا لیکنه زه خپلې ګرانې مور، ګران پلار، خپلې ټولې کورنۍ ته او په ځانګړې توګه خپلې مېرمنې او خپلو ماشومانو نادیه هېلۍ، وږمه سپوږمۍ او روبینه سلګۍ ته چې د دوی د مینې او روزنې وخت مې پرې تېر کړی ډالۍ کوم. او دا هیله هم لرم چې زموږ د مشرانو اروا ګانې هم پرې خوښې شي چې د دوی اروا ګانو ته هم دا لیکنه ډالۍ کوم چې د ټولو په سر کې یې هزرت باچاخان او اودل سمد خان چې په خان شهید هم نامتو دی سره دزموږ د ولس د نورو ټولو پاکو شهیدانو په ځانګړې توګه هغو شهېدانو ته چې په کورتو وېیلو یې سرونه بایلوي دي او د شهادت جامونه یې ورڅښلي دي.

# یوسپیناوی

د دې لیکنې لیکدود مې په یوه ځانګړې تګلاره تر سره کړی دی. ما زیار اېستلی دی چې د اروابښاد او ستر افغان اودل سمد خان شهید د لیکدود څخه کار واخلم. نو زه غواړم چې دا خبره په ډاګه کړم چې زه په دې لیکنه کې د خان شهید لاروی یم. نو د ټولو درنو لوستونکو او کره کتونکو څخه په درنښت هیله کوم چې د دې لیکدود لارویتوب ته درنښت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننده وینه !

د ټولو هغو دوستانو څخه چې د دې لیکنې په سمولو او سمبالولو کې یې راسره مرسته کړې ده. په ځانګړې توګه باید چې د نوم دلته یاد کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غيرتي خدای په سپېڅلي نامه

## سريزه

په لومړي سر کې يوه خبره سپينول غواړم چې زه ژبپوه نه يم او دا ليکنه مې لکه څرنګه چې د نامه څخه يې څرګنديږي د سمبالولو او بازار د پوهنو په رڼا کې کړې ده.

له ډېره وخته راهيسې مې غوښتل په دې پوه شم چې ولې هر کله چې له کوره را ووځم نو په ډېرى وختونو کې ځان راته داسې ښکاره شي چې په پښتو خبرې ونکړم؟

نو په هر ځای کې به زما د خپلو د ملګرو سره په دې اړه خبرې اترې کولې او له دې مرکو څخه دا پوښتنه راوتله چې نو موږ پښتانه ولې د هېواد په لويو ښارونو کې د خپلې ګرانې مور خوږه ژبه نه وايو ؟

ډېرى خلکو به دا ويل چې دا ژبه کې ستونځې دي، چا به بيا وويل چې دا د پاچا ژبه نه ده او بل به نو ډېر ژر ځواب ورکړ چې دا احمد شاه بابا نه نيولې تر زاهر ، داود ، ترکي او نجيب پورې دا خو ټول پښتانه دي. نو بيا به نورو وويل چې دې ژبې ته چا خزمت ندی کړی. او همداسې به دا خبرې چې شومره د ما په ياد يږي رواني وې او هيڅ کوم ځای ته به ونه رسېدې او سبا به بيا همدا خبره وه. او دا ټولې تر يوه ځايه ريښتيا هم دي. خو د ما زړه به پدې اوبه نه څښلې چې ګواکې دا دې د پښتو ژبې د ستونځو لوی لامل وي چې ولې موږ په ښارونو ، بازارونو، دفترونو ، ښونځيو او د ژوندانه په نورو ځايونو کې په خوږه پښتو خبرې نه کوو. نو زه خو چې ماشومتوب نه په داسې ځايونو کې ،لکه د کاپيسا ولايت ګلبهار سيمه ،کې را لوی شوم چې هلته به په پښتو ملنډې وهل کېدې نو زه به ډېر سخت خوړين شوم . ان تر دې چې زه به په خپل نوم هم وشرمېدم. چا به وويل چې (پشتويت چتور اس ) او چا به راته وويل چې ( پشتون ګول ) څکه چې نيکه مې راباندې پښتون نوم ايښى ؤ. او داسې نورې سپکې سپورې. خو ما به په هر وار يوه توده جګړه وکړه خو دا هيڅ کله هم نه خلاسېده.

زه خو په ماشومتوب کې پدې نه پوهېدم چې د پښتو په وړاندې داسې يوه رواني او سمباله شوې جګړه روانه ده. نو چې زه بيا کابل ته راغلم دا خو نو ډېر غټ پېغور و چې ستا کورنى نوم پښتون وای. پدې ځای خو خلاسون نه ؤ. او کله مې چې د مخابراتو په انستېټيوټ (١٩٨٢کابل کې)کې د خپل د پښتو د ژبې د اوستاز(استاد کامل ) نه دا خبره واورېده چې سلتان مامود د پښتنو شاعرانو په خولو کې سکروټې اچولې وې او د پاړسي ژبې شاعرانو په خولو کې غمې، نو په دې هم ډېر سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپه شوم. او کابل کې خو هماغه د سلطان مامود زړه پالېسي په نویو وسایلو او چلونو سمباله شوې او په زرپ روانه وه. ان تر دې چې کله به هلکانو یو او بل ته د خور او مور کنځلې کولې نو بیا هغه چې ورته کنځلې شوې وې نو هغه به پوښتنه وکړه چې دا چا ته وایې چې جګړه پیل شي. نو کنځل کوونکي به وویل چې ګواکي تا ته خو نه وایم بلکې دا خو اولمیر، ګل زمان او نورو پښتنو سندر غاړو او یا لیکوالانو نومونه به یې یاد کړل چې زه خو هغوی ته وایم. نو پدې کې خو زه پدې دومره پوه شوم چې دا بیا نو سمه جګړه زموږ د ژبې پر وړاندې روانه ده.

او دا چې د دې د مخ نیولو لپاره هیڅ نه کیږي بیا نو دا ولې؟

دا چې په کابل او ځینې نورو ښارونو کې به پښتنو ته د اوغانې غ----- وییل کېدل او داسې نورو خبرو به بیا بیا ما ته دا پوښتنه را پیدا کړه چې بیا نو دا ولې د دې لامل څه دی او ولې یې مخ نیوی نه کیږي؟

مدام به مې دا د خپلو ملګرو سره دا خبره یاده کړه چې دا ولې؟ او ډیر ډیر ځله خو په جګړو به مو سر شو خو د پای ټکی ورته نه ؤ.

مدام همدا ځوابونه ول چې، پاچا په پښتو خبرې نکوي، پښتو کې هیڅ نشته پښتو د پوهې ژبه نه ده پښتو داسې او پښتو هاسې. دا چې بیا مې د ژوندانه په پړاوونو کې دومره څه ولیدل نو پدې پایله ورسېدم چې زه به خپل زیار باسم او کوښښ به کوم چې په پښتو خبرې وکړم او ددې پوښتنو ځوابونه هم ومومم. او بیا په پېښور کې دې ته مې کار پیل کړ چې د پوهنتون په دوران کې چې کومو اوستازانو پښتو خبرې کولای شوای نو هرو مرو به مو هغه سره په پښتو خبرې کولې او زړه به مو پرې په کرار شو. پدې کې د مسود او ګلبدین جګړه پیل شوه او دا اوازې هم خپرې شوې چې ګواکي شمالي ټلوالې دا خبره سره پخه کړې ده چې دوی به پښتو د ټولو دولتي او نا دولتي ځایونو څخه لرې کوي. او زموږ ولس یې ټول د دوی په کوتیو کې ایسار کړ. او دا خبره خو ډیره مشهوره وه چې ***(ورو ټکوې چې څوک درته ونه وایي چې څوک یې)***. او بیا د دې خبرې ریښتیا او دروغ دلته په لندن کې د افغانانو د یو والي جرګې په غونډه کې چې د همید نزام په کوچي رستورانټ کې د ۲۰۰۷ کال په نومبر کې جوړه شوې وه سید بلال فاتمي دا خبره په ډاګه کړه چې ولي مسود د لندن په سفارت په کال ۱۹۹۲ کې دا خبره ورته کړې وه چې نور نو پښتو منښتو به ختموو. نو پدې به نور هم خپه شوو چې دا نو ولې؟.

ماته دا خپله ژبه داسې ښکارېده لکه خپله مور او پلار. نو کیسې خو ډیرې دي او یوه کیسه راته په یاد چې کله ما د هرات د انجنیرۍ په پوهنځي کې د ښوونکي دنده تر سره کوله، زما په ټولګۍ کې ډیر پښتانه هم ول نو دوی به ډیری درسونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارسۍ او انګرېزۍ باندې لوستل. نو د لومړي ځل لپاره مې لوست د انګرېزۍ څخه پښتو ته کړ هغه هم د زده کوونکو د ځوابونو لپاره. نو چې ما د لوست هغه برخه خلاصه کړه نو یوه هراتي زده کوونکي دا ووېيل چې زه خو پوه نشوم. ما ورته ووېيل چې زړګيه دا خو لومړی ستا پوښتنه نه وه او دوهم دا خو د دې هېواد ملي ژبه ده او درېیم دا چې تاته به يې یو ځل بیا یا په انګرېزۍ او یا ستا د خوښې په ژبه درته ووایم. نو دی خو په هغه مهال کرار شو. او وروسته يې لوی غوبل جوړ کړی ؤ او انجېنیر بهادر خان ته ورغلي ول. انجینیر سېب هم ډېر ښه ځواب ورکړی ؤ. چې پدې سره مو په هرات کې دا پدل مات کړ.

نو بیا چې زه دلته راغلم دلته هم د اکسرو پښتنو په مجلسونو کې دا خبره را پورته شوه چې دا پښتو ولې دومره شاته پاتې ده؟

نو ځوابونه به همدغه ول چې پښتو رسمیاتو کې نه ده ، پښتو د چارواکو ژبه نه ده، پښتو د قانون ژبه نه ده، پښتو د زدکړې ژبه نه ده، پښتو د مېډیا ژبه نه ده، پښتو د راکړې ورکړې ژبه نه ده، پښتو دددددد او داسې نور. . خو دا ټول په خپلو خپلو ځایونو ریښتیا دي. چې ستونځې خو همدا دي.

نو ما ته بیا دا پوښتنه به بیا بیا را غله چې څنګه کولای شو چې پښتو ته وده ورکړو؟

له دوو کالو راهیسې ښاغلي نورالله اتل سره چې پېژندګلوي مې شوې ده نو پدې مو سره په یوه پوهاوي چاپېریال او چوکاټ کې پدې ډېر سر خوږولی دی. او ډېرې اوږدې مرکې او خبرې اترې مو پرې کړې دي. د ده او د ما آندونو سره دا لېکنه وهڅوله څکه چې ده به د پښتو رسمي خوا ته ډېر پام کولو او ما به بیا ټولنیزو او کلتوري برخو باندې ډېر ټینګار کولو. تر دې چې ما د خپلې ماسترۍ (MBA ) په دوران کې دې ته پام شو چې څنګه کولای شم چې د دې پوهنو په رڼا کې پښتو وڅېړم. نو همدا پېلامه شوه د دې ټولګې د لېکلو. نو کله چې مې د دې ټولګې هغه لومړنۍ سرېزه او غور چاڼ پوره د یوه بېلګیزې او وړاندینې ( Presentation )په ډول کړل نو هغه مې د اروابناد لوی مشر ازرت پاچا خان مرکز ته چې په کې د چارو سمبالونکی ؤ ډالۍ کړل. او د دې هغه لومړنۍ برخه مې رزا (رضا ) خان او ځلاند مومند سېب ته وړاندې کړل چې ځلاند سېب په کې دا پوښتنه وکړله چې دا به څنګه په پروژو بدلوو؟

نو ما په ځواب کې بې ووېيل چې د اټن په رڼا کې به په بره افغانستان کې موږ د کلتور نورو برخو ته وده ورکوو او چې د اټن یو پروګرام ولرو نو دا به يې پېلامه وګرځي. نو بیا چې په دې باندې مې نور کار هم وکړ او بیا مې دا بشپړتیا ته نیژدې کړ نو هغه مې د ښاغلې نور الله اتل سېب او ګرانې یوې پښتنې خور سیلۍ ساپۍ سره شریک کړل. نو هغوی نه مې دا غوښتنه وکړه چې ما ته پرې مشوره راکړي. زه ناست یم چې دوی به خپلې مشورې راته راکوي !. نو دوی دواړو د دې ملاتړ وکړ. نورالله اتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپب دا وویېل چې د اتڼ په ځای موږ کولای شو چې د هنر نوم ورکړو. ما دا خبره ورسره تر یوه ځایه ومنله او دا مو هم سره په ګډه ومنل چې د سېمو د ځانګړتیاوو لپاره دا نومونه د اړتیا په بنسټ په کاروو. نو بیا ما دا غوښتنه له اتل سپب څخه وکړه چې دا به نو لکه پخوا چې مو پدې یو ځل سره هوډ کړی و چې دا به د آند او پوهې خاوند پښتنو ته د کتلو لپاره وړاندې کړم چې دوی خپل پوهاوي څېړنه او څارنه پرې وکړي چې بیا له هغه ورسته د خپرولو لپاره چمتو شي. همدا رنګه زه غواړم چې د نورو پوهانو یو څه خیالونه هم راټول کړم چې په دې لړۍ کې یوه لیکنه لاس ته راغله چې محمد هارون لیکلې وه.

محمد هارون خپل په خپل کتاب چې د پښتو د ژبې څېړنه کړې ده د پښتو د ژبې د ستونځو په هکله داسې لیکي: خو په ډېره خواشینۍ سره چې د هیواد زیاترو سیاسي حاکمانو یې لرغوني او ویاړلي ژبې ته ، د دوهمې درجې ژبې په سترګه کتلي؛ او لا کتل کیږي. دې بې رحمانه چلند ، پښتو له ښارونو او مدني ژوند څخه لیرې په غرونو او رغونو کې ایسار کړې وه ؛ د ودې او پرمختګ ټولې لارې یې بندې سوې وې. د همدې دلایلو له مخې، ناڅاپې نه ده چې پښتو اوس له ادبي او علمي اړخه، ډېره خواره او نیستمنه پاته سوې ده. . .

که څه هم نن سبا په پښتنو کې د خپلې لرغوني ژبې او پښتني رواجونو د را ژوندي کولو مینه، تر بل هر وخت ډېره سوې ده؛ مګر د پښتو د ودې او غوړېدو په لار کې پېچومې او کړاونه تر پخوا نه دي لږ سوي.

ښاغلی سالې محمد سالې په خپل کتاب کې بیا د پښتو په هکله داسې کاږي: (پښتو لرغونې او تاریخي ژبه ده، چې ان تر اسلام مخکې یې هم په ځینو کتیبو ، ځلیو او کتابونو کې څرک لګېدلی دی او څرګندوي چې دا ژبه تر زیاتو نورو ژبو اوږده سابقه او تاریخي شالید (پسمنزر) لري. خو د نېکمرغۍ ځای دا دی، چې پښتو یوازې ژبه نه، بلکې پښتو قانون دی، پښتو څلی او نرخ دی، پښتو قسم-ژمنه، هوډ او پښتو یو بشپړ کلتور دی) او بیا د پښتو ژبې سره د ایران او تاجکستان دوښمنۍ په هکله داسې لیکي: (ایران د خپلو کلتوري ارزښتونو د دودونې او پراختیا لپاره په ملیونونو ډالره لګوي او په سیمه کې زیات تخریباتي عملیات ترسره کوي. دغه هېواد لـه څو لسیزو راهیسې همدا هڅه کوي، چې افغانستان د ایران اړونده خاوره وښیي، په دې برخه کې یې زیات کتابونه هم خپاره کړي او اوس هم د (خراسان) خوبونه ویني، همدا اوس ایران او د ایراني مفکورې درلودونکي تاجکان په انټرنټ کې دومره مضر مواد خپروي، چې د پښتنو سپکاوی او د یراني کلتوري ستاینه په کې شوې ده، ···· یوه بل تاجکستاني لیکوال په خپل یوه پربړ او پنډ کتاب (مقام تاجیکان در تاریخ افغانستان) کې چې هره کرښه یې لـه افغان او افغانستان سره د تربګنېت او زدیت څرګندویې کوي، پښتانه لـه غرونو او رغونو څخه راتویې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبيلې ګڼي، چې د ليکوال په اند ستره دنده يې لوبماري، غلا او شوکماري وه. دغه خلک يې په کلتوري لحاظ ټيټ او پست معرفي کړي دي.)

سره لدې چې ښاغلي سالې سبب ډېر ښه ټينګ دليلونه د نورو د دوښمنۍ وړاندې کړي دي ، خو د پښتو د ودې لپاره يې چې کوم وړانديزونه کړي دي هغه ډېرې ښې خبرې او د ليد (vision)لپاره ډېره ښه شائمکه جوړوي.

زه د دې ټولو وړاندېزونو سره چې زموږ کلتور څومره بډای دی او زموږ پښتانه بايده چې څه وکړي. او زه غواړم چې د پښتو پاينښتي ودې لپاره لارې چارې ولټوم چې په پروژو بدل شي او هغه ستړا ټېژيکې پياوړتياوې لاس ته راوړي چې پرمختګ او وده يې پاينبت ولري.

نو له همدې کبله ما پښتو ته د يو شي څيز يا توکي په چاپېريال کې کتلي دي. ځکه هر هغه څيز يا توکی يا پراډکټ (product)چې په يو کلي، هېواد او نړۍ کې څومره لړاو يا ډېر پکار اچول کېږي همدومره لړيا ډېر د هغه د ښه کېدو او بدېدو لامل ګرځي. نو چې موږ پښتو ته د يو څيز او توکي د بازار د غوښتلو او رسولو يانې په کارولو په چاپېريال کې وګورو نو دا به راته جوته شي چه دا څومره پکار اچول کېږي او د پښتو برخې هم څومره پکار اچول کېږي.

تاسې دې ته داسې خيال وکړئ چې که چېرې په امريکه کې يوه الوتکه جوړېږي او د هغه الوتکې پرزې او ټولې برخې هم هلته جوړېږي نو دا به هېڅ کله هم له داسې ستونځو سره نه مخامخ کېږي چې د ډېرې مودې لپاره بې کاره شي او الوتنې ودروي. او همدا په هماغه چاپېريال کې د همدې الوتکو او پرزو په کارول دي چې نن يې هغه پخوانيو ناسمو شاته پاتې او ناکاره او د خترونو څخه ډکو الوتکو ته د نوښت او نيوکو او پرمختګ پر برکت دنن ورځې پر مختللو الوتکو ته راورسول. او که چېرې همداسې زموږ په هېواد کې هم دټوکرو جوړلو ته خيال وکړوو نو هغه به هم همداسې وي. يا د ډوډۍ لړۍ ته.

نو که چېرې موږ يوه الوتکه يا پابريکه د بهره راوړوو نو چې د پرزو جوړولو پابريکې او وسايل يې ونه لروو نو زموږ په ټولنه کې چې کوم ورته پرزې دي هغه ورته کار نه ورکوي. نو موږ مجبوره او اړ يو چې د هغه پرزې هم د بهره راوړوو.او دا پردي هېواد کې جوړه الوتکه يا پابريکه به هم نه يوائې دا چې ددوی پر پرزو تړلې وي بلکې پرمختګ به يې هم د دوی په لاس کې وي چې څومره يې ودې او يا شاتګ ته يې لاره اواروي. دا پښتو د دې لپاره کمزورې ده چې زموږ کوم کلتور چې پښتو ژبه پرې ولاړه ده هغه کلتور او دود دستور له کار لوېدلی دی او پر ځای يې لکه يوه د بل هېواده الوتکه يا ان د ډوډۍ جوړولو پابريکه راوړل شوې ده نو د پښتو ژبې توکو او برخو ته يې اړتيا له مينځه وړې ده. چې ستا شمله ستا اتڼ ستا جرګه ستا کالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پښتونولي او ټول دود دستور دې رسمي او نا رسمي او سیاسي په پلازمینه او د واک ځایونو کې په لوی لاس پیغور شي نو ستا ماشومان به خامخا له پښتو تښتي او ځان به له پېغوره ساتي. ژبه یو اځې په کوښي ډول لکه چې په کوټه کې د منې ونې شنه کولو سره باغ نه جوړېږي او نه منې یې ډېر خوک خوړلای شي او نه هم پرې راکړه کولای شي ، هم په کوښې هلو ځلو باندې نه یو اځې دا چې نه ساتل کېږي بلکې له مرګه هم نه ژغورل کېږي. وده او پرمختګ خو لا پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ به زه د پښتو ټولې برخې په خپل آند د څېړ او توکي په کارولو چاپېريال کې ووښم او وروسته به يې د سمبالولو او بازار په څېړنيزو پوهنو په رڼا کې وڅېړم او د ودې لارې چارې به يې د چلوونکو او خوځونکو په مرسته وڅېړم. د دې تر څنګ به د نورو ژبو د راژوندي کولو او وده ورکولو تجربې هم وڅېړم او وبه ګورو چې موږ د نورو د تجربو څخه څه ګټه پورته کولای شو.

نو اوس دا دی چې ستاسو په وړاندې دا ټولګه تياره ده.

## په درناوي

## انجينير فهيم پښتون وردګ

## لندن نومبر ۲۰۱۰-ليندۍ ۱۳۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ناپوهۍ کې لويه تېروتنه !

خدای زده دا سپکه نغاره د پښتو او پښتنو کوم غليم پيل کړې وه چې ګواکې پښتو سخته ژبه ده، نن سبا د ډېرو په لوړو تخنيکي او مسلکي پوهو سمبالو ځخه اوربدل کېږي او دوی هم همدا وايې چې ولا چې که رېښتيا و وايو نو پښتو ډېره سخته ژبه ده٠ او له بده مرغه دا شمېره په لوړو زدکړو سمبالو کسانو نن سبا په ډېرېدو ده٠ دې کسانو کله کله هغه توکه را پياد شي چې وايي په خپل رنګ کې کوټ شوې لاليه !

او ځينې يې بيا خو کله کله په ډېره ناپوهۍ سره دا په خپلو ليکنو کې هم راوړې او د خپلې داوې د جوتولو لپاره بيا يو څو له ګېډې بېلګې هم راوړي٠

دا يو ځل بيا هم وايم چې دغه د پښتو او پښتون وژنې او سپکونې ګيدړه نغاره چې چا ډبولې ده دا تر اوسه هم د ځينو پښتنو لخوا هم په ناپوهۍ کې ډبول کېږي٠

د دې سره زما خپل لومړی تېس په ماشومتوب کې راغی چې پښتو سخته ژبه ده٠ نو دې خبرې ما ته خو لومړی خوند پدې راکړ چې ګواکې زه خو نو بيا تر تا ځخه ډېر ښه يم او پوه يم او ان همدا خبره چې په ټولګۍ کې په لومړۍ شمېره هم يم٠ نو دا خو بيا د پښتو برکت شو چې ما دا سخته ژبه زده کړه نو هر څه کولای شم٠ نور مې سر پرې نه خلاسېدو خو مدام به مې دا په سر کې ګرځېدل چې دا رېښتيا ده که هسې او تې بوتې دي چې پښتو سخته ده؟

بيا چې په ځوانۍ کې هم د دې سره مخامخ شوم٠ نو د دې خبرې ځواب خو همدا ؤ چې بيا خو نو د وياړنې ځای دی چې زه د دې پښتو په برکت مدام په خپلو سبکونو کې بريالی يم٠ خو دا پوره ځواب نه ؤ٠ همدا سې دا خبره مې د پښتنو له خولو ځخه په ډېرو ځايونو کې اورېدله٠ نو چې کله پېښور ته ولاړو نو هلته مو وليدل چې هلته د وخت په تېرېدو سره ډېر دا سې کسان ول چې پښتو د هغوی مورنۍ ژبه نه وه خو ورو ورو يې زده کړې وه٠ او ډېر په روانه يې پرې خبرې کولې٠ ان ارب (عرب)، ترکان، انګرېزان او نورو غربيانو په پښتو خبرې کولې٠ ما به کله کله دنړۍ بېلابېلو هېوادونو ځخه ، لکه چين، هند ، ايران، روسيه، بريتانيا چې کومې راډيويي خپرونې کېدلې او دا بيا ډيرې د دغه هېوادنو خپل وګړي ول چې خبرونه به يې لوستل، نو ماته بيا دا پوښتنه را پيدا شوه چې بيا که دومره سخته وای نو دې خلکو څرنګه زده کړه؟

خير دا لړۍ روانه وه٠ نو کله چې ما په لندن کې برېتانويانو ته د پښتو ژبې د ښونې لپاره کار پيل کړ نو بيا هم د دې خبرې سره مخامخ شوم چې پښتو سخته ژبه ده او په ډېرو کړاوونو او ستونځو زده کېږي او دا به کله کله هېڅ هم نه زده کېږي٠ او دا خبره خو انګرېزان او نور خو لا پرېږده چې ان هغو پښتنو کوله چې د ډاکټرۍ او ماسټرۍ او لوړو زدکړو ځښتن ول٠ ارمان ارمان چې د وی خو خپلې زده کړې په نورو تخنيکي برخو کې کړې وې٠ او د ژبې په هکله يې کوم مالومات نه درلودل٠ دوی يو اځې په دې چې پښتانه ول او پښتو او لږ ماته ګوډه انګرېزي يې زده وه نو دوی هم په کې د پښتو ژبې ښوونکي ول٠ نو دوی به دا خبره کوله چې پښتو سخته ده٠ او کومو هغو پښتنو چې په پښتو کې ماسټرۍ او ډګری اخيستې وې هغوی بيا پدې کې چې نه هم چا پوښتل او نه هم دوی دومره سر پرې خوږولو چې د دوی دا په ماغزو کې ناسته پردۍ دوره لرې کړې٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لندن کې مې په دې باندې ډېرې تودې خبرې اترې او مرکې او ان شخړې کړې دي. نو د دې لپاره چې زه د دې پوښتنو لپاره ځوابونه وموممم نو زه هم په نابېره ډول د ځو پېښو سره مخامخ شوم.

کوم وخت چې ما د ډيورنډ مرداري او دوغسي کرښې په اړه پلټنې کولې دا راته په ډاګه شوله چې کومو انګرېزانو چې په کوزه پښتونخوا کې کار کولو دوی ډېرو يې پښتو زده کړې وه. اوان اوليف کېرو چې د انګرېزانو د امپراتورۍ په وخت کې د پېښور والي هم پاتې شوی ؤ هغه د خوشال خان خټک شېرونه او دېوان په انګرېزۍ اړولی ؤ. نو دا ولې.

را به شو دې ته چې ژبه ولې ګرانه او اسانه وي. هغه ژبې چې يو بل ته ورته والی لري او د يوې مور ژبې ژبې څخه راوتلې وي نو په هغه کې دغه د وييلو ټکي سره ورته والی لري. خو دا ورته والی د دې مانا نه لري چې ګواکې دا اسانه او يا هم سختې وي. په نړۍ کې هېڅ داسې ژبه نه شته چې سخته او يا هم اسانه وي. ځکه چې هره ژبه د هغه چاپېريال او د ولسونو د ودې او اړيکو پايله ده. په اسکيمويي ژبه کې نېږدې د وارې لپاره نوي که نه نوي نومونه دي. هغه هېوادونه چې د سمندر سره نيژدې او سېږي هغوی د کبانو او چومچيو ډېر ډولونه پېژني. نا دا خو د ژبې سختي او اسانې نه شوه دا ځکه چې دوی ټول پرې په ډېره اسانۍ خبرې کوي او د چا خبره ان ماشومان يې پرې خبرې کوي.

دلته په لندن کې د ډېرو هېوادونو خلک شته چې دوی د برش او ځلوښت کلونه يې په دې هېواد کې تېر کړي دي او ډېر ښه کارونه هم لري خو بيا هم د انګرېزۍ په ژبه پوره نه پوهېږي او داسې د انګرېزۍ ټکي شته چې دوی يې اوس هم وييلای نه شي. نو خو بيا انګريزي ډېره سخته شوه که څنګه؟

زه دا بېلګې د ډېرو هېوادونو د خلکو د انګرېزۍ په هکله او د نورو ژبو په هکله دلته را واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د کوم هېواد اوسېدونکي | د انګرېزۍ او یا بلې ژبې تکي | د دوی په ژبه | توپیر | پایله |
|---|---|---|---|---|
| عربان | Potato<br>پوټېټو | Botato<br>بټاټو | P changed to B<br>او پ اړول ت ته | دا ځکه چې په اربۍ کې پ او ټ نه شته |
| سریلانکایان، نېپالیان | Sugar<br>شوګر | Soogar<br>سوګر | Sh sound changed to s<br>ش س ته اړول | دا ځکه چې دوی داسې ورته تکی نه لري. |
| ډېری افغانان | McDonalds<br>مکډانلډز | Macdunas<br>مکدونس | L and D sound omitted<br>د ل او ډ غږونه پرېښودل | دا ځکه چې په افغانستان کې داسې تکي نشته |
| پاکستانیان، هندیان، سریلانکایان، بنګالیان او پښتانه | Love | Lowe<br>لو | V is changed to W | دا ځکه چې د دوی په ژبه کې دا تکي نه شته چې زه یې هم نه شم لیکلای ! |
| انګرېزان | Beijing, | Peking | B is changed to P and J to K | دا ځکه چې دوی ورسره نا اشنا ول |
| انګرېزان | Mumbai, | Bombay | M is changed B | دا ځکه چې دوی په خپلو لیکنو کې ورته پام نه کولو او هم نا اشنا ول |
| انګرېزان | کونړ | کونر | | |
| انګرېزان او ډېری غربیان | ړ، ڼ، ښ، ږ، خ، غ، ځ، څ | ر، ن، ک یا ش، ګ یا ج، ک، ګ، ز، س | | دا ځکه چې د دوی په ژبو کې دا تکي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | نه شته. |
| اروپايان | Warwick, Cheswick,<br>چېزېک | War wik, Chez wik,<br>چېز وېک | W sound is created.<br>د واو غږ ورته زياتوي. | دا ځکه چې دوی ورسره اشنا نه دي. |

Figure 1 انځور شمېره۲ د څو ژبو د توپير بېلګې

د دې لنډو بېلګو مانا دا نشوه چې يا دا ژبې سختې دي او يا هم دا خلک د دغو هېوادونو نا پوهه دي. دا د ژبو د غږونو او وېينو او ګړ ( Sounds, words, grammar, spellings ) ځانګړتياوې دي چې په زرونو ،لکونو او ان مېليونونو کلونو کې يې وده کړې ده او دا وګړي د دغو هېوادونو پرې ګړابې.

نو په همدې سره زما شخړه د نورو پښتو ژبې ښونوکيو او انګرېزانو سره په همدې راغله او دوی ته مې دا ووېيل چې دا بېلګې . بله خبره د پښتو دا ده چې د هغې ګرامر يا پښويه نه سخته ده او نه هم د ستونځو ډکه، بلکې د پښتو ژبې پښويه او يا ګرامر ډېر ښه په زړه پورې او خپور او مکمل

( detailed and complete ) دی. دا اړينه نه ده چې د انګرېزی په شان دې وي. ايټالوي ژبه، اربي يوناني ، روسي، هندي، نيپالي او داسې ډېرې نورې ژبې شته چې پښويه يا ګرامر يې پښتو ته ورته دی. نو زموږ خلک او په ځانګړې توکه د پښتو ژبې ښوونکي چې په برېتانيا کې د پښتو ژبې ښوونه کوي نو دوی سملاسي هر څه کټ مټ په هره برخه کې انګرېزی ته اړول غواړي چې دا شونی نه دی نو بيا دې پايلې ته ورسېږي چې ولا د پښتو ژبه خو سخته ده. دا نه وايي چې ما خو نه هم د پښتو پښويه او نه هم د انګرېزی پښويه سمه زده ده. بس اسانه لار همدا ده چې پړه په پښتو ورواچوه. او ځان خلاس کړه.

دا پردی دوړې زموږ ګاونډيانو په ځانګړې توګه، ايران ، پاکستان او اربو پر موږ لاسي شنلي او خوسا نغاره يې راته ډنګولې ده چې ګواکې پښتو سخته ده. دا پردی نغارې هم بندې کړئ او هم دا پردی دوړې له ځانه لرې کړئ !

پښتو يوه خوږه ژبه ده او ددې ودې لپاره به دا اوسنی ځېرنه د تاسو زړونه هم تازه کړي او هم زړور !

## بله ستونځه؛

که تاسې بله هره ژبه زده کوئ نو د دهغې ژبې دود ېز وېيونکي به ستا په هره غلتی باندې په ډېره مهربانی ، نرمښت او زغم تا سره مرسته وکړي تر څو ستا غلتي در سمه کړي. دا موږ په ډېرو هېوادونو کې ليدلې ده. او دا يوه روښانه خبره ده چې ټول پښتانه په دې پوهېږي او ورته تجربه هم شته. خو زموږ پښتانه په ډېره خواشينی سره ووايم چې دوی هر هغه څوک چې پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کوي نو ملنډې پرې وهي. دا خبره ان زموږ په مشرانو ، پوهانو او لیکوالانو کې ډېره ژوره ده. زه به خپله تجربه دلته دا سې بیان کړم.

یوه ورځ ۲۰۰۹-۱۰-۱۰ په لندن کې لیکوالانو یوې ټولنې یوه غونډه جوړه کړې وه چې په هغې کې دوه برخې وې. یوه برخه کې یې د اوستاز کاکړ یو کتاب د انګرېزۍ څخه پښتو ته ژباړلی و په هغه کره کتنه کوله او بله برخه یې شاعرۍ ته ټاکلې وه. نو د کره کتنې په برخه کې هر چا خبرې وکړې. خو ما هلته په کتاب کې د کره کتنې هېڅ هم ونه لیدل چې یو چا دا وبیللي وي چې په دې کې دا سند کم دی او یا هم دا خبره لنډه او یا هم اوږده شوې او یا هم دا غلت دې او یا دا نا سم دې. یوائې یوه وینا وال دا یادونه وکړه چې په کره کتنه کې یې یوه رنګ و چې هغه هغو ستونځو ته ګوته ونیوله چې هغه په ریښتیا هم د نیو کې وړ وو. لکه د کاغز خراپ والی، په ژباړه کې ځینې ستونځې، د نومونو نا سمه ژباړه، او د انځورونو نشتوالی.

خو یوه هم دا ونه وبیل چې لیکوال څه تاریخي سبک او یا درس زده کړی او موږ او راتلونکو نسلونو ته یې څه مشوره ده. او یا هم د دغو لیکوالانو او کره کتونکو څه زدکړه وکړه او څه سبکونه کاړل په کار دي. چې بیا ما دا پوښتنه وکړه.

او په دې برخه کې ځېنې نورې خبرې هم وشوې چې تاریخ بایده چې زده کړوو او موږ سیاست وکړو ، او دې ته ورته خبرې. ماسره ځېنې پوښتنې وې چې غوښتل مې دا پوښتنې وکړم. او همدا شان مې غوښتل د دغې غونډې ګډونوالو ته یو څه وړاندې کړم. په ځانګړې توګه د احمد شاه بابا په نهو جرګو ټاکل کېدل او بیا د جرګو واک کورني کېدل. خو دغه برخه ژر خلاسه شوه او ما ونه شو کولای چې پدغه برخه کې یو څه د ګډون کوونکو سره شریک کړم. په غونډه د پوهاند سبب کاکړ په وینا کې یوه ټکې زما پام ډېر را واړواه ته چې په دغه برخه کې ځای نه و. په غونډه کې ما یو څه لیکلي وو چې دوی ټولو ته مې په ښکاره ووبیل چې دا د زړه براس دی دخپل ولس لپاره. ما دوی ته هم ووبیل چې د خدای لپاره دا زه کوم شایر ماير نه یم دغه یوه ټوټه ستاسې مخ ته وړاندې کوم چې د زړه هال دی.

نو چې زما په خیال لړ اوږد شو او ځینو لکه چې نور څه په زړونو کې وو نو دا زما خبرې یې غوځې کړلې او په سپکو سپورو یې شور په تور ګډ کړ. ما ته ولا چې ډېره ایرانتیا راغله او ډېر یې نور هم خپه کړم. نو ما دوی سره ډېر زغم وکړ. ما دوی ته ووبیل چې که په دې که څه ستونځه وي نو ما سره مرسته وکړئ. او یوه ته چې ځان یې ډېر اوچت اوچت کولو نو هغه ته مې هغه پاڼه ورکړله چې ګرانه مشره ته دا در سره راته سمه کړه او ستا به زه ډېر درننبت کوم ټول اومر. هغه چې هماغه ورځ ما ولید بیا مې نه دی لیدلی او هغه زما د زړه براس یې هم ځان سره ورک کړ.

نو ما بیا ملګرو ته ووبیل چې دا یې هم بو لامل دی چې پښتو وده نه کوي. دا ځکه چې که دلته کوم بل څوک د بلې ژبې وای نو هغه ټول اومر هم کرکه کوله د پښتو ژبې د زده کړې څخه او هم په ډار کې وو چې ولا که زه کومه تېر وتنه په پښتو کې وکړم نو دا پښتنانه به رانه خرمن وباسي. نو زما د پښتو د ښېرنې لپاره نوره هم ژمنه کلکه شوه چې بایده چې موږه د ستونځو هوارولو لپاره همدا ښېړنه نوره هم پراخه کړوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library






**Figure 2** انځور شمېره ۳ د ستراتیژۍ لپاره یوه کرښه.

دا د ټولو ژویو او په ځانګړې توګه د انسانانو دژوندي پاتې کېدو او ښه ژوندانه کولو یوه لویه اړتیا ده چې له یو بل سره اړیکې ونیسي او هم یې وساتي او د دې اړیکو لویه برخه په ژبه باندې کېږي. څرنګه چې ژبه دغه اړتیاوې پوره کوي نو زه ورته د څیز، توکي یا پراډکټ په سترګه ورته ګورم. د بازار په پوهه کې توکي او یا خزمتونه یا خو ستنه یا ځان لرې او یا یې هم نلري. هغه څیزونه چې مونږ په بازار کې اخلو لکه منه ، موټر، کالي، کور او داسې نور چې دا ستنه لري. خو داسې نور توکي او څیزونه شته چې مونږ هغه په کاروو خو ستنه یا ځان یې مونږ سره نه پایي کېږي، لکه د بانکونو ، سپر کول، زده کړه کول، او هوټلو کې شپې کول. او کله چې یو توکی یا څیز یوه اړتیا پوره کوي نو هغه وړاندې کولو ته تیارېږي. همدا اړتیا ده چې په غوښتنه بدلېږي. لکه د سپماوي (اقتصاد ) په پوهه کې چې دې ته غوښتنه او وړاند ېینه او یا رسول دي (Demand and Supply) . هره هغه اړتیا چې په غوښتنه واوړي نو غوښتنه به یو څوک په ټولنه ځوابوي چې توکي او څیزونه به ورته رسوي. نو زه هم دا اړینه بولم چې پښتو مونږ د دې اړخه چې د یو څیز یا توکي د بازار په چاپېریال کې وڅېړوو چې غوښتنه او اړتیا او رسول یې څنګه دي. او چې کله مو پدې چاپېریال کې وڅېړله نو هیله چې وکولای شو چې پښتو د بازار د پوهنې په رڼا کې د SWOT(Strength, Weakness, Opportunity, Threat) and PESTLCR(Political, Economical, Social, Technological, Legal, Cultural and Regional) او څواکمنتیا ، کمزوري، فرست، او ګواښونه یې وڅېړو او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونځې چې په ټولنه ورته پېښې دي او يا هم کومې ځواکمنتياوې چې لري په سياسي، سپماوي (اقتصادي)، ټولنيز، د ټکنالوژۍ، نرخ (قانون)، کلتوري او سيمه ايز څېړنيز چاپېريال کې وڅېړو او د سمبالولو او بازار د پوهنو په رڼا کې ورته سمې لارې چارې د هغه د پر مختګ او ودې لپاره ومومو.




انځور شمېره ۴ د پښتو ژبې دوه اړينې برخې Figure 3

ژبه خپله چې کله په دې ټولګه کې راغله نو دا به سمه وسپړو چې د دې کومې کومې برخې دي. او څه ځانګړتياوې لري. زما په آند ژبه دوه برخې لري، چې کېدای شي ما سره ځينې خلک پدې کې مل او ځينې بيا مخالف وي چې زه ورته تل درنښت کوم.

لومړۍ برخه يې اره يا اسلي برخه ده او دويمه يې مرستندويه برخه ده. لکه څرنګه چې نور څيزونه او خزمتونه همدا دوه برخې لري. آره برخه هغه برخه ده چې د اړتيا لومړنۍ ځوابوونکې ده. لکه د موټر او الوتکې آرې برخې يې د دوی ځانونه، ماشينونه، څوکۍ او مرستندويه برخه يې تېل راوړل، چلول، ورته پرزې جوړول او داسې نور. او يا هم د فلم اره برخه يې کيسه او لوبغاړي، ژبه او د ولولو سمبالول دي خو مرستندويه برخه يې، سينما، چاپېريال، تلويزيون، راډيو، اخبار، ډي وي ډي، سي ډي پيټې او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library








Figure 4 انځور شمېره۵ د پښتو ژبې اړې برخې بېلګیزه.

د پښتو اره برخه زما په اند دوه برخې لري. چې یوه یې همدا بنستیز توکي لکه د شیانو او څیزونو نومونه لکه موټر، مالګه، ونه، منه، غر، مرغۍ او داسې نور او هم ټکي او توري، لکه غیرت، هېواد، جګړه، لور، راتلل، تلل، تور، سپین او نور ټول.

او بله برخه یې همدا د پښتو ادبیات، هنر انځور، او ددوی برخې دي. چې لږ څه وروسته به یې وسپړو او پرې به خبرې وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**Figure 5** انځور شمېره ۲ د پښتو د ادبياتو ښېلګېزه

د سمبالولو له اړخه چې ورته ګورم نو د پښتو بله اسلي او آره برخه بيا نو د پښتو ادبيات جوړوي. ادبيات د تاريخ په اوږدو کې د پېړيو پېړيو د ژوندانه په پړاوونو کې د بدلونونو او نوښتونو تر اغېزې لاندې خپله لاره وهلې ده. لکه چې موږ ورته ګورو په پښتو ادب باندې د دود دستور، هنراو انځور، کيسې، د نورو کامونو اغېزه، او تارېخي او طبيعي او د چاپېريال پېښو د اغېزې په ترڅ کې خپلې ګټورې او تاواني نښې پرېښې دي. دلته ما ته يو څيز چې ډېر د پام وړ دی هغه د هر وخت دود دستور او هنر او انځور دی چې د راتلوونکې ادب شا تير او شا ځمکه او ان چاپېريال جوړوي. همدا دود دستور، او هنر او انځور دی چې د ژبې آر برخې دي چې اغېزمنې کېږي او بدلون مومي. چې دا بدلون د يوې ژبې لپاره ژوند او مرګ، وده او شاته تګ ور پر برخه کوي.

زه دلته د دې لپاره چې د بازار او سمبالولو په رڼا کې دا وڅېړم نو اړيم چې هر هغه څه چې شتون لري په هغه باندې څېړنه وکړم. او د پښتو ژبې همدا برخې لکه دود دستور، هنر انځور او رسمي او نا رسمي برخې دې تر څېړنې لاندې ونېسم.





**Figure 6** انځور شمېره ۷ د دود دستور او هنر انځور ښېلګېزه د پېشن څخه

د ما په آند د دود دستور د هنر او انځور برخې لومړی به په پېنځو برخو کې ووېشم. دا برخې پدې پاس ډول دي: لکه پدې پاسني ښېلګېزه کې:

اتڼ، موسيقي، فلم او ډرامې، ننداره، او انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ټولنو اوس کولای شو په ټولنه کې د بېلابېلو څېزونو او شیانو په چوکاټ کې و څېړو. خو چې دا څېړنه مو ژوره شي دې ته اړ یو چې دا په څلورو چاپېریالونو کې وڅېړو. لکه دا پاسني بیلګیزه کې چې یو اڅې، کور، کلی او ټول هېواد او نوره نړۍ.

تر هر څه لومړی چاپېریال همدا یو انسان دی. دا انسان دی چې یو څیز ته اړ او بیا یې غوښتونکی شي او بیا وروسته یې رانیوونکی او مسرپوونکی شي. د دې چاپېریال چې د پښتو اسلي پکاروونکی او مسرپوونکی دی او د سمبالولو تر ډېرې زښت زیاتې پام لرنې لاندې دی، څېړل ډېر اړین دی. او پر ده باندې د پښتو ژبې د برخو اغېزه او د ده ورسره مینه او بیا همدا د غوښتنو او رسولو په چوکاټ کې کتنه د ما د څېړنو آره برخه ده. تر څو وکولای شم چې تر څېړنې وروسته ورته سم او پوره د پوهنې په رڼا کې د ودې لارې چارې ومومم.

دویم چاپېریال د پښتو د ژبې د برخو پکارولو او راکړې ورکړې او اړیکو لپاره کور دی. د دې چاپېریال هم څېړنه ډېره اړینه ده. ځکه چې زموږ په ټولنه کې کور لومړنۍ ټولنیزه ټولګه ده چې د ژوندانه هر برخه دلته پکارول کېږي او د کلتور دود دستور او هنر او انځور او ان رسمي او نا رسمي برخو د ژبې لپاره لومړۍ ځانګو او ژرنده ده. دلته هم موږ به د همدې ټولو څېړنیزو برخو به مرسته به د ژبې د اسلي او مرستندویه برخو څېړنه کوو. چې په لومړي سر کې به د آرو برخو یا نې د دود دستور برخو څېړنه به وکړم. وروسته به د نورو برخو څېړنه به هم د کور په چاپېریال چې وکړم چې تر څو وکولای شم چې د ځواکمنتیاوو، کمزورتیاوو، پرستونو، او ګواښونو پېژنده وکړم. دا چې راته ښکاره شول نو د اړتیاوو غوښتنې او د رسولو کچه به راته جوته شي. نو بیا به وکولای شو چې څرنګه کولای شو کومو کلتوري، ټکنالوژیکي او یا نورو وسایلو او چلوونکو او هڅوونکو ځواکونو ته وده ورکړو چې دا په خپل وار هغه ژبې ته وده ورکړي او یا هم د ژبې کومې برخې ته وده په کومو ځواکونو ورکړو.

دریم چاپېریال بیا کلی دی. چې د دې څېړنه په لړلویه کچه باندې وکړم. او د دې څېړنه همداسې به وکړم لکه د کور. او،

څلورم څاپېریال ټول هېواد او نوره نړۍ دی. د دې توپیر د لوی والي او د نورو ژبو ځواکمنتیا او د نورو تجربې دي چې د دې څېړنه هم ډېره اړینه. ځکه چې دلته هم موږ کولای شو چې بیا د پښتو ژبې د ټولو برخو لپاره هماغه د غوښتنو او رسولو مهمه او اړینه خبره او مساله باندې پوه شو. چې د دې ټولو په رڼا کې به بیا د دوی لپاره د ستراتېژۍ جوړولو او پیاوړتیا لاس ته راوړلو لپاره هر څه ولروو او ستونځې ورو ورو هم وسولول شي او هم د وخت په تېرېدو سره په ځواک او پیاوړتیا واړول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library








Figure 7 انځور شمېره ۸ د پښتو ژبې مرستندويه برخې بېلګيزه·

د ژبې بله برخه چې ما دلته په خپله ليکنه کې ورته مرستندويه برخه وبيلې ده دا لږ شانته کړکېچنه غوندې ښکاري· ځکه چې ځينې پوهان به ورته د ژبې د آرې برخې په توګه ګوري·دا خو رېښتيا خبره ده ،چې دغې برخې ته چې زه مرستندويه وايم، چې دا د ژبې د بنسټيز اړتيا او مينځ ته راتلو لامل دی، خو اوس مورږ د هغه پړاو څخه دغې پړاو ته رسېدلي يو چې اوس ژبه په همدې دوو برخو وېشل کېږي· په همدې دليل او په ډېر درناوي دې نورو ته چې بل خيال لري ، او بله دا چې زه دلته دې ته مرستندويه برخه وايم ځکه چې دلته دا ژبه نه چې موخه ده بلکې دلته موخې نورې دي او ژبه يوه وسيله ده· ځکه چې دا افغانان چې کومې موخې لري هغه د يو رسمي او يا هم نا رسمي کار سرته رسول وي ، لکه د پاسپورټ اخيستل، يا د ولسمشر يو امر چې پلانی سړی د والي وټاکل شي ، او يا هم د دوکان څخه د ختکو رانيول او همداسې نور· نو دلته دا افغانان خو چې ژبه دلته پکاروي دا د ژبې آره برخه نه ده بلکې د ژبې څخه کار اخيستنه ده· نو اوس خو لومړی ژبه شته چې پکار وا چول شي نو د دې پکار اچونه دلته د ژبې د ودې او نا ودې لپاره مرستندويه برخه جوړوي· او ژبه په رسمياتيو او نا رسمياتيو کې چې پکارول کېږي نو دا د ژبې لپاره مرستندويه برخه جوړوي· او د دې برخې څېړنه هم د اسلي برخو په څېر وکړم· چې هلته هم به د څېړنيزو وسايلو څخه په کار اخيستلو سره به د پښتو ژبې لپاره هماغه د اړتياوو ، غوښتنو او رسول او او اړتياوو ته د ځوابولو بنسټيزه پوښتنې ته ځواب ومومو· خو د رسمي او نا رسمي برخو چاپېريالونه به لږ څه توپير ولري، خو څېړنيز وسايل هماغه دي·

مخکې تر دې چې د ژبې برخو ژوره څېړنه پيل کړو نو دې ته اړ يو چې خپله ژبه لومړی د ستراتېژۍ د پوهې په بېلګېزه (ماډل) کې وڅېړو·

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځور شمېره ۹ د مايکل پورټر د هېوادني الماسي ېېلګيزه **Figure 8**

مايکل پورټر د ستراتېژۍ پوهاند دا ماډل د سياليو د کچې او په يوه هېواد کې د سوداګرۍ لپاره جوړ کړی دی. هره هغه کمپنۍ يا شرکت چې وغواړي په هماغه يا يو بل هېواد کې خپل کار او اغېزمن توب وازمايي نو د دغه ماډل يا ېېلګيزې څخه په کار اخلي تر څو هر څه ځان ته جوت او د ځان اغيزمنتوب پدې چاپېريال کې مالوم کړي. دا د څېړنې ماډل څلور برخې لري. چې د غوښتنو حالات ،د کاروبار ورته او مرستندويه برخې، او د شرکت ستراتېژي او سيالۍ ذکر.

نن سبا چې دا لوی لوی شرکتونه او د کاروبار خلک په چين، هندوستان، کوريا ، سنګاپور او داسې نورو هېوادونو کې فابريکې او د جوړولو مرکزونو پرانيزي، دليل يې همدا دی چې د مايکل پورټر د همدې ماډل څخه په ګټه اخيستو دوی ته دا جوته شي چې هلته د دوی د کاروبار لپاره سم او ګټور ځای دی او کنه؟

د بېلګې په توګه، د کمپيوټر او کامرو جوړوونکي کمپنۍ لکه، سوني، کنن، توشيبا ، او د موټرو جوړوونکي لکه فلوکس وګن، ټويو ټا ، او داسې نور په سل هاوو غټ غټ شرکتونه چې ګورو ټولو همدا څېړنه پدی ډول کړې ده.

په چين کې دا څلور واړه برخې د دوی لپاره په ګڼه ګټورې دي.

## ۱: د غوښتني شرايت او حالات

هلته خپله په چين کې د ولس شمېره يو زر او درې سوه مېليونه ده چې دا ټول اوس د سپماوي (اکتساد ) له پلوه په ښه کېدو دي. او په چين کې نږدې څلور سوه مېليونه خلک په ښارونو کې اوسېږي چې دا خلک په ډېره ښه توګه ژوند کوي. دا پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چين دننه لپاره او همدا شان چې کله دا شرکتونه نړيوالو غوښتنو ته ګوري نو په نړۍ کې غوښتنه مخ په زياتېدو ده، ګټور دی. چې د يو شرکت لپاره دا ډېر مهم دی.

## ۲: د کاروبار ورته او مرستندويه برخې:

د دغو شرکتونو لپاره دا ډېره مهمه ده چې دوی ته دا پته ولګېده چې هلته په چين کې ورته او مرستندويه برخې د بېلګې په توګه د ټوشيبا لپاره، د پرزو جوړونکي شرکتونه د پلاستيکي پرزو لپاره د پلاستيکو جوړولو د فابريکو کاروبار د برېښنايي پرزو لپاره د برېښنايي پرزو جوړولو فابريکو کاروبار او داسې نور. هلته شته. ځکه چې دا سې په نړۍ کې هېڅ شرکت نشته چې ټول او هر څه په خپله وکړي.

## ۳: د رسد او خامو موادو او ځواکونو شرايط:

د دغو شرکتونو لوی لاملونه دا ول چې د دوی په خپلو هېوادونو کې رسد ډېر ګران شوی ؤ. نو په چين کې دا د جاپان، امريکا او اروپا پر پرتله ، خام مواد ، مزدور ، رسد ډېر ارزانه دی. د دې ترڅنګ هلته په چين کې د مالوماتو هر څه په پراخه کچه بنستيز شوي دي لکه د انټرنېټ، ټېلپون، راډيو ، تلوېزيون، او داسې نور چې د مالوماتو لېږدول او اړيکې نيول ډېر ګړندي کولای شي. د دې تر څنګ د پانګه اچونې شرايط او په چين کې د سمو لارو شتون، دا ټول د دې شرکتونو لپاره هر څه ګټور وبلل شول.


## ۴: د شرکتونو ستراټېژۍ او سيالۍ ډګر او متلب:

د نورو شرکتونو سره زړوره سيالي کول دا خو د ازاد بازار يوه ډېره مهمه خبره ده. دا شرکتونه به هم د چينايي شرکتونو سره او هم د نورو شرکتونو سره به د سيالۍ لپاره ځان چمتو کوي او د سيالۍ کولو لپاره به کړنلاره او ستراټېژي جوړوي. چې د ستراټېژۍ جوړول ټول د دغو شرکتونو د پانګو ، وړتياوو او لورليدونو پورې تړلي دي.

نو موږ وکتل چې دې لوی لوی شرکتونو هم په خپل کور او هم په نورو هېوادونو کې د دوی لپاره د نورو څېړنيزو وسايلو تر څنګ دا د مايکل پورټر له هېواد يز څېړنيز بېلګيزې څخه په ګټه اخيستو وکولای شول چې هلته د پښې ايښودو وروسته ډېره ګړندۍ وده وکړه او تر نن پورې د پرمختګ په لور په پايښتي ډول تر يوه وخته روان دي. د دې نه د ما موخه او هدف دا ؤ چې پښتو هم پدې بېلګيزه (ماډل) کې چې واچوو او وګورو چې پښتو د دغو پوهنو په رڼا کې په کوم ځای کې ولاړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځور شمېره ۱۰ د مایکل پورټر د بېلګیزې څخه د پښتو ژبې هېوادني برخې لپاره بېلګیزه. **Figure 9**

## ۱:	د غوښتنې شرایت او چاپېریال:

په بر او کوز افغانستان کې د افغانانو د غوښتنې چاپېریال ته چې موږ ګورو نو وینو چې دلته د پښتو ژبې او کلتور د اکسره برخو غوښتنه ډېره کمزوره ده. د بېلګې په توګه په ا و یا مېلیونه پښتنو کې څومره پښتانه د خپلې ژبې او کلتور غوښتنه کوي دا د پوښېنې وړ خبره ده. د هر پښتون کور ته چې ورشې نو ۳۰-۲۰ په سلو کې به د پښتو د ژبې او کلتور شیان او توکي (پراډکټس) وموموې نو که بیا چېرې د هغو پښتنو کورونو ته ورشې چې دوی په ښارونو او بهرنیو هېوادونو کې ژوند کوي نو د دوی په کورونو کې به ۵ په سلو کې هم د پښتو د ژبې او کلتور شیان ونه مومې. په ځانګړې توګه هغه کورنۍ چې دلته په اروپا کې یې وخت ډېر تېر کړی وي.

هغه ځوانان ،افغانان ، که د برې ا و یا هم د لرې پښتونخوا وي، چې دلته په لندن کې او سېږي دوی د پښتو کلتوري توکي ډېر اخلي او مینه یې ورسره ډېره شوې ده. د لندن په سوتهال کې چې کوم د کسټونو خرڅولو دوکان دی هلته د پښتو ژبې کلتوري توکي، لکه سندرې، اتڼ، ننداري، ډرامې، فلمونه او داسې نور ۵٪-۷۳ پورې خرڅېږي او دا نور یې د نورو ژبو او کلتورنو توکي دي. چې دا یو ډېر ښه پرمختګ دی. دا پرمختګ پدې پېنځو کلونو کې شوی دی. چې پېنځه کاله پخوا دا په بل مخ ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په نورو هېوادونو کې دا بيا په بله کچه يا ډېره تيته کچه دي. يواځيني شيان چې نن سبا به درته په ګوته شي هغه هم د اتڼ ځيني کستېونه او يا هم کومې ډرامې چې په کوزه پښتونخوا ، پېښور کې ډ کې شوي دي، نور خو ټول د پښتنو په کورونو کې يا هم هندي، ايراني ، انګرېزي او يا هم پاړسي کلتوري توکي او شيان دي. دا خپله د غوښتنې کچه موږ ته را په ګوته کوي چې د پښتو ژبې او کلتوري شيانو لپاره څومره غوښتنه شته. دا د پښتنو د ژبې او کلتوري اړتياوو ځوابونه او رسول ورته هماغه هندي، ايراني، انګرېزي او هم پاړسي پوره کوي. دلته خو ما ډېره يو ځېړنه کړې ته چې ستاسې پام ورته راګرځوم. خو د پښتو ژبې د ليکوالانو او پوهانو سره چې زه اشنا يم نو ټول د دې نه سر ټکوي چې د دوی کتابونه ، مياشتينۍ، اخبار او داسې نورې خپرونې ان خپل سر هم نه پوره کوي. دوی دا وايي چې ټول پښتانه ان بډای يې دا شيان خوشې غواړي. ان په دې لندن کې دا خبره پدې پښتنو کې شته چې دوی خو د دې پوره توان لري خو په کلتوري توکو باندې پيسې ورکول ورته ډېر ګران دي. خو که د دوی مېرمن، کورنۍ او بل غريزوي ځواکمن ورنه د بلې ژبې هر څه وغواړي نو دوی به ورته ډېرې پيسې هم مسرپ کړي. د بېلګې په توګه هندي، ايراني پلمونه، دهندي ، ايراني، غربي او ان عربي او يا بل تلويزوني چينلونو په ۲۰-۳۰ پونډونو د مياشتې کرايه کول. يواځيني شيان چې نن سبا به درته په ګوته شي هغه هم د اتڼ ځيني کستېونه او يا هم کومې ډرامې نور خو ټول د پښتنو په کورونو کې يا هم هندي، ايراني ، انګرېزي او يا هم پاړسي شيان دي. دا خپله د غوښتنې کچه موږ ته را په ګوته کوي چې د پښتو ژبې او کلتوري شيانو لپاره څومره غوښتنه شته. دا د پښتنو د ژبې او کلتوري اړتياوو ځوابونه او رسول ورته هماغه هندي، ايراني، انګرېزي او هم پاړسي پوره کوي. او داسې نورې بېلګې. دلته مې يوه ورځ د پښتو ژبې ا و ادب ډېر ښه ليکوال شهسوار سنګروال نيازي سېب سره په ټېليپون خبرې کولې نو ده خو ان تر دې سر وټکولو چې د کور د ډوډۍ په پيسو باندې دا کتابونه او شمله خپروي خو پښتانه بيا دې ته د مسرپ پيسې هم نه ورکوي !

## ۲: د کاروبار ورته او مرستندويه برخې:

د پښتو ژبې او کلتوري برخو د ودې لپاره ټولې مرستندويه تخنيکي برخې شتون لري خو هغوی ټولې د نورو ژبو او کلتور په چوپړ کې دي. مېډيا شته، د چاپولو کاروبار شته، د ټولو هغه کاروبارونو لپاره چې په کلتوري او ژبني برخو کې پرزې جوړوي، شيان او پوره کوونکي چې کار پر مخ بېولای شي شتون لري. په کليو کې ان ډېرې شته ، او د ولس جرګې لا ژوندۍ دي. مونږ بايده چې دې ته هم پام واړوو چې نن سبا دا مېډيا يا خبري رسنۍ لکه، تلويزيون، راډيو، تېليپون، وېب پاڼې او داسې نور څومره په چټکۍ سره وده کوي او څومره نور هېوادونه خپلې ژبې پرې بډای کوي، خو زموږ هېوادوال لدې څخه بې برخې او بيا هم د دوې مېډيا او د کاروبار وسايل د نورو لپاره کار کوي ځکه چې هغه د نورو ژبو پوره کوونکي کاروبارونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو په مينځ کې غوښتونکې، وړاندېکوونکې، او ان مينه وال لري. او د پښتو د کلتوري برخو پوره کوونکې هم د نورو ژبو مرستندويان دي. يوازې اوس ورځو کې په پښتنو کې د اتڼ ځينې کورسونه جوړ شوي دي.

نرخ (قانون) هم کومه مرسته نه ده کړې پدې برخه کې.

## ۳: د رسد او خامو موادو چاپېريال پانګونه او ټاکونکې:

د دغو شرکتونو لوی لاملونه دا ول چې د دوی په خپلو هېوادونو کې رسد ډېر ګران شوی ؤ. نو په چين کې دا د جاپان، امريکا او اروپا پر پرتله ، خام مواد ، مزدور، رسد ډېر ارزانه دی. د دې ترڅنګ هلته په چين کې د مالوماتو هر څه په پراخه کچه بنسټيز شوي دي لکه د انټرنېټ، ټېلېپون، راډيو ، تلوېزيون، او داسې نور چې د مالوماتو لېږدول او اړيکې نيول ډېر ګړندي کولای شي. د دې تر څنګ د پانګه اچونې شرايط او د په چين د لارو سم شتون دا ټول د دې شرکتونو لپاره هر څه ګټور وبلل شول. وبيونکې ژبه او د کلتور نورې برخې.

نو چې موږ دلته پښتو ته کتنه کوو نو دا لاندې ګوروو.

-ډېر کم پښتانه دې ته لېواله دي چې د پښتو لپاره يوه هڅه وکړي.

-کم شمېر خلک او په ځانګړې توګه پښتانه د پښتو د کلتوري او ژبنې برخو د تجارت په برخه کې. دلته به ډېرکم داسې افغانان وموندل شي چې هغوی ان په هېڅ کې شمېر دي چې په مېډيا ، سينما ، ننداره، تلويزيون ، سټوډيو او کتابتون او داسې نورو برخو کې پانګونه وکړي. يو ځل بيا د سنګروال سېب، شهرت ننګيال، او هاجي کريم سر ټکونو ته مو پام راګرځوم چې وايي چې پښتانه ورسره هېڅ مالي مرسته نه کوي ان د موادو په بدل کې.

-کمزوری شتون د بنسټونو. دا ځکه چې د پښتو لپاره ټول بنسټونه په کار ندي اخته او د نورو ژبو او کلتورونو لپاره کار کوي.

-د سمبالولو بنسټ هېڅ شته نه.

- دمالوماتو بنسټ ډېر کمزوری دی.

- پوهاوي او تخنيکي بنسټ ډېر کمزوری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴: د شرکتونو ستراتېژۍ او سیالۍ ډګر او انګړ:

د نورو شرکتونو سره زړوره سیالي کول دا خو د ازاد بازار یوه ډېره مهمه خبره ده. دا شرکتونه به هم د چینایي شرکتونو سره او هم د نورو شرکتونو سره به د سیالۍ لپاره ځان چمتو کوي او د سیالۍ کولو لپاره به کړنلاره او ستراتېژي جوړوي. چې د ستراتېژۍ جوړول ټول د دغو شرکتونو د پانګو، وړتیاوو او لور لیدونو پورې تړلي دي.

د پښتو لپاره خو کومه رسمي او یا نا رسمي ستراتېژي نشته ځکه چې یواځې په نرخ کې ورته د رسمي نوم ورکړل شوی دی او بس. د پلي کولو یا د پښتو لپاره کومه کړنلاره نشته او نه هم څوک پرې خبر دي. د ستراتېژۍ په اړه د افغانانو د ژوندانه په نورو کچو کې خو د پښتو د ودې او یا هم د نورو سره د سیالۍ په اړه یواځې د ګوتو په شمېر افغانان په ښکاره هسې د ولولو څخه ډکې خبرې ،چې هغه هم کومه ښکاره آزمویل شوې یا ټاکل شوې کړنلاره نلري، کوي. او په عامو ځایونو کې خو چې کله د پښتو د ودې خبره راپورته شي اختلاپ به پرته له خپله پښتانه څخه بل څوک ونکړي. ځکه چې د پښتو د ودې خبره اوس پېغور (ستګمه ټایز) شوې ده. چې کله ستراتېژي نه وي نو هېڅ د سیالۍ خو هډو پوښتنه هم نه پیدا کېږي.

دا ځکه چې د پښتو د اکسرو برخو ځای خو د سیالۍ په ډګر کې دومره راټیټ شوی دی چې اوس د هغو برخو مړینه نیږدې شوې ده. د بېلګې په توګه، د پښتو سیالي د اوردو، پاړسۍ او هندۍ سره په ډېری برخو کې د تلولو وړ نه ده. یواځې ځینې د پښتو برخې دي چې په سیالۍ کې لا تر اوسه هم برلاسي دي. ځکه چې هغه د پښتنو د ژوندانه سره دومره تړلي دي چې لرې کول یې ټولو سیالو ځواکونو ته ګرانه ده. او دا برخې د پښتنو د ژوندانه سره د چاپېریال د ځواکونو او اغېزو او سېمه ایزو سیاسي ،پوځي او سپماوي سیالیو او اغېزو نه وروسته هم ژوندي پاتې دي. او تر ټولو ځواکمن یې جرګه او اتڼ دي چې موسیقي، ننداره، فلم، او رسمي او نارسمي برخې بیا په ډېر وهشت سره ځپل شوې بڼه کې ژوندي پاتې دي چې د سیالۍ په ډګر کې د ځنکدن په هال کې دي.

نو موږ وکتل چې دې لویو لویو شرکتونو هم په خپل کور او هم په نورو هېوادونو کې د دوی لپاره د نورو څېړنیزو وسایلو تر څنګ دا د مایکل پورټر له هېواد بز څېړنیز ماډل څخه په ګټه اخیستو وکولای شول چې هلته د پښې ایښودو وروسته ډېره ګړندۍ وده وکړي او تر نن پورې د پرمختګ په لور په پایښتي ډول تر یو وخته روان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سيالۍ پينځه ګوني ځواکونه او د لوی چاپېريال د برخو تاکونکو څېړنه

مخکې مو وليدل چي پښتو د هېواد او سيمي په کچه په يوه ډېره کمزورې حال کې ده. او چي کله موږ غواړو د کمزوريو آر دليل پيدا کړو نو د سيالو ځواکونو اغېزې کتل او څېړل ډېر اړين دي. ځکه چي د ازاد بازار په نړۍ کې ټول لوی او واړه شرکتونه او کمپنۍ چي په بازار کې د ودې او نورو شيانو د خرڅولو او يا نورو بازارونو لاندې کولو تکل کوي نو خپل ځای او ځان پېژندنه په دې د مايکل پورټر په (ماډل) بېلګيزه باندې کوي.





Figure 10 انځور شمېره ۱۱ د مايکل پورټر د سياليو پينځه ځواکه بېلګيزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**Figure 11** انځور شمېره ۱۲ د مايکل پورټر د سيالۍ پېنځه ګونې بېلګيزې څخه د پښتو لپاره بېلګيزه

د پښتو څېړنه چې موږ دلته وکړو نو دا لاندې را په ګوته کېږي.

## بديلونه:

دپښتنو د ژوندانه په ټولو کلتوري او ژبني برخو کې د سيمه ايزو او لرې پرتو هېوادونو اغېزه خورا ډېره ده. د پښتو ژبې لپاره په ټوله مېډيا ، رسمي او نا رسمي برخو کې دري يو بديل ګرځېدلی دی. په رسمي برخه کې د مېډيا او کتابونو چاپېدنې شمېره او په دولت کې د دري ژبې هر اړخيزه واک د دې ښکارندويي کوي چې دا بديل ډېر ځواکمن دی. او په نا رسمي برخه کې د افغانستان په دننه او بهر کې چې د هر افغان څخه ،ان تر يوه وخته زما خپل درانه پلاره څخه ، د ټېلېپون شمېره وغواړې نو بيا به دی درته وايي چې سفر هپتادونو ، ، ، ، ، يا بيستو پانج ششتو فنج او داسې نور. او بيا په کوزه پښتونخوا کې دا ستونځه د اوردو ژبې ده چې پښتو ته بديل جوړه شوې ده.

او همداسې په کلتوري برخو کې بيا هم د پارسۍ ، هندي او اوردو او ان انګرېزي کلتوري توکو او په بازار او رسمي او نا رسمي برخو کې د پښتو ژبې او کلتور لپاره لوی بديلونه دي چې د پښتو او پښتنو ژوندانه ته يې ښکاره او زغرد ګواښ پېښ کړی دی.

## غوښتونکي يا کاروونکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې سره موږ کولای شو چې غوښتونکو ځواک ځان ته ښکاره کړو چې د یو ځانګړي شي د اخیستلو په اړه د نورو بدیلونو په شتون کې څومره چنې وهي. خو چې موږ د پښتو د ژبې او کلتور غوښتونکي او کاروونکي ګورو نو دوی په لویه کچه هر څه خوشې او وړیا غواړي او یا هم که د نورو ژبني او کلتوري شیان بیا په ډېر ویاړ او په ډېرو پېسو باندې اخلي. ډېری پښتانه د دې تر څنګ بیا دا دلیل هم وایي چې د پښتو ژبني او کلتوري توکي لکه فلمونه ،ډرامې، موسیقي، او ان کتابونه د ښېګڼې کچه یې خورا ټیټه ده. دا تر ټولو لویه ستونځه ده. ځکه چې د پښتانه د خپلو کلتوري او ژبني توکو سره کوم ویاړ او یا هم غریزوي اړیکې نه په سترګو کوي. دا ډېر خلک مني چې په کابل کې به اکسرو پښتنو د دري ژبه پدې زده کوله چې په هغې به یې وکولای شول چې د کومې پېغلې سره پرې خبرې وکړي او دا کار په پوهنتونو او ښوونځیو او رسمي ځایونو کې لکه دود ګرځېدلی ؤ. او بیا به پته ولګیده چې دوی دواړه به پښتانه وو. نو هم غوښتونکي خپله کوم خوځښت نلري او نه هم د دغه نورو سیالانو څخه د پښتنو د ژغورلو کومه هېوادیزه ستراتیژي او یا کړنلاره شته. په دې پیڼځه ګونو ځېړنیزو برخو کې تر ټولو د اندېښنې وړه برخه همدا د غوښتونکو ده. ځکه چې غوښتونکي بې پروا وي نو وړاندې کوونکي هم ، لکه سندر غاړي، فلم جوړوونکي، نندراره جوړوونکي، کتاب لیکونکي، د اخبارونو چلوونکي، د میډیا چلوونکي، ان په رسمي او نا رسمي برخو کې د غوښتونکو هغو اړتیاوو ته چې په غوښتوه بدل شوي وي توکي برابروي او رسول ورته کوي هغوی هم ډېر څه نه شي وړاندې کولای او رسولای. دلته مې یوه ټوکه را پیاد شوه. دا ټوکه به زما پلار ډېره کوله. زما پلار به دې ته د سورنیو ټوکه وبیله.

وایي کوم سړي په کلي د یوه چا څخه د تجارت کولو لپاره پوښتنه وکړه چې یاره د کوم څه تجارت وکړم چې په دې کلي کې ډېر پیسې پرې وګټم. ؟ نو دې مشاور ورته ووبیل چې یاره د سورنیو. دا ځکه چې ډېر به خرڅ شي. ګوره د یوه د اخیستلو زمانت زه درته کوم نور خو لا پرېږده. دا لومړی سړی چې ستا څخه سورنۍ واخلي هغه به زه وم.

نو دې ساده سړي هم یوه بلا سورنیي د ښاره واخیستل او کلي ته یې د تجارت لپاره راوړل. نو چې دې مشاور دا یو سورنۍ واخیست. نو دې تجار چې څو میاشتې په کلي که دا سورنیي په شا ګرځول نو هېڅ چا به هم د اخیستلو پوښتنه هم نه کوله. نو په دې کلي دا لویه ټوکه شوله چې چا به غوښتل بل ته د ناپوهۍ پیغور ورکړي نو ورته وبیل به یې چې سورنیي به درباندې بار کړم.

نو چې غوښتنه نه وي زموږ کلتوري توکي به هم زموږ په پوهانو او انځور ګرو او لیکوالانو او نورو لکه سورنیي بار وي او په خپله شا به یې په هر ځای ګرځوي. نو پښتو به خاورې وده وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتينو ستونځو په پای کې يوه بله ستونځه چې ډېرې خلک هغه ته پام نه کوي هغه دا چې پښتانه په خپله ژبه په وياړ او مېړانه او ان تبيي ښخبر خبرې نه کوي. نو دلته يوه رواني ستونځه هم شته. ښېږنو دا ښوودلې ده چې د يوه توکي سره بې پروايي او يا په بل ښخبر د هغه نه غوښتل د هغه توکي مړينه او له مينځه تلل هتمي کوي.

## نوي سيالان:

پدې سره موږ کولای شو چې د يو شي د وړاندې کولو او بديلونو د وړاندې کولو نوي سيالان وښېږو. او د پښتو لپاره نن سبا په افغانستان کې خو د پارسۍ، هېندي، اربۍ تر څنګ درې نوي سيالان هم چې انګرېزي، اوردو او ترکي د ژبې او کلتوري شيانو وړاندې کوونکي او سيالان ډګر ته په د ننه کېدو دي. او نښانې يې هغه دې موږ ګورو چې په کومو لارو رارواني دي.

## رسوونکي:

رسوونکي د بازار د پوهاوي په چاپېريال کې هغو ځواکونو ته وايي چې اکسره يا پرزې، پوره شيان او يا هم نورې برخې يوا و يا ډېرو شرکتونو يا کمپنيو ته رسوي. د بېلګې په توګه، د موټر جوړولو او يا الوتکو جوړولو کاروبار ته د ټيرونو، تېلو، رنګ، برېښنايي پرزو، ماشين، ښيښو او اينو او داسې نورو برخو جوړونکي، رسوونکي دي.

په همدې توګه د پښتو د ژبې او کلتور لپاره د رسونوکوم رول په اکسره ډګرونو کې په ځانګړې توګه د پښتو لپاره ډېر کمزوری دی او بله دا چې دا ټول د نورو لکه د دري، پارسۍ، هندي، انګرېزي، اربۍ ،اوردو او نورو ژبو او کلتورونو په چوپړ کې کار کوي او يا هم د همدې ژبو وېيونکي دي. اوان پښتانه هم هغوی د رسوونکو رول ادا کوي. د پښتنو رسوونکي سورنې په شا ګرځوي او د نور ژبو يې خرڅوي.

## سيالې او اوسني سيالان:

په دې سره به موږ وکولای شو چې د اوسنۍ سيالۍ کچه او د سيالانو ځواک په ګوتو کړوو. د پښتو ژبې او کلتور برخوا و په رسمي او نا رسمي کچه سيالۍ خو په خورا اوچته کچه شتون لري چې سيالان يا په ښکاره ژبه ورته ځواکمن سيالان وبيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، دومره ځواکمن شوي دي چې پښتو لاس او پښو ښورولو ته هم نه پرېږدي. دا سيال ځواکونه، دري، پاړسی، اوردو، هندي، اربي، انګرېزي او ان ترکي ژبني او کلتوري توکي دي چې د افغانانو ټوله شتمني او آند يې تر ولکې لاندې راوستلي دي. اجبه خو دا ده د پښتنو غليمان او ژمن دوښمنان په دومره چالکۍ سره د پښتنو خپل مشران او ملايان د پښتو د ورکولو لپاره په کاروي. لکه د سندرغاړو وژل، په کليو کې د ډولونو ماتول، د پلمونو سوځول، د کتابونو او ښوونځيو له مينځه وړل، او ان زمورږ د کلتور برخې لکه سندره، نڅا، ننداره، پوهه، جرګه او نور پېغور ګرځول (ستېګمه ټايز کول). او د هنرمندانو ،چې د ژبې او کلتور د برخو ماشين چلوي، د ملايانو لخوا په مرګ او د جنازې په نه کړلو ګواښول دا ډېر د اندېښنې وړ خبرې دي. دا ناپوهه ځواکونه د داسې يو خترناک سيال ځای نيولی چې ډېر ورانوونکي او بربادوونکي او ځان وژونکي دي. د خورشيد عالم خبره په مرکه کې د بي بي سي د يوه اورېدونکي د هغه پوښتنې په ځواب کې چې د علمايې کرام څخه يې د نزر پوښتنه کړې ده که نه نو ده د خپلو اورېدونکو څخه د دووا غوښتنه وکړه چې د هنر يې مخ واوړي. او خپله موسيقي او هنر يې د غلتو کارونو سره پرتله کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کسب او شیز نړۍ‌والتوب چلوونکي، هڅوونکي او خوځوونکي ځواکوونه

زه د لته نه غواړم چې د کسب او شي نړۍ‌والتوب په هکله ډېر ولیکم خو دومره روښانه کول غواړم چې نن سبا چې کوم کسبونه یا چارې او شیان په ګړندۍ کچه په نړۍ‌وال کېدو روان دي دا د ودې یوه برخه ده چې په دې کې ډېر ځواکمن لوبغاړي شته. کومه ستراتېژیکه بېلګیزه چې ما کتلې نو دا د یوې ډېرې ځواکمنې او ښې څېړنیزې وسیلې په څېر موږ د پښتو لپاره پکارولای شو. ځکه چې کله چې یو کسب یا چر د غوښتنې او رسولو د چاپېریال څخه او چتېږي او بیا ستراتېژیکه برلاسي تر لاسه کوي نو بیا نور ځواکونه شته چې هغه نړۍ‌وال کېدو خوا ته خوځوي. دا لاندې ستراتېژیک ماډل چې جورج یېپ برابر کړی دی همدا ځواکونه په ګوته کوي او د هغوی په اغېزو باندې یې هم څېړنه کړې او هم یې وړاندیزونه کړي دي.




Figure 12 انځور شمېره ۱۳ د کسب نړۍ والتوب لپاره بېلګیزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**Figure 13** انځور شمېره ۱۴ د کسب نړۍ والتوب بېلګيزه د جورج ييپ له کتاب څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library







**Figure 14** انځور شمېره ۱۵ د ۱۴ بېلګيزې پښتو ژباړه

په دغه بېلګيزه کې موږ ګورو چې دلته څلور ځواکونه دي چې د يو شيز، کسب او کاروبار سره مرسته کوي تر څو نړیوال شي. د بېلګې په توګه به سوني ( Sony Products ) راواخلو چې دا جاپاني شيان څه رنګه په ټوله نړۍ کې او خپاره دي. او هم يې جوړول په سيمه ايزه توګه شوي دي. همدا څلور ځواکونه د دې لامل وګرځېدل چې دا نړیوال شي. که د چين حکومت اسانتياوې نه واى برابرې کړاى، او که دوى په سيالۍ کې او په ارزانه بيو سره او د ډېرو جوړولو وسونه درلودلاى نو دا به هېڅ وخت هم نړیوال شوي نه ول. داسې خو ډېر امريکايي کسبونه او شيان شته چې هغه په امريکا کې ډېر دي خو هغه نه شي کولاى چې نړیوال شي. لکه جنبرال موټر ( General Motors ) دا ځکه که کوم هېواد لکه چين ورته اسانتياوې برابرې هم کړي، هغه هم ګران موټر دي او هم ډېر مسرپ لري او هم د نورو موټرو سره سيالي نه شي کولاى.

نو د ودې او نړیوال کېدو بېلګه مې ځکه را واخيستله ځکه چې دا د پښتو لپاره ماته ډېره په زړه پورې ښکاره شوه. نو هيله ده يو څه مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بازار چلوونکي:

- د ګډ ګاک (مشتري) اړتياوې او غوښتنې
- نړېوال ګاک
- د راکړې ورکړې نړېوال لښتې او ويالې
- وړوندکي او بدلېدونکي د خرڅلاو پوهه
- مشر تابه هېودونه

## د مسرپ او خرڅې چلوونکي:

- د غتې کچې د شيانو جوړول او تويول په نړېواله کچه
- د غتې کچې د شيانو جوړولو اغېزه چې خرڅه او مسرپ را ټيټ کړي
- د زېرمو او د خامو شيانو او موادو د لاس ته راوړلو اغېزمنيتا او سمه لاره
- د رسولو او رسد (لوژستيکي) ګټورتيا
- په هېواد کې د خرڅ بېلابېل تيا
- د شيانو د ودې د جوړولو لپاره ګرانتيا
- د ټېکنالوژۍ چټک بدلون

## د سرکار يا واکمن (هکومت) چلوونکي:

- د تجارت غوره او ګټورې پاليسۍ
- ورته تخنيکي پېښې (ستانډرد، معيار)
- ګډ او ورته د خرڅلاو قوانين
- سرکار يا واکمن پورې تړلي سيالان او ګاکان (مشتريان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کوربه سرکار یا واکمن اند ښښنې او تمې

## د سیالۍ چلوونکي:

- په لویه کچه لېږدول او راوړل ( سادرات او واردات )
- د بېلابېلو وچو او سیمو څخه بېلابېل سیالان
- د هېوادونو یو تر بله سره تړاوونه او اړوندتیاوې
- نړۍوال شوي سیالان
- لېږدونکې د سیالۍ ګټورتیاوې او پیاوړوې

## د ښښتو ودې چلونکي او هڅوونکي او خوځوونکي ځواکونو څېړنه په بېلګیزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځور شمېره ۱۲ د پښتو ودې چلونکي او هڅوونکي او خوځوونکي ځواکونو بېلګېزه **Figure 15**

لکه څنګه چې مو بره ولیدل چې د جورج یېپ ماډل یا بېلګېزه مورږ ته د کاروبار شي او یا هم کسب د نړۍ والتوب لپاره هم څېړنیزه او د پرمخ تګ لارې چارې راښیي. نو د دې بېلګېزې څخه به د پښتو د څېړنې او ودې لپاره به لږ څه بدلون سره ما دا ماډل وړاندې کړی دی. دا ځکه چې ژبه د نورو توکیو او شیانو سره دا توپیر لري چې ژبه د ژوندانه ډېر اړین کلتوري برخې په اړیکو کې راوستلای شي. د بېلګې په توګه د پښتنو په ژوندانه کې چې کوم کلتور او دود دستور دی هغه د پښتو د کلتور څخه پرته نه رسول کېږي. لکه پېغور، ننواتې، تېره، ژبه، دا ټول چې مورږ څېړو نو دوی لپاره دا پورتنی ماډل زما په آند یوه څه نا څه غوره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو ژبه به هله د پایښتې ودې خوا ته وخوځېږي چې دا پورتني چلوونکي ځواکونه یې شا ته ځواکمن ولاړ او د وخت سره سم په نوښت سمبال وي.

## د بازار چلوونکي:

- د ډېرو اړینو پېرودونکو نه لرل دا ځکه چې پښتانه د پښتو کلتوري او ژبني توکیو پر ځای بدیلونو ته ارزښت ورکوي او پیسې پرې ورکوي. او د پښتو کلتوري او ژبني توکي خوښې غواړي. دا ځکه چې دوی د نورو ژبو د هغو خوشو او مفتو په خوندونو اوس هم خوشند وهي چې هغوی د وړاندېنیې او پروموشن پر وخت یې ورکړي ول. ان ډېری وخت دا پېرودونکي د پښتو د کلتوري او ژبني توکیو څخه یا د سیاسیونو، ملایانو او یا هم ځینې مشرانو لخوا راګرځول کېږي او د پښتو کلتوري او ژبني توکیو باندې بندیز لګول کېږي.
- د پېرودونکو ګډو اړتیاوو شتون ډېر ښکاره دی، خو دا اړتیاوې چې په غوښتنه بدلېږي نو د نورو ژبو، لکه دري، پاړسی، هندي، اوردو، انګرېزی، او اربی رسوونکو لخوا ورته ژبني او کلتوري توکي جوړ او وړاندې کېږي. نو د پښتنو اړتیاوې په پښتو کلتوري او ژبني غوښتنه ندي بدل شوي.
- د پښتو پلمونو، ډرامو، لیکونو، او د مېډیا او رسمي او نا رسمي برخو لپاره غټو تجارتونو نشتوالی خپله د بازار چلونکی ځواک دومره کمزوری کوي چې که څوک یوې کمپنی یا پانګه وال څخه د پانګونې غوښتنه وکړي نو پدې آزموینه کې پاتې راشي او هېڅ یو به هم ورته زړه ښه نه کړي. دلته بیا هم هماغه د غوښتونکو خبره مینځ ته راځي چې پښتانه په خپله د دې تجارت لپاره کوم سم رول نه ادا کوي او دو نورو د کلتوري او ژبني توکیو لپاره غټ تجارتونه جوړوي.
- په بازار د دغو تجارتونو په یو بل باندې نه اړ کېدل. دا ځکه چې دا تجارتونه چې د کلتوري او ژبني توکو راکړه ورکړه کړي دوی د پښتو په غوښتونکو باندې ندې تړلي او نه هم پدې برخه کې تجارت کوي. دغه تجارتونه
- د پښتنو پېرودونکو پې پروایي. دا یوه لویه ستونځه ده ځکه چې کله یو شی یا توکی پېرودونکي ونه لري او یا هم ورسره په بې پروایی چلند وکړي نو دا شی یا توکی د بازار له مخې ورکېږي. څېړنو دا ښودلې ده چې پښتانه د پښتو کلتوري او ژبني توکیو باندې پیسې نه ورکوي، یو ځل بیا د شهسوار سنګروال سپب خبره راته یاد شي چې ،د ده کتابونه او شمله میاشتینی چې د پښتو د توکیو په ډګر کې مرغلرې دي، پښتانه ورته بې پروا دي او پیسې پرې نه ورکوي او ان دومره هم پیسې ورباندې نه مسرپوي چې د هغو کتابونو او خپرونو د خپرولو خرڅه پوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همداسې د نورو هنرمندانو ، لیکوالانو او نورو پوهانو سر ټکونه د پښتنو څخه. ددې چلوونکې لپاره د ډېره ښه بېلګه د انګرېزۍ وده د امریکې په د اقتصا د په مرسته.

# د حکومت چلوونکې:

برنارد سپولسکي په خپله لیکنه (۲۴پاڼه، ژبه او دولت، P24, Language and the State) کې وایې دې د کورا کوپاپا موري ،چې د موري کلتور او ژبې ارزښتناکه برخه ده، په دغه نېژدې کلونو کې پدې ګړندۍ وده وکړه چې دا اسانتیاوې په ښونیز او روزنیز سیستم کې د حکومت لخوا ،په ځانګړې توګه د کارګر ګوند په دوره کې د بدلونو د راوستلو سره ، برابرې شوې.

- حکومت او دولت کولای شي چې ډېر یو ځواکمن چلوونکی، هڅوونکی او خوځوونکی ځواک وي د ژبې او کلتور د ودې په برخه کې. خو دا همداسې چې په بازارې کاروبار کې یوه برخه جوړوي، همداسې د کلتور او ژبې په وده او پر مختګ کې یوه برخه لوبوي.
- د دولت لخوا د مرستو او ستراتېژۍ نشتوالی، خپله لویه کمزوري ده. کله چې یو دولت په خپل هېواد کې د ژبې ودې او ساتلو لپاره کومه داسې ښکاره ستراتېژي ونه لري چې په نویو پوهنو ولاړه وي نو بیا هغه ژبه به یوه ورځ نه یوه ورځ ساه ورکړي. نو چې ستراتېژي ښکاره نه وي نو د ودې لپاره خو هېڅ راتلوونکی نه وي. دا ځکه چې دولتونه ولسي نه دي. او پردۍ کاپۍ او آندونه د پردو په مرسته او مشرتابه پلي کوي.
- د دولت په کچه د غوښتنو کموالی یوه بله کمزوري ده چې د پښتو د ودې لپاره لوی خنډ دی. کله یو کاروبار نړۍ وال کېدو خوا ته خو ځېږي او دا چلوونکي ځواکونه او په ځانګړېتوګه د دولت د غوښتنې خپله هغه کاروبار ته ډېره وده ورکوي. نو چې د پښتو ژبني او کلتوري توکیو ته د دولت له خوا غوښتنه ډېره کمزورې ده نو د پښتو د ودې مرسته نشي کولای. او په اوسنیو شرایتو کې ورته د یو ځواکمن چلوونکي په توګه نشي کارول کېدای.
- په دولت کې د پښتو لپاره د بنسټ نشتوالی. دا هم یو ه بله ستونځه ده چې د ډېر وخت راهیسې چا ورته پام ندی کړی. خرنګه چې د پښتو ژبني او کلتوري توکي د دولت او حکومت په چوکاټ کې نه هم کارول کېږي او نه هم ورته کومه ځواکمنه غوښتنه شته او نه هم کومه ستراتېژي جوړه ده نو د بنسټونو شتون هم هېڅ لامل او دلیل نلري.
- بې پرواپاچایان او ولسمشران. د برسېرنو ستونځو تر څنګ یوه بله لویه ستونځه همدا د افغانانو د ولسمشرانو بې پروایي ده د پښتو سره. ځکه چې دوی ته پښتو چې د جرګو او مرکو او نرخ او جوړجاړي دود دستور دی او ؤ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان پاچايانو او ولسمشرانو د پښتو څخه هم په لاسې او هم په ناپوهۍ واټن نيولی او همدې کار پښتو د رسمي ډګر څخه نوره هم په شا کړې ده. نو چلوونکی د پښتو لپاره ګټور ندی په او سنيو شېبو کې.

- د مرستو سم نه سمبالول. افغان چارواکو لا تر او سه پدې ندي بريالي شوي چې د هېواد لپاره د اوږد مهال لپاره په ستراتيژۍ او کړنلاره کې د ولسواکۍ او ډيموکراسۍ په لور د تګ او ودې سره پښتو ترلو باندې ژور سوچ وکړي او هغه ورسره وتړي. نو د همدو مرستو څخه هېڅ اوږد مهاله ګټه پورته نکړای شوله..
- دا ډېر کار، پوهې او زړه ورتيا او روزنې ته اړتيا لري. ځکه چې دا اوږد مهاله پروژې غواړي چې ژمن افغانان هغه پلي کړي. او د دغو چلوونکو بېلګې دي لکه د هېبرو د مړې ژبې وده د اسراييلو د حکومت په مرسته، د انګرېزۍ ژبې د انګرېزانو د واک او زبرځواک په مرسته، د لاتينې ژبې وده روم د امپراتورۍ په مرسته، د اربۍ ژبې وده د اسلامې واک په مرسته، فرانسوي ژبې وده د ناپليون د امپراتورۍ په مرسته. د روسي ژبې او داسې نور. او د دې نورې بېلګې بيا د نورو ژبو د ودې په برخه کې وګورئ.

## د سيالۍ چلوونکي:

- د سيالۍ چلوونکي ځواکونه هغه وخت يوه شي او يا هم يوه کسب ته د نړۍ وال کېدو اسانتياوې برابروي کله چې هغه شی او يا هم کسب د نورو سيالانو څخه برلاسی وي د بېلګې په توګه هندي پلمونه په اسيا او افريقا کې، يا هم جاپاني سوني شيان او يا هم مايکرو سافټ.
- په اوسني مهال کې پښتو د پارسۍ، اوردو، هندي او انګرېزۍ او اربۍ او ترکۍ سره سيالي نشي کولای. نو چې د پښتو ژبنې او کلتوري توکي داسې کوم د سيالۍ چلوونکي نلري چې د هغې په مرسته د سيالۍ ډګر د سيالانو څخه وګټي او پښتو وده وکړي نو موږ نشو کولای چې په دې چلوونکي ډډه ولګوو.

دا يواځې هغه وخت شونې دی چې د سيالۍ لپاره موږ وسايل او بېلګې لکه رول ماډل ولرو او يا هم هېڅوک هم زموږ د سيالۍ وړ نوي. يواځې په دوه ډېره کچه اتڼ او جرګه ده چې ځواکمن سيال نلري سره لدې چې همدا پورتني سيالان د دواړو د ورکولو پټ او ښکاره زيار په هر ډګر کې اوباسي. خو دا دوه دوه ډېره مرغلرې هغه وخت کېدای شي چې د سيالۍ لپاره چلوونکي وګرځي چې د دې څخه چلوونکي جوړ او بيا د سيالۍ چلوونکي په توګه ترې کار واخيستل شي. نو دا هغه وخت شونې ده چې پښتانه دومره شي چې خپل دود دستور غوره وګڼي او کشران ،مشران او پوهان رول ماډل شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ته د پېغور د ټکي ورککولو کې هم برخه واخلي. او د هغه چا چې پښتو او پښتونولي نوي زده نو هغه د پېغور وړ وګڼل شي. لکه وی وی ستا اتڼ په ریښتیا ندی زده نو بیا ته څان ته څرنګه افغان وايې !

## د کلتور چلوونکي:

- د دې لپاره چې یوه ژبه بېرته له سره راژوندی شي نو کلتور په دغه بیا راژوندي کولو کې یو ډېر څواکمن او ښکاره رول لوبولی شي. یو ځل بیا برناډ سپولسکي (۱۲پاڼه، ژبه او دولت، Language and the State), P16 وايي چې ، په ټولنیزه کچه د یوې ژبنې ډلې برابري او یا هم لوړتیا او اتلولي ارزښتونه بایده چې په ګوتو او په ډاګه شي. په کلتوري کچه، دودیز ارزښتونه او دود دستور بایده چې بیا راژوندي او یا هم د رغنده او روغ شویو ارزښتونو دودونو باندې بدل شي چې دا ښکاره کړي چې د ارو دودونه څخه رېښه اخلي او په هغو ترلي دي. لکه چې وایي دلته د پښتنو په هېواد کې هر سړی د خپل سر باچا دی.
- د کلتور برخې لکه اتڼ، جرګه، موسیقي، ډرامه، انځور، دراوی، کلیوا له جرګه او مرکه، جامه، شمله او پګړۍ، ډوډۍ، او په خپله پرې خبرې کول او داسې نورې برخې کېدای شي چې د خبرلو څخه وروسته د د وی د چلوولتیا ځای ښکاره شي. ۰ او اغېزمنتیا یې په ګوته شي تر څو وکولای شو چې دا څواک د پښتو لپاره په کار واچوو. په پلازمېنه کابل کې ډېری پښتانه د میني آند یې په پښتو نه دی او کومه خیالي نړۍ چې د کومې پېغلې په سترګو او ان په انځور کې ویني نو هغه ټوله جوړه نړۍ بیا په پښتو نه ده. لکه چې په زرهاوو داسې پښتنو ما ته په خپله دا په ډاګه کړې ده چې دوی ان که په مینه کې بریالي شوي هم دي خو دا پیل یې په پښتو ژبه ندی شوی نو د پښتو لپاره دلته دغه کلتوري چلوونکی خورا کمزوری دی چې سیاله ژبه پارسې یې چلوي. مېرمن شارلت هوپمن چې نجونې د ژبې په وده ورکولو او وړاندې کولو کې خورا ډېر ښه رول لوبولی شي

(۴۱ پاڼه، ژبه او دولت، سو رایټ، P41, Edited by Sur Wright, Language and the State,))

- دا کلتوري برخې ځینې یې په افغانانو ډېرې ګرانې دي. لکه اتڼ او جګه او مرکه ، ، د پښتنو د اتلانو کیسې او نورې کیسې جامه چې د دې بدلول بیا نو د افغانانو هغه د ژوندانه ژوبکې بدلول دي.
- په کلتوري برخو کې اتڼ او جرګه، په بره پښتونخوا کې او پلم، موسیقي، ډرامې او جرګې په کوزه پښتونخوا کې د نورو په پرتله لا تر اوسه خورا څواکمن دي سره لدې چې پدې افغانانو باندې څه څه رانغلل، خو دې خلکو دا دود په

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبيعي توګه نشو پرېښوداى او ورسره پاتې شو. او همدا کلتوري توکي دي چې د نړۍ په نورو هېوادو کې د ننه خو لا پرېږده په ټوله نړۍ کې دوى خپله ژبه او کلتور خپور کړى دى، بېلګې يې هندي فلم او هنر او ډوډۍ، د افريقا رګيې موسيقي او نڅا، د اوردو ژبې ډرامې، د ايټاليا انځور او فېشن، د يونان کلتور، او داسې نور. موږ کولاى شو چې له څېړنو وروسته دا د پښتو د ودې لپاره د ډېر ځواکمن کلتوري چلوونکيو په توګه په کار واچوو د کيسو او کتابونو ليکل هم د هڅوونکي او چلوونکي په توګه پکارېداى شي که چېري دا په يوه نوې ډول او داسې بڼه را ډګر ته شي چې يا خو ډېر خواږه او د نوي نسل او ځوانانو لپاره د خوښې وړ وي لکه د هري پاټر کتاب چې ټول افغانان ورته مينه وال شي او يا هم داسې کتابونه وليکل شي چې هغه ډېر يو نوى شى وي چې ډېرو پخوانيو پولو باندې تېر شي او د روڼ آندو او آمو خلکو تر مينځ د کړکېچ بنسټ وګرځي. چې دا د نزرونو اختلاپ او تربګني به د نورو ليکنو لکه ټکونو او پالنو په بڼه کې پښتو ادب لمنې ته ډېر نوي شيان ور ډالۍ کړي او د پښتو ادب به پري شتمن شي. چې د پښتو ودې سره مرستندويه ځواک سره مل ګرځي.

تر اوسه خو موږ يوا ځې همدا کلتوري چلوونکي ځواکمن وموندل او که چېرې نور هم وي نو هغه به هم تر څېړنې لاندې راولو او د چلوونکي کار به ترې واخلو. دا چلوونکي د وخت په تېرېدو سره خپل ځايونه او ځواکونه بدلوي نو افغانانو ته په کار دي چې هر لس يا پينځه لس کاله وروسته دا وڅېړي چې کوم چلوونکي په کوم ځاى او ځواک کې دي.

- تر دغه ځايه پورې خو موږ وليدل چې په افغانستان کې او په اوسني هالاتو کې د کلتور ځواک تر ټولو غوره دى او د دې سمه څېړنه په کار ده.

د کلتوري چلوونکيو ډېره ښه بېلګه د هندي او اوردو ژبو کېداى شي.

## د اند چلوونکي:

- برنارد سپولسکي (۲۱پاڼه، ژبه او دولت، P21, Language and the State) , بيا هم وايي چې دا د همدغو ايډيالوژيو يا عقيدو يا غوټو ځواک و او همدا دومره ځواکمن ول چې ان هغه خپل مخالپان يې هم دې ته اړ ايستل چې د هېبرو ژبې زدکړه ورته په زړه پورې وګرځي او دا نوې هېبرو ژبه زدکړي د ننه څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او بلې خوا ته د نيو زيلنډ موري ژبه په خپلو هڅو کې پاتې راغله ځکه چې د هغې سره د اسې کلتوري ، ټولنيز، مزهبې ځواکونه نه ول چې پرې ژوندانه ته لاره وباسي٠ سره لدې چې دا ژبه رسمي هم شوله او هم په ښوونځيو کې په ليک لوست کې شامله کړای شوله٠
- جرګه په خپله يوه پلسپه او آند دی٠ تر هغه ځايه چې د جرګې پياوړتيا او ارزښت په افغاني ټولنه کې دي، جرګه د يو اند ځای نيسي، دا ځکه چې داد ژوند هغه برخه ده چې د نورو برخو سمبالونکې ده٠ جرګه هم لکه اتڼ يوه ځواکمنه کلتوري توکې ده او لا تر اوسه په لر او بر افغانستان کې خپله ښاغلتيا ساتلې او اهميت يې نور هم په زياتيدو دي٠ جرګه هم موږ کولای شو لکه داتڼ په بره پښتونخوا کې او ،ډرامې او پلم ، او موسيقی چې په کوزه پښتونخوا کې څه نا څه ځواکمنتيا لري، او د وخت سره سم د جرګو نوی ډول همدا د ازرت باچاخان د ژوندانه مبارزه او د دده کتابونه په خپله يوه لويه شتمني او پانګه کېدای شي, په ځېر د يوه چلوونکي په توګه له ځېړني وروسته د پښتو د ودې لپاره وکاروو٠ په نړۍ کې ډېرې داسې بېلګې شته چې د يوه آند او يا آيډيالوژۍ په مرسته يوه ژبه او کلتور خپرېدل او وده کول، لکه د يونان د پلسپې (ډېموکراسۍ ) او د مرکو او جرګو او د ولسواکۍ اند په مرسته د دوی د ژبې او کلتور خپرېدنه، د فرانسې د رشنلېزم ( عقل يا پوه پالنه) په مرسته د فرانسوي ژبې او کلتور سره د نورو هېوادونو مينه،

(۲۴ پاڼه، اروپا د ناپېليون څخه راوروسته، ډېوېډ تامسن، P64, David Thomson, Europe Since Napoleon, )

او داسې نورې د آيډيالوژيو او مذهبونو بېلګې په نړۍ کې٠

د دغې برخې په پای کې دې پايلې ته رسېږو چې د دغې بېلګېزې او ماډل په رڼا کې د پښتو د ودې لپاره يو اځېني چلوونوکي او خوځوونکي چې ځواکمن دې هغه کلتوري او آندي دي نو د دې نوره څېړنه په کار ده چې بيا وروسته دغه چلوونکي ځواکوونه وخوځول شې او پښتو د يو پايښتې ودې خواته چې سترا تېژيکه برلاسي ولري ولاړه شي٠ او د کلتور چلوونکي ته د لومړيتوب ځای ورکول شونو وروسته آند ،بازار، حکومت، او په پای کې د سيالۍ چلوونکو ته پام وکړو٠ موږ نشو کولای چې يوازې په يوه چلوونکي کار وکړو دا ځکه چې دا چلوونکې ټول له يوه بل سره تړلي دي او يو بل اغېزمن کوي٠ نو موږ ته پکار دي چې په هېواد چې هر څوک په هر يوه چلوونکي کې ځان ځواکمن ويني نو هلته دې خپل زيار وباسي او پايښتي کار وکړي خو لړۍ او لومړيتوب همدا دی٠ چې

۱: د کلتور چلوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: د آند چلوونکي

۳: د بازار چلوونکي

۴: د حکومت چلوونکي

۵: د سيالۍ چلوونکي

د دغو د ځانګړيو برخو په اړه چې نور هم دا وښېږو بيا به پشپړه لاربنوونه برابره کړو تر څو هر څه ښکاره او هر چا ته خپل ځواکمنتيا، او لومړيتوبونه ورپه ګوته شي.




Figure 16 انځور شمېره ۱۷ د سيالۍ د چلوونکي برخې بېلګېزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library







Figure 17 انځور شمېره ۱۸ د نړۍ نورو ژبو ته د کتنې بېلګېزه




Figure 18 انځور شمېره ۱۹ د څو ژبو چې بیا راژوندۍ شوي دي بېلګه

- دا پورتنۍ ژبې د څه نا څه بریالیتوبونو بېلګې دي خو د David Crystal په وینا ډېری پوهان دا لا تر اوسه د وخت نه مخکې ګڼي چې ګوندې دا بیا ژوندۍ شوې ژبې دې پایښتي بڼه غوره کړي. دلته دوه دلیلونه د لاندې خوانه ، کلتوري، او د پاسه ،سیاسي، په ګوته شوي دي. چې دا ژبې یې را ژوندۍ کړې دي. همدا رنګه مونږ ګورو چې د یهودو ژبه **Eliezer Ben-Yehuda** په کومو ستراتېژیو بیا را ژوندۍ کړه. ده دړې ستراتېژۍ درلودلې. په کور کې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښوونځي کې او ټکي ټکي او بيا هم ټکي. دا ورستنۍ ځکه چې په نولسمه پېړۍ کې د دوی ژبه ډېره کمزورې وه. او ده له خپله کوره پيل وکړ. د يوې اجبې بېلگې په توگه غواړم د لوستونکو پام دې ټکي ته راواړوم چې په استراليا کې د وارنگو د ژبې پخواني وېيونکي اوس په دې خپله پخوانۍ ژبه زده کوي چې دوی وياړي چې د دوی ژبه د نړۍ په ژبو کې هغه ځانگړتيا لري چې نورې ژبې يې نه لري او هغه **syntactic ergativity** ده. چې يو غونډاله پرته له دې چې مفعوله وگرځي هغه دا ښوودلی شي.

- يوه بېلگه د ژبې د بيا راژوندي کولو لپاره په امريکا کې چې دوو امريکايانو (بين لبواين او جوليا شولز Ben Levine and Julia Schulz) لخوا په مخ بېول کېږي چې د دوی د دغې پروژې او پروگرام نوم د ژبې بيا را ژوندي( Language Revival) کول دی. د دوی فلسفه په دې بنسټ ولاړه چې هر هغه ټولنه چې په ځان باور نلري او نشي کولای په ټولنه کې په خپله ژبه خبرې وکړي او يو اځې د کوردننه په خپله مورنۍ ژبه خبري کوي نو دا ژبه په خپله د وخت په تېرېدو سره د مرگ کندو ته ور روانېږي. او دويمه خبره دا ده چې که هغه د پای ټولنه ويده پاتې شي نو د دې ټولنې ژبه به خامخا مړه کېږي.
- نو دې د ژبې د راژوندي کولو ټولنې د همدې دوو ستونځو ته په ځوابولو کې دا فلسفه داسې جوړه کړې ده چې:
- لومړی: ژبه او کلتور بايده چې يوځل بيا رابښکاره شي. او ددې لپاره اړينه ده چې نوښتې لارې چارې ولټول شي. او د کلتور برخې او د تاريخ بيا کتنه چې هغه بې پروا او ډارن د ژبې وېيونکي وهڅوي تر څو زړه ور شي او هغه شرم او ډار لرې کړي او په مېړانه په خپله مورنۍ ژبه خبرې پيل کړي.
- دويم: د هغو خلکو راوېښول پکار دي چې دوی د کلتور ټوله برخه پېژني او په ژبه رواني خبرې کوي او هم ټوله ژبه يې زده ده. چې دوی دنورو لپاره بېلگه جوړه شي.

پدې کې ما ته د پښتو لپاره د استاز شهسوار سنگروال سيب او ډاکتر سيب اکبر هلمندې (وردگ) هغه کيسه راپياد شي چې دی دا وايي چې کله سلطان مامود په پاني پت کې د ماتې سره مخ شو نو د ده د جگړې کومندان خالو د لومړۍ کرښې خپلو ټولو پوځونو ته امر وکړ چې: (( لمنې سره غوټه کړئ چې په اتڼ پرې ورځو او بريد پر دوښمن کوو. او هماغه ول چې دوی بريالي شول. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



رابرټ کاوشر ( Robert Kaucher 19999 ) په خپله ليکنه کې ليکي چې ژبه د کلتور ښکارندويي کوي· يوا ځې يو کلتور په سمه توګه په هماغه ژبه کې څرګندېدای شي چې په کومه ټولنه کې يې وده کړې ده·

په يوه بله ليکنه کې سارا ستېونسن (Sarah Stevenson ) بيا د وېلش ژبې په هکله ليکلی دی وايي چې د ژبې راژوندي کول خو په اصل کې د وېلز د کلتور بيا راژوندي کول دي·

·

Andrew Carnie په خپله ليکنه کې د آيرشي ژبې د بيا راژوندي کولو په ليکي چې يوا ځې په ښوونځيو کې ښوونه د آيرش ژبې لپاره بس نه ده او دا په خپله د ژبې راژوندي کولو لپاره دومره مرسته نه کوي· نو دا اړينه ده چې آيرشه ژبه د ژوندانه په نورو برخو کې او د کلتور سره وګنډل شي·

او دی د ايرش د يوې ځانګړې نڅا Riverdance and Irish Step-Dance on Broadway په هکله ليکي چې تر يو کال مخکې به آيرلنډيان پرې شرمېدل خو اوس دوی پرې وياړي· که چېرې دوی د خپل کلتوري نڅا سره مينه ژوندۍ وساتي نو دا به د ژبې راژوندي کولو لپاره يوه نوې هېله راژوندۍ کړي· او همدا وياړنه به دوی د ژبې په وياړ وېيلو خوا ته بوځي·

Britta Korth بيا د کرغېزي ژبې ستونځو ته په خپله ليکنه کې داسې کتنه کوي چې، کله د يوې ژبې بيا راژوندي کولو هڅې کېږي نو ان د قانوني ځواکونو څخه کار اخيستنه کار نه ورکوي· دا ځکه چې ژبه يوا ځې قانون هم نشي کولای چې په ټولو ومني· دا ببلګه راوړي چې هلته په کرغېزستان کې چې کله دوی غواړي ژبه بډايه کړي نو د روسي ژبې څخه ټکي اخلي او دا کار بيا دوی ته بله ستونځه راپاڅوي چې روسي ژبې او ان کرغېز خلک بيا کرغېزي ته په سپکه ګوري او دا وېيل کېږي چې کرغېزي د وهشيانو او شاته پاتو خلکو ژبه ده، چې همدا سپکاوی (stigmatization ) دوی د کرغېزي د زدکړې او هم د مېنې څخه لرې کوي· او که چېرې څوک په کرغېزي رواني خبرې کوي نو هغوی بيا د بهرنيانو سره کار کوي چې هغوی د ژبې د بيا راژوندي کولو په لړۍ کې هېڅ برخه نشي اخيستلای·

Zhanara Nauruzbayeva په خپله ليکنه کې د کزاکي ژبې د ستونځو په هکله د کرغېزي ژبې ته ورته ستونځو ته ګوته نيسي او وايي چې د کزاکي ژبې سپک ګڼل نه يوا ځې د روسي ژبو لخوا کېږي بلکه دا د کزاکانو پوهانو او ليکوالانو لخوا په پراخه کچه روانه ده چې دا لړۍ کزاکي ژبه د پرمختګ څخه راګرځوي·

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو څېړنه د ستراتیژیکو سیالیو بېلګېزه کې





**Figure 19** انځور شمېره ۲۰ د ستراتیژیکو څېړنو لپاره پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library








**Figure 20** انځور شمېره ۲۱ د ستراتیژیکو سیالیو ځېړنیز بېلګیزه



(c) ketabton.com: The Digital Library




Figure 21 انځور شمېره ۲۲ د ستراتېژيکو سيالیو بېلګيزه د پښتو لپاره

دا چې موږ بره دې بېلګيزې ته په ځير وګورو نو دا خو به راته ډېر ساده کار ښکاره شي او يا هم د کېدو شخه لرې، خو يوه خبره جوته ده چې دا بېلګيزه موږ د ستراتېژيکې پياوړتيا لاس ته راوړل رانښيي. د پښتو د ودې لپاره چې همدا کلتوري او ژبني توکي لکه په لومړي سر کې اتڼ او جرګه په بره پښتونخوا او کوزه پښتونخوا کې او ننداره –ډرامه په کوزه پښتونخوا کې او بيا وروسته همدا سې نور چلوونکي وخوځول شي نو بيا به همدا ستراتېژيکه پياوړتيا ترلاسه کړو. اندرې يا يانګ (۳۹ پاڼه، ژبه او دولت ۱۹۹۲ Andrea Young, on P39, Language and the Sate 1996) کې ليکي چې" زه خورا پدې باور يم چې هڅونه د خوښونې بېلګېزې لپاره يوه بنستېزه خبره ده. د هڅونې برخې دا دي:موخې، اړتياوې، مزاج، غوښتنه، او خوښه. او په ريښتيا سره موږ دې ته بيا په دريو بېلابېلو برخو کې کتلای شو. لومړی په خپله ماشوم په همدغو برخو کې کتل، دويم بياد ماشوم تر ټولو نږدې چاپېريال چې د ماشوم کورنۍ ده چې مور او پلار او د هغوی مزاج او بيا په کور کې د ژبې کچه او په خپله ماشوم ته هڅونه او لارښونه د ژبې په زده کړه کې او په پای کې ټولنه کې د ژبې اغېزه چې دا بيا نورې برخې لکه سپماوي، مزهبي،او د پوهنې کچه ده چې څېړل يې اړين دي. ما په خپل وار سره بيا د پښتو د کلتور برخو د څېړنو لپاره د پېشن يوه بيلګزه را اخستې ده چې د پښتو ټولې برخې مې په کې تر يوې کچې پورې څېړلي دي. هېله چې لوستونکو ته په زړه پورې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځور شمېره ۲۳ د دود دستور او هنر انځور د بېلګیزې لوړې برخې بېلګیزه Figure 22

نو اوس موږ ته پکار دي چې اتڼ او جرګه او بیا په ځانګړې توګه د نن ورځې سره سم پر مخ تللې جرګې چې هغه سیاسي ګوندونه او د هېواد په دوه جرګې یې ښې بېلګې کېدای شي چې ان د ازرت باچا خان او اودل سمد خان د مبارزو کتابونه لویې لوي بلیګې کېدای شي او ان د کلتور نورې برخې سمې ژورې وڅېړو تر څو هر څه راته په ډاګه شي چې د دوی ځواکمنتیا، کمزوری، فرستونه، او ګواښونه په دریو برخو او چاپېریالونو کې لکه د کور، کلي او بیا ټول هېواد او نوره نړۍ کې څه دي. دا څکه چې په کور کې ټول به لومړی په دې دریو چاپېریالونو کې موږ ته یوه ښکاره بڼه او انځور راکړي، چې زموږ په کورونو کې څه تېرېږي او د دود دستور د برخو سره څه چلند کېږي.

لکه څنګه چې زما په اند په لومړي سر کې بایده چې د اړتیا، غوښتنې او بیا رسولو په موندلو سره به موږ وکولای شو چې دا اړتیاوې د کور، کلي او بیا ټول هېواد په چاپېریال کې وڅېړو. او همدا رنګه دا به هم راته په ګوته شي چې په دغه دریو چاپېریالونو کې ځواکمنتیاوې، کمزوری، پرستونه، او ګواښونه څه دي؟ او چلوونکې څنګه او په کومه بڼه وخوځوو؟. تر څو وکولای شو د اړتیا، غوښتنې او رسولو په بنسټیزو کرښو او مرسته د پښتو ودې لپاره د کړنلارې یا ستراتېژیکې برلاسی په لور بریالي ګامونه اوچت کړو. د دې لپاره چې دا ستراتېژیکه برلاسي د سم پلان او کرښې په بنسټ د ټولو افغان سیمو لپاره یو شان او ګډ بنسټه شي نو دا اړین برېښي چې دا د افغانانو په ټولو سیمو کې په لړه او بره پښتونخوا کې یې وڅېړو. دا کار بیا په ټولو افغانانو پورې په ځانګړې توګه، پوهان، چارواکي او هنرمندان چې چې دوی بیا د دغه چوکاټ کارولو سره په خپلو سیمو کې دا ځواکمنتیا، کمزوری، پرستونه، او ګواښونه وڅېړي چې بیا کومو کومو برخو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړيتوب ورکړي او کار وربانديې وکړي او پروژې ورته جوړې کړي. د دې تر څنګ د رسمي او نا رسمي برخو لپاره هم همدا شان په سياسي، ټولنيز، سپماوي او قضايي تخنيکي او ټکنالوژيکي برخو کې و څېړل شي او ورته پروژې جوړې شي.

## د پښتو فلم څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګېزه کې





Figure 23 انځور شمېره ۲۴ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنيزه بېلګيزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي سر کې غواړم چې د فلم ځواکمنتیا ، کمزورۍ، فرستونه، او ګواښونه د افغانانو په دې دریو چاپېریالونو کې وګورم. په دغه څېړنیزه بیلګه کې چې بره کتله کېږي دا به هم په ګوته شي چې د فرستونو موندلو او یا هم شته فرستونو څخه به څنګه ګټه پورته کوو.

په دغه بېلګیزه کې دا زرغون رنګ د مرستندویه او فرست جوړوونکي او اغېز او ځواک دی. او دا خړ رنګ بیا د سیال او ورانوونکي اغېز او ځواک لپاره ځانګړی شوی دی. او د خړو او زرغونو غبښو څوکې چې او پنډ والی او نری والی د دوی خوا او ځواکمنتیا ښکاروي.

## کور:

د افغانانو د کور په چاپېریال کې چې موږ د پښتو فلم یا افغان فلم ځای ګورو نو دا جوته کېږي چې دلته په دې ډېر ارزښتمن او مهم چاپېریال کې د پښتو د فلم سره مینه په ډېر کړکیچن هالت کې ده. ځکه چې لومړی خو د فلم کتل دي او بیا د فلم لپاره او د فلم په کاروبار کې کار کول چې ګورو نو په دې درېواړو برخو کې یوا ځې د ښارونو ځینې ځوانان هم د فلم سره مینه لري او هم د فلم لپاره او په فلم کې د کار کولو سره مینه لري دا بیا په کوزه پښتونخوا کې تر بره پښتونخوا پیاوړې ده.

که چېرې یو ځوان د فلم د کتلو لپاره وغواړي چې کور ته فلم راوړي نو په لومړي سر کې به مور او پلار ورسره په اکسرو ځایونو کې مخالفت وکړي. د ښارونو په کورونو کې د فلم سره دومره دوښمني نشته لکه څومره چې په کلیو ده ، خو دا بیا په د کوزې پښتونخوا په کلیو کې لکه سوات او مرادان کې دا دوښمني بیا کمزورې ده. نو د ښار هلکان او نجونې کولای شي چې فلمونه وګوري، خو د فلم په کاروبار کې او په ځانګړې توګه په فلم کې کار کول دا نو بیا د ټولو کورونو په چاپېریال کې دومره لویه ستونځه ده چې ان د پېغور ځای یې نیولی دی. نو هلکان هغه هم د ښارونو به لږ څه د مور او پلار سره جنجال او خبرې اترې وکړای شي نجونې خو که چېرې دا خبره را اوچته کړي نو په مرګ به وګواښل شي. نو د پښتو فلم سره چې کوم چلند په کور کې کېږي هغه همدا اړتیا وژني او د غوښتنې پړاو ته یې نه پرېږدي. نو کومه اړتیا چې د پښتون په کور کې غوښتنې ته اوړېدلې ده هغه بیا نور فلمونه لکه ، پارسي، هندي، انګرېزي، اربي، ترکي ، اوردو او داسي نور پوره کوي. او چې د فلم په نړۍ او کاروبار کې د کار کولو کومه مینه ده هغه هم دغو افغان ځوانانو د نورو فلمونو په چاپېریال کې سره کړې ده.

دا دوښمنۍ څو اړخونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی: دا کوم پلمونه او ډرامې چې نن سبا جوړېږي ډېری يې د پښتنو د کلتور برخې د سره نه لري. لکه جرګه، اتڼ، دراوی او داسې نور.

دويمه: دا چې په دې پلمونو کې کيسې يې د پښتنو د ژوندانه لپاره په ژوند يو کېسوندي تړلې.

درېمه: دا چې د اوچتو زدکړو او کاروبارونو افغانان ورسره مينه نه ښکاره کوي او نه هم په کې ونډه اخلي.

څلورمه: دا چې دا د ماشومانو لپاره د کوم توکي نه برابروي چې دوی بيا کله پلرونه او ميندې شول چې بيا دوی باندې اغېزه وکړي.

پينځمه: دا چې په پلمونو او ډراموکې رول ماډل او يا هم پېژندل شوې او ښې څېرې او مخونه نه هم شته او نه هم پېژندل شوې او ښې څېرې او مخونه ورځي. نن سبا يو اځينی سړی چې په اوچتو کسانو کې د پلمونو او ډرامو سره مرسته کوي او مينه ورسره لري تر ځو چې ما اورېدلي دي هغه يو اځي ګل اغا شېرزی د ننګرهار والي دی نور ټول د کلتوري برخو او په ځانګړې توګه د پلم او ډرامې نه يا هم لرې دي او يا هم ورسره ښکاره دوښمني کوي او د پېغور په سترګه ورته ګوري.

نو پايله دا شوه چې پلار او مور او خپلوان د ورانوونکيو ځواکونو کار تر سره کوي او دغه اړتيا په ژونکه کې وژني. او دوی بيا د سيال کار هم کوي چې د سيالو ځواکونو سره لکه د نور فلمونه لکه ، پاړسي، هندي، انګرېزي، اربي، ترکي ، اوردو او داسې نورو سره بيا دومره مخالفت نه کوي او هغوی ته د کور په چاپېريال کې ځای ورکوي. او که يې ماشومان د هغو فلمونو سره مينه پيدا کوي نو دوی بيا دا مينه په غوښتنه بدلوي او دوی دي چې دا بيا په مالي ډګر کې پېټی په غاړه اخلي او د نور فلمونه لکه ، پاړسي، هندي، انګرېزي، اربي، ترکي ، اوردو او داسې نور و د رسولو او ځوبولو لپاره پيسې خرڅوي. او د پښتو د کلتور خزانه يې تشه او دنورو ژبو او کلتور خزانه يې ورډکه او پانګه يې ور ډېره کړله. بله اغېزه يې دا ده چې د افغان په کور کې افغان بېلګه او رول ماډل نشته. تاسې به ډېرې داسې کورنۍ ليدلي وي چې خپلو ماشومانو ته د همدې فلمونو د انځورګرو نومونه او فېشنونه ورکوي. د ټولو افغانانو په کورونو کې به داسې کور هېڅ هم پېدا نشي چې هلته به ټول فلمونه پښتو وي. زه په خپله دې ګوابښ ته مخامخ يم او دا زما يو اځينی کور دی چې دلته ټول فلمونه او ډرامې پښتو دي او دا ټول د پېښور، کوټې، کابل او لندن د سوتال او نورو ځايونو څخه تر لاسه کوم. ما سره به تر پينځو سو زيات د پښتو فلمونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډرامې پیټې او سي ډي او ډي وي ډي وي. او هر افغان چې پدې هکله وپوښتم نو د دوی په کور کې به له پینځو څخه تر د ېرشو پورې وي.

په پایله کې به دا ووایو چې دافغان د کور په چاپېریال کې همدا مور او پلار او خپلوان دي چې د پښتو د فلم اړتیا په ژونکه کې وژني او د غوښتنې کېدو څخه یې راګرځوي او مخه یې ډب کوي. او پښتو فلم سره مینه وژني. او د نور فلمونو لپاره لاره خلاسوي. مرستندویه ځواکونه ډېر کمزوري، او ورانوونکي او سیال ځواکونه ډېر ځواکمن او فرست خو په خورا بد هالت کې دی. نو دلته په کور کې کوم فرست نه لیدل کېږي چې په کومه شیبه مور وغواړو چې مرستندویه ځواکونه لکه د ښار هلکان فلم په خوا وهڅوو نو ورانوونکي او سیال ځواکونه په ډېره اسانۍ سره یې فرست خاورو سره خاورې کوي. دلته یوه کیسه بیا چې د ستر ګو لیدلی او په ژوند کې تېر کړی هال دی غواړم ولیکم. زما ماما ګان او ترور ګانې په کابل کې اوسېدل. او دوی د اپیزلا امین په پېر کې یو تور او سپین تلویزیون اخیستی و او بیا یې د پلمونو او سندرې په پټه کتلې. زما ښه په یاد شي چې کله زموږ نیکه چې موږ ټولو به ورته اغا بابا وبیل چې غږ به کور ته راغی نو تلویزیون باندې به چې په یوه ښیله وړه کوټه کې به یې پټ اېښی و. نو له ډېرې وېرې به مو پرده به مو پرې واچوله. نو زموږ نیکه څو ځله دا تکل کړی و او تبر یې هم ځان سره راخیستلی و چې دا تلویزیون مات کړي. او د ده مخ نیوی هم زما انا او زموږ پلار او ځینې درنو خپلوانو کړی و. زموږ نیکه به مدام وبیل چې دا خردجال دی چې هرکله مې په تبر درته درې وړې کړی وي نو کړی به مې وي. نو چې زموږ تلویزیون زموږ مشران په تبر راته وهي نو پلم کې برخه اخیستل خو په توپ ولې.

## کلی:

د کلي چاپېریال خو لا د کور د چاپېریال نه هم په بد هالت کې دی دا ځکه چې په کور کې یوا ځې همدا مور او پلار او خپلوان ول چې د ماشومانو او زامنو او لوڼو سره به یې جنجال کولو، خو په کلي کې بیا دا کړکېچ نور هم ژور دی. د افغانانو په کلیو کې، دلته د کلیو نو موخه همدا د څو کورونو سیمه ده چې هم په ښار کې او هم په بانډو ورته موږ د کلي نوم ورکړی دی، یوا ځې ځینې زړه ور ځوانان او د ګوتو په شمېر نجونې په ټولو ۲۰-۷۰ مېلیونه افغانانو کې د فلم سره مینه ښکاره کوي. خو د دې په مخالفت کې ورانوونکي او سیال ځواکونه د کور په پرتله ډېر او ځواکمن دي. دلته په کلیو کې ګورو چې دلته د فلم سره مخالف ځواکونه ډېر دي او دا ځواکونه همدا مینديې او پلرونه، او مذهبي ډلې او د جومات واکداران دي چې په ښکاره د فلم سره دوښمني کوي. او هر هغه څوک چې د فلم سره مینه ولري او یا وغواړي چې په فلم کې یا کار وکړي او یا هم د فلم انځور ګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي ، هغه به په ديني و سايلو رټل کېږي او همدا لړۍ د پېغور لړۍ ګرځي. نو څوک نشي کولاى چې فلم ته زړه ښه کړي. نو اوس موږ ګورو چې د کلي په کچه هم د پښتو فلم د اړتيا وژنه په ژونکه کې وشوه او تر غوښيني پورې نه رسېږي چې بيا رسوونکي ځواب ورکړي. او په کومه وړه کچه چې اړتيا په غوښتنه بدله شي نو د رسولو او ځوابولو لپاره يې هغه دي تيار نور فلمونه لکه ، پاړسي، هندي، انګرېزي، اربي، ترکي ، اوردو او داسي نور شته. او بيا د هغوی سره دومره دوښمني نه کېږي لکه چې د پښتو هنرمند سره کېږي. دا ځکه چې همدا د مذهبي ډلو او د جومات د واکدارانو زامن هم چې د پرديو فلمونو کاني کوي نو په کليو کې ورته دومره په سپکه نه کتل کېږي.

نو موږ وکتل چې د پښتو فلم سره د کلي په کچه کړکېچ او د ورانوونکو او سيالو ځواکونو زور ډېر دی او هغه افغانان چې ورسره مينه لري هغه په غوښتنه نه بدلېږي. او د نورو پردو فلمونو لپاره لاره هوارېږي. او په کلي کې هم همدا خبره ده چې مرستندويه ځواکونه ډېر کمزوري او فرست هم په ډېر به هالت کې دی، او بلې خوا ته ورانوونکي او سيال ځواکونه او ګواښونه دومره زوره ور دي چې فرست او د مرستندويه ځواکونو هر يو خوځښت چيت پيت او دړې وړې کوي.

## تول هېواد او نوره نړۍ:

لکه څرنګه چې مو د کور او کلي چاپېريالونه وکتل چې هلته په کو کې سيال او ورانوونکي ځواکوونو سره د مرکې کېدل شوني ول خو په کلي کې دا ورانوونکي او سيال ځواکونه د فلم په مخالفت کې بيا ډېر ځواکمن او ډېر ول. نو چې اوس تول هېواد او نورې نړۍ ته ګورو دلته کړکېچ نور هم ژور کېږي او دا ورانوونکي او سيال ځواکونه نه يوا ځې دا چې ځواکمن او ډېرېږي بلکې دا لا نور هم په سمباله توګه کار کوي او د مخالفت کچه يې ډېر ځواکمنه کېږي.

راځئ چې لومړی د افغان فلم د مرستندويه او مينه والو ځواکونو کچه وتلو. دلته په تول هېواد او د نورې نړۍ په کچه د افغان فلم سره مينه او مرستندويه ځواکونو شمېر لږ څه ډېرېږي خو دا سمبال شوی او منزم نه دی. نو اوس موږ ګورو چې دغه ورانوونکي او سيال ځواکونه لکه کليوال په ښار او کليو کې هندي، ايراني، پاکستاني او غربي فلمونه ، مذهبي ډلي او د جومات وکداران په پلازمينه او ولاياتو کې. او دا چې موږ وينو چې زموږ د سترګو په رپ کې بيا يې په سېنما کې او د فلمونو په دوکانونو کې يا بم الوزولوی وي او يا يې هم اور ورته اچولی وي دا د ورانوونکيو ځواکونو څومره ځواکمنتيا ښکاره کوي. او دا چې زموږ پوهان او مشران د پښتو فلم د ودې سره بې پروا دي دا پخپله د ورانوونکو او سيالو ځواکونو په کتار کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د عامو او پوهانو خوب او ویره او د پردیو او ناسمو دودونو وړاندې‌نه او یا ملاتړ په خپله د پښتو فلم ملا ماتوي.

د ښارونو په کورونو کې د فلم سره دومره دوښمني نشته لکه څومره چې په کلیو ده ، خودا بیا په د کوزې پښتونخوا په کلیو کې لکه سوات او مردان کې دا دوښمني بیا کمزورې ده. نو د ښار هلکان او نجونې کولای شي چې فلمونه وګوري، خو د فلم په کاروبار کې او په ځانګړې توګه په فلم کې کارکول دا نو بیا د ټولو کورونو په چاپېریال کې دومره لویه ستونځه ده چې ان د پېغور ځای یې نیولی دی. نو هلکان هغه هم د ښارونو به لږ څه د مور او پلار سره جنجال او خبرې اترې وکړای شي نجونې خو که چېرې دا خبره را اوچته کړي نو په مرګ به وګواښل شي.

د پښتو فلم مرستندویه ځواکونه او فرستونه د اوس مهال لپاره بیا هم په ډېر بد هالت کې دي. د خدای بخښلي حشمت خان ،چې یو افغان فلم جوړوونکی دی، په وینا د ده د فلم لپاره په ټوله نړۍ کې یوه پښتنه ورته پیدا نشوه چې ده سره په فلم کې کار وکړي نو دې ته وګورئ چې زموږ فلم په کومه ټیټه کچه کې دی. کوم وخت چې ما په برېتانیا او هالند کې ولید او ده راته دا د یوې لویې اند ښنې په څېر دا خبره وکړه نو ما هم وروسته له نورو خبرو دا ورته په ډاګه کړه چې هلته په پېښور کې ډېرې ښې پښتنې انځورګرې(هنرمنداني) شته. ده ته مې دا مشوره ورکړه چې هلته هم ولاړ شي او هم د هغوی سره خپلې تجربې شریکې کړي. نو ده هم راته ښه وکړه. دا چې دی خدای په ځوانۍ که رانه واخیستو نو ما ته هم دا پته ونه لګېده چې دوی د دغو اړیکو جوړولو لپاره څومره پرمخ تګ کړی ؤ.

نو دا کوم یو یو فرست چې هم پیدا کېږي نو هغه به خامخا په پردیو وسایلو پوره کېږي او دا فرستونه به د پردیو او سیالو ځواکونو لخوا د ماتې سره برابرېږي. دا ځکه چې اوس د پاړسي، هندي، انګرېزي، اربي، ترکي ، اوردو او داسې نور فلمونو سره په ۷۰-۲۰ مېلیونه افغانانو کې دومره مینه وال شته چې پښتو فلم ته مینه وال د سره پیدا کېږي نه. نو پایله دا ده چې پښتو فلم ته کومه اړتیا چې شته هغه یا خو د نورو فلمونو لکه پاړسي، هندي، انګرېزي، اربي، ترکي ، اوردو او داسې نورو لخوا په غوښتنه چې بدلېږي ځوابېږي او یا هم دا غوښتنه په ځانګړې توګه په ژوبکه کې وژل کېږي او تر غوښینې کېدو پورې نه رسېږي چې بیا کوم پښتون را پورته شي هغه په پښتو فلم ځواب کړي او پښتو فلم ورته ورسوي. یوا ځې دلته په لندن کې ډېری افغانان اوس د خپل هېواد پلمونه ډېر اخلي. چې دې ته پام اړول په کار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو نندارې څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګیزه کې





Figure 24 انځور شمېره ۲۵ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه بېلګیزه·

لکه څرنګه چې مو فلم ولید او په دریو چاپېریالونو کې مو وڅېړلو په همدې توګه د پښتو ننداره هم غواړم چې وڅېړم·

ننداره په ننۍ بڼه کې دا یوه نوې برخه ده خو د افغانانو په ژوندانه کې ننداره د ډېر پخوا راهیسې شتون لري· چې د ډېر پخوا څخه به په کلیو کې ټوکیان ول او هغوی به یو یا دوه کسان ول او بیا به ټوکې کولې او یا یې هم کیسې کولې· د پښتنو ژوندانه ته ننداره په لومړي ځل په چارسده کې د حضرت پاچا خان په مرسته د خدایي خذمت ګارانو لخوا په نوې بڼه وړاندې شوه· ننداره زموږ په کلیو کې او ښارونو کې رواج شوې ده خو دې سره هم سیال او ورانوونکي ځواکونه شته او هغوی به او س وګورو چې په کومه کچه دي·

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کور:

د فلم په پرتله د کور په چاپېريال کې د ننداريو سره دومره مخالفت نشته. داسې هر کور کې په ټيټه کچه د ننداري لپاره مينه شته او هغه دا چې ډېرى مېندې او پلرونه خپلو ماشومانو کې يو يو چې ټوکې، پېشاړې او پېښې (ننداري انځورګري) کوي هغه بيا نازوي او په ځينو کليو کې بيا نجونې هم د کور او کلي په چاپېريال کې دا زړه ورتيا کولی شي چې پېښې او ټوکې وکړي. خو دا چې بيا دا ماشومان د ننداري لپاره په مسلکي کچه وغواړي زده کړې او يا هم کار وکړي نو بيا د غو ماشومانو مخه همدا ميندې او پلرونه او خپل خپلوان د کور په دننه کې ډب کوي او بيا ترينه پېغور جوړ کړي. داسې به ډېر کم کورونه وي چې هلته دې د ننداري لپاره ماشومان وروزل شي. نو دا ويلای شو چې ورانوونکي او سيال ځواکونه شته خو د مرستندويه ځواکونو ځواکمنتيا هم د پام وړ ده چې موږ دلته بيا فرست هم لرو او اړتيا هم شته د کور په دننه کې. او دا اړتيا په غوښتنه بدله شوې ده ، چې ان په هر کور کې رسولو ته اړتيا ليدل کېږي. د دغې غوښتنې لپاره د ځواب توکي جوړول د کورونو د خوښې په کچه او ورته توکي د فرست د ډکولو لپاره جوړ او وړاندې شي خو په ډېر پام سره.

## کلی:

همدا چې موږ د کلي چاپېريال ته راځو نو ګورو چې پدې کې لوبغاړي او ځواکونه ډېرېږي. د کلي په چاپېريال کې د ننداري سره د کلي په کچه مينه هم ډېره ده او هم د ننداري د لوبغاړيو لپاره د ودې چاپېريال هم شتون لري. خو دا نندراه په ډېره کمزرې بڼه شتون لري. دا ننداري اکسره د کليو (چې هم ولايا تو او هم په ښارونو کې) ټوکيان دا دنده په مخ بيايي. او دا کسان پېژندل شوي کسان دي. او همدا شان د ښځو په مينځ کې هم همداسې پېغلې، کشرانې او ان زړې ښځې د ټوکو ډېر ښه مهارت او پوهه لري او په خپلو ټوکو سره دا نور خپلوان د ننداري په چاپېريال کې خندوي او خوښ يې ساتي. داسې کلي شته چې په هغه کې د کلي ټول خپل خپلوان نر او ښځې او بيا په ځانګړې توګه د خوښيو په وختونو کې دوی سره يو ځای د نورو خوښيو تر څنګ ټوکي ټکارې او هم ننداري جوړوي. چې دا ننداري بيا لږ څه پرمخ تللې بڼه لري. لکه په وردګو کې کومه زړه ښځه او يا هم همدا ټوکي ښځه د ناوې په ځای کېنوي او يو د ناوې شال وربانديي واچوي چې کله شاهدان د ښځو مينځ ته راشي نو دلته پينځه يا لس مشران او ډېرى هلکان هم وي چې بيا دا شاهدان چې دا خولې خلاسې کړي د خبرو لپاره نو په همدې شېبه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکي ښځه او يا هم کومه بله پېغله او يا ښځه دوی دواړه شاهدان په ډېر مهارت او ننبه ويشتنه په دا خولو باندې د اوړو په غونډاري وولي او ټول هم همدا شاهدان او هم يې ملګري په اوړو ککړ پکړ او سپين مين شي او ټول نارينه په تېښته بريالي شي ، نو پدې سره ټول د واده خلک دومره وخاندي چې اکسره خپلې اوښکې هم نشي درولای. همدا رنګه په افغانانو کې د کليو په کچه د نندارې لپاره په ځانګړيو وختونو کې او ځانګړيو ځايونو کې مينه او مينه وال شته. دا چې دا په ډېر يو کمزوري هالت کې ده نو دا به بيا وروسته وګورو چې څرنګه دا بډايه کړو او مخالفت ورسره له مينځه يوسو.

بلې خوا ته د نندارې سره چې په کليو کې کوم مخالفت شتون لري هغه بيا هم يو شمېر کليوال او هم هغه پلرونه او ميندې دي چې هغوی د دې په ارزښت نه پوهېږي. او هم (متعصب) يا وچ سري دي. د دوی تر څنګ ځينې مذهبې ډلې او د جومات واکدارن هم يې مخالفت په ډېره کلکه کوي او د دين په وسيله يې ټکوي. نو چې اوس د اړتيا او غوښتنې او رسولو چاپېريال ته راشو نو دلته دا اړتيا په غوښتنه بدله شوې ده او هم کوم بل څوک ورته دومره رسول نکوي. يوازې د ښارونو په کليو کې دا په ډېره اوچته بڼه ننداره وړاندې کېږي. نو دلته يوه ستونځه لار تر اوسه شته چې هغه هم په کليو کې د هغه چا سره چې وغواړي د نندارې لوبغاړي شي په ډېره سختۍ سره مخالفت شته او که چېرې نجونې وغواړي چې د نندارې نړۍ ته او کاروبار ته د تګ پکر وکړي نو دا به کېدای شي چې د ژوندانه په بيه ورته ګران پرېوځي. او دا نجونې به په مرګ وګواښل شي. نو په کلي کې يو لوی فرست شه دا هم په ډېر پام سره بايده چې غوښتنه دځوابلو لپاره په سمو توکيو سمبال شي.

## ټول هېواد او نوره نړۍ:

بره مو وليدل چې د نندارې لپاره چې څومره مينه شته د کلي په کچه او څومره مخالفت ورسره دی خو بيا هم د کلي په کچه غوښتنه ډېره ده او ځوابول يې يو اړين کار بريښي. په همدې توګه په ټول هېواد او نوره نړۍ کې چې مونږ د افغانانو نندارې ته ګورو نو دا په خورا ټيټه کچه کې ده. په ښارونو کې نندارې يو څه وده کړې ده. خو دا نندارې اکسره د نورو هېوادنو څخه کاپي کېږي ځکه چې دا د کليو سره ډېر لږ تړاو لري او هم همدا کسان چې نندارې لوبغاړي دي همدوی هم د کليو سره کمې اړيکې لري. نو د ښارونو په کچه د نندارې سره مينه په غوښتنه بدله شوې ده او د ځوابول يې هم د هېواد د کلتور لپاره ښه رول لوبولی شي. کله چې مونږ نندارې ببا په سي ډي ګانو کې ګورو هغوی بيا ډېرې يې اوتې بوتې دي. خو بيا هم د وې په حال کې دي. د نندارې سره چې څومره مخالفت شتون لري هغه بيا په ښارونو کې خورا سمبال او منزم دی او زور د مخالفت هم خورا ځواکمن دی. په همدی توګه د نندارې سره چې بيا څومره مينه ده او دا مينه چې ببا په غوښتنه بدله شوې ده دا بيا په ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه به کوزه پښتونخوا کې ډېره ځواکمنه ده. خو هلته بيا د ننداريې سره مخالفت په ډېره ځواکمنه کچه دی چې ان يې نشتر هال بند کړ. او هغه مذهبې ډلې او د جومات واکداران دي چې د ننداريې سره دوښمني کوي او افغان کلتور په لوی لاس وژني. او دا لويه تېروتنه او زياتی دی. دا چې زموږ مشران، پوهان او سياسي او ټولنيزې ډلې د دې په مقابل کې بې پروا دي دا په خپله د غليم په سنګر کې دربدل دي او د د سيالو او ورانوونکو ځواکونو په کتار کې دربدل او د هغوی تله درنول دي. نو د مرستندويه ځواکونو ځواک او زور سره زياتی کېږي. نو په کار خو دا ده چې د ا پوهان، مشران او سياسيون خو دې لږ ترلږه د مرستندوی ځواکونو ملاتړ خو وکړي. تر څو دا مينه چې په غوښتنه بدله شوې ده هغه د ځوابلو لپاره په يو سم کاروبار بدل او يوه ځواکمنه اقتصادي برخه د کلتور وګرځي. نو موږ ګورو چې د ننداريې لپاره فرست شته چې په مينه، اړتيا ولاړ او بيا غوښتنه چې دا فرست يې جوړ کړی دی. نو د دې په مخالفت کې چې څومره ځواکونه شته هغه له پامه نشو غوځولای چې د بهرنۍ ننداريې لکه ، هندي، پاړسي، اوردو ، انګرېزي، اربي، ترکي او داسې نور زموږ د ننداريې سره په سيالۍ کې دي. نو دا فرست هم پکار دي چې د کور او کلي په مرستې او بنسټ سره په ګډه ځواب شي او کلتوري توکي ورته په ډېر پام جوړ او وړاندې شي. داسې ونشي چې بيا د همدا مذهبي ډلې او د جومات واکدارن او ځينې ساده او ناپوهه وچسري کسان په ګډه سره د ننداريې مرۍ ټوله پرې کړي او د نورو پرديو هنرمندانو لپاره ډګر تش کړي چې بيا هغوی پرې مزې وي او نوره شتمني مو رانه په دې توګه هم وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو انځور څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګيزه کې





Figure 25 انځور شمېره ۲۲ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنيزه بېلګيزه٠

انځور په افغانانو کې ډېر پخوانی تاریخ لري٠ د دې ژور او تاریخي څېړل د ما د څېړنې او لیکنې د وسه وتلي او د موخې نه لېرې خبره ده٠

لکه څرنګه چې د فلم او نندارې برخې مو له دوو اړخولو مړی یې د اړتیا ، غوښتنې او رسولو او دویمه یې د په هغه کاروبار کې د مرستندویه ، ورانوونکو او سیالو ځواکونو څېړنه په دریو چاپېریالونو کې وکړه ، همدا شان به د انځور څېړنه په ورته تګلاره وکړو٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کور:

اوس چې يو ځل بيا په دغه بېلګيزه کې د انځور څېړنه کوو نو بيا هم ګورو چې د کور په چاپېريال کې د انځور سره مينه اړتيا او هم يوه مهارت ته آوښتې ده. د کور په چاپېريال کې انځور په ډېر پخواني پړاو کې دی. هلکان د يو ډول انځور سره مينه لري او هغه کاږي او نجونې بل ډول انځور سره مينه لري او هم يې کاږي. د بېلګې په توګه د کورونو په چاپېريال کې هره پېغله مخکې له دې چې واده شي نو دا بايده چې يو څه د کور کارونه يې زده کړي وي او د انځورونو کاږل او هغه هم په پردو، د سمالونو، د ماشومانو او لويانو ټټر، د ښځو پر جامو، د بالښتونو او کټونو پر پوښونو باندې د لاس کار چې ښکلي انځورونه وربانديې ګنډل کېږي دي. او دا انځورونه بيا ډول ډول دي. د هلکانو انځورونه بيا چې دوی ښونځي ته ځي نوره هم وده کوي. په ټولنه کې انځور ته اړتيا شته د ژوندانه په برخو پورې پايښتي ګنډل شوې ده، او دا بيا په غوښتنه بدله او په رسولو کې يې همدا د کور په چاپېريال کې هلکان او نجونې بوختې دي. چې دې ته مرستندويه ځواکونه وبيلای شو او بلې خوا ته د دې مخالفت چې کوم ميندی او پلرونه او خپلوان دي هغوی د ورانوونکيو او سيالو ځواکونو ځای نيسي. دلته يو اځې سيالي هم شته چې ورونه او خويندې ان د کور په چاپېريال کې په سيالۍ بوخت دي او دا سيالي د سمبالولو په پوهه کې ډېر ارزښت لري چې دا په خپل وار سره ښېګڼه مينځ ته راولي او انځور ته د کور په چاپېريال کې وده ورکوي. نو زموږ انځور ته په کورونو کې په يو ځانګړې برخه کې فرست شته چې دا بيا کولی شو چې وده ورکړو او بيا يې د انځور نورو برخو ته خپور کړو. نو په پايله کې وبيلای شو چې د کور په چاپېريال کې وراونوونکي او سيال ځواکونه بيا هم يو څه نا څه ځواکمن دي. خو که دا نجونې او هلکان وغواړي چې بيا دا مينه او مهارت بيا په مسلک واړوي نو بيا د هلک سره خو مخالفت سخت دی خو د نجونو په کچه نه چې تر مرګه پورې ګواښ او ستر پېغور دی.

## کلی:

کله چې موږ د کور د چاپېريال څخه لږ څه د کلي چاپېريال ته راوځو نو ګورو چې دلته دا ځواکونه اړتياوی، غوښتنې او رسول ټول بيا بل رنګ ځان ته غوره کوي. په کلي کې د انځور لپاره بيا ستونځې د ورانوونکيو او سيالو ځواکونو لخوا بيا ډېر زياتې دي. دا ځکه چې دا ورانوونکې او سيال ځواکونه بيا چې کوم ځای په ټولنه کې لري د هغوی اغېزه خورا ډېره ده. چې هغه انډول چې په کور کې ول هغه بيا د کلي په کچه خورا کمزوری دی. د انځور سره مرستندويه ځواکونه د کلي په کچه کمزوري دي. موږ چې دغه بېلګيزې ته ګورو نو موږ ته په ښکاره ښکاري چې په کلي کې چې مذهبي ډلې او د جومات

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکداران او ورسره چې ځینې د کلي او ښارونو خلک د انځور سره مخالفت کوي دا مخالفت انځور ورانوي او د ورانوونکو او سیالو ځواکونو ځای نیسي٠ چې دوی د مرستندویه ځواکونو په پرتله بیا ځواکمن دي٠ او هغه فرست چې په کور کې ؤ هغه بیا په کلي کې کمزوری دی٠ نو غوښتنه د کلي په کچه په بل ډول ده چې دا د ودې مخنیوی کوي٠ دلته موږ ګورو چې دا مخنیوی بیا هم لکه د ننداری او فلم په کچه نه خو په بله بڼه د انځور مری پرې کوي او ودې ته یې نه پرېږدي٠ کوم هلکان او نجونې چې د انځور سره مینه لري او په کې مهارت هم لري نو دا نوره وده نشي کولای٠ دا ځکه چې غوښتنه پېغور شوې ده٠ یوازې هلکان کولای شي یو څه نا څه هغه هم په خورا کم شمېر سره د انځور سره د مینې په برکت تړاو وساتي خو نور کوم داسې هڅوونکي او غوښتنې نشته چې دا مخ په وړاندې ولاړ شي٠ دا ځکه چې مخالفت او ورانوونکي ځواکونه خورا ځواکمن دي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تول هېواد او نوره نړۍ:

او اوس چې دې پاس ښېلګیزې چې ته ګورو دلته موږ ته یو بدلون راته په ګوته کېږي دا ځکه چې هغه کوم چلند چې د کور په چاپېریال چې کېده د انځور سره هغه بیا د کلي په کچه بل دول ؤ. او د دې دلیل همدا د اړتیاوو، غوښتنو او رسولو دا ورانوونکیو، سیالو او ځواکونو د مرستندویه ځواکونو په زد ول. د کلي په کچه زموږ د انځور سره لویه ستونځه ده. او چې اوس بیا د تول هېوا د او نورې نړۍ په کچه خپل انځور ته ګورو نو دلته بیا دا انځور لپار همدا ځواکونه او غوښتنې هم خپل انډول بدلوي. په ښارونو کې همدا چې غوښتنې زیاتیږي د هغې نه په لوړه کچه بیا ورانوونکي او سیال ځواکونه بیا ډېرېږي. دلته د انځور د کاروبار لپاره یو ګډ و وډ انځور لاس ته راوړو. په عامه توګه خو د ماډل ځخه ښکاري چې ورانوونکي او سیال ځواکونه ډېر ځواکمن دي خو بیا دغه کورنۍ اړتیا چې د کلتور او دود او دستور په مرسته رامینځته شوې غوښتنه یې هم په ښارونو کې بیا خوځولې ده. خو بیا په ښارونو کې په ځانګړې توګه په پلازمېنه کې بیا د انځور سره سیاسي او تاریخي اړتیاوې هم د انځور سره یو څه نا څه مرستندویه برخې جوړېږي. د دې سره سره چې موږ ګورو دلته د تول هېواد په چاپېریال کې ورانوونکي او سیال ځواکونه دومره ځواکمن دي چې دا اړتیاوې بیا هم په کور کې د ننه د غوښتنې خوا ته نه پرېږدې او کې چېرې بیا په غوښتنه بدلېږي بیا نو هغه د پردو لخوا رسول ورته کېږي. د ښېلګې په توګه د بودا د بیا رغولو لپاره د جاپان څخه پوهان راوستل کېږي. او د موږ لپاره یوه بله ستونځه لکه د فلم او ننداري په کاروربار کې ولیدل شو هغه دا چې زموږ چارواکي، پوهان او مشران چې کومه بې پروایي د خپل دود دستور سره لري او په دې ځانګړې د انځور په کاروبار کې دا هم د ورانووکیو او سیالو ځواکونو سره مل دي او مرستندویه ځواکونو او غوښتنو ته ګواښ ګرځي. د دې سره سره دلته یو ښه فرست شته چې موږ کولای شو چې د غوښتنو او اړتیا او مرستندویه ځواکونو په مرسته یې د ځینو دودیزو چلوونکیو په هڅولو سره وخوځوو او د ودې لپاره یې چاپېریال برابر کړو. چې بیا دا په خپله د نورو برخو سره مرستندویه ونډه لوبولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو ټنګ ټکور څېړنه د دود دستور او هنر انځور بېلګیزه کې





Figure 26 انځور شمېره ۲۷ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه بېلګیزه.

ټنګ ټکور یا موسیقي د هر کلتور هغه برخه ده چې د ژبې د ودې لپاره ډېر لوی رول لوبولای شي. او موږ به وګورو چې د پښتو ټنګ ټکور د پښتو ژبې د ودې لپاره په کومه کچه مرسته کولای شي. دا به هم وګورو چې دا د یوه چلوونکي په توګه موږ کارولای شو او که نه.

لکه څرنګ چې مو د دستور د نورو برخو سره په ټولو چاپېریالونو کې یو څه نا څه مینه او غوښتنه په یوه ګډوډ هالت کې ولیده خو د موسیقي انځور او عکس بیا دلته بل شان ته دی. دا ځکه چې د ټنګ ټکور یا موسیقي سره خو مینه خورا ډېره ده او هم اړتیا غوښتنې ته اوچته شوې ده او هم په خپل هېواد کې ورته رسول کېږي. نو او س به وګورو چې بیا ستونځه چېرې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څه ده او زموږ موسیقي ولې بیا سمه وده نه کوي. نو دا به هماغسې په دریو چاپېریالونو کې د ځواکونو او غوښتنو په چوکاټ کې وڅېړو.

## کور:

زموږ د کور په چاپېریال کې که یو څوک هر څومره کرکجن هم وي خو د موسیقي سره یې یو څه نا څه مینه شته او د هغه په شتون کې هم ټنګ ټکور اورېدل کېږي. خو دا چې بیا د موسیقي په کاروبار کې برخه اخیستلو او یا هم سندرغاړی کېدو او نڅاګر کېدو خبره سره څېړو نو بیا دا انځور په بل مخ اوړي. او چې بیا په کور کې پښتو ټنګ ټکور خبره هم مینځ ته راځي نو بیا هم انځور بل رنګ اخلي. نو موږ دریې بیلابیلې برخ د کور په دننه کې بایده چې وڅېړو.

لومړی دا چې اړتیا او مینه چې په غوښتنه اوښتې ده دا یو ښکاره خبره ده. خو زموږ د کور په چاپېریال کې بیا دې غوښتنې ته د رسولو لپاره چې کومه سیالي روانه ده هغه زموږ خپلو سندرغاړو او د موسیقي د کاروبار خلکو او هنرمندانو بایللې ده. دا ولې ؟

دا ځکه چې د کور په دننه کې همدا د کور غړي دي چې د پردیو او سیالو ځواکونو ملاتړي دي. یدې چې دوی د پردیو د ټنګ ټکور پیتې، سي ډي او نور توکي اخلي او زموږ خپله موسیقي د غوښتنې په سیالۍ کې پاتې راځي، او زموږ د ټنګ ټکور په کاروبار هم بده اغېزه اچوي. او دا ځکه چې، کله چې موږ د موسیقي د کاروبار خبره کوو، دبیلګې په توګه یا سندرغاړی کېدل او یا هم هنرمند کېدل او یا هم د هنر د تجارتي برخو چلول، نو بیا انځور بدل ځکه دی چې بیا دکور کوم غړي چې دا مینه ښکاره کړي هغه سره د پېغور چلند کېږي، او یواځې په ډېر کم شمېر د ښارونو هلکان او د ګوتو په شمېر نجونې دا مینه ښکاره کولای شي. خو بیا که چېری د کلي نجونې د کور په چاپېریال کې د ټنګ ټکور سره مینه ښکاره کړي یا په دې مانا چې وغواړي چې سندرغاړې شي نو هغه به د مرګ په ګواښونو وډارول شي. او ټول ژوند به ورته پېغور جوړ شي.

زه خپله چې ماشوم وم زما د سندرو سره خورا ډېره مینه وه. او ما به ډېرې سندرې زده کولې خو دا به مې ځان سره او د ملګرو سره په سیالۍ کې بللې. زما د سندرو ویېلو سره ډېره مینه چې زه هم په سټېج سندرې وو ایم او ملګرو به راته وېیل چې ته په دې ټولګۍ له موږ ټولو تکړه یې. هغه وخت چې په شپږم او اووم ټولګۍ کې وم لکه د بل هر وخت په شان د هندې سندرو ډېر بازار تود وو او هغه ځکه چې هلکانو او نجونو به د هند پلمونو څخه سندرې زده کولې. ما هم یوه سندره زده کړې وه. نو چې موږ هلکان او نجونجي کوچې ته د لوبو لپاره راووتلو نو ما به له ډېرو دا سیالي وګټله او هغه هم ځکه چې دې نورور به نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندره سمه زده وه او نه یې هم سمه وبیلای شو ای. زموږ په ښوونځي کې د سندرو وبیلو لپاره غوښتنه وشوه نو ملګرو راته وکتل او زما نوم یې هم ورکړ نو ماهم ووبیل هو سمه ده. چې زه خو هم کپتان یم او هم د دې نورو څخه ښې سندرې وبیلای شم. نو چې کور ته راغلم چې دا کیسه مې مور او پلار ته وکړه دوی راسره هیڅ مرسته او ملاتړ ونه کړ او راته یې وویل چې د پلار رڼېرې او پګړې ته دې ګوره او دې سندرو ته او بیا خو د سرو روسانو ته ګوره او د هغوی ګوډاګیانو ته. نو ما هیڅ هم ونه ویل او بله ورځ مې خپل نوم لرې کړ. نو بیا مې د خپل یوه ملګري سره چې نوشاد چې له ماڅخه دوه ټولګۍ ټیټ و هغه سره د سندرو وبیلو مرسته کوله. هغه به راته وبیل چې دا سندره ته خو ځله ماته ته تېره کړه نو بیا ده هماغه سندره په د سینما پر ستېژ وبلله او ماته یې ډېر خوند په دې راکړ لکه چې ما بللي وي. او خورا ډېر خپه هم شوم چې پر ما دا ستېژ د کور لخوا وتړل شو. زه نه وایم چې ماڅخه دا سې او ها سې سندرغاړی جوړ شوی و. خو ماته چا دا چانس رانکړ او زما دا ارمان تر او سه په زړه کې غوټه پروت دی. که خدای کول چې دا غوټه به یوه ورځ پرانیزم. نو دلته دغه چلند خپله د ژوندانه د اټیاوو سره په درغلۍ کې دی. او چې موږ د ټنګ ټکور سره مینه لرو خو بیا سندرغاړي او موسیقي هنرمند ته په سپکه ګور او بیا د نورو د موسیقي توکي هم اخلو نو بیا خو زموږ خپله ټنګ ټکور په یو لوی ناورین او کړکېچ کې ده. نو موږ په خپله په لوی لاس د ورانوونکو او سیالو ځوانوکو مرسته او د خپل هنر او ټنګ ټکور یا موسیقۍ مرۍ پرې کونه کوو. په پایله کې به دا وو ایو چې کومه غوښتنه چې د کور په چاپېریال کې ده هغه په دوو برخو کې د دوو ګوانبونو سره مخامخ ده. چې یو ګوانښ د سیالو ځواکونو دی چې زموږ د ټنګ ټکور یا موسیقۍ سره یې کوي. او دا سیال ځواک ګوانښ دا د نورو ژبو موسیقي ده چې دا په غوښتنه باندې به ده اغېزه اچوي ځکه چې کومه پیسه چې بایده په کورنۍ ټنګ ټکور ولګي هغه د پردیو ټنګ ټکورونو یا موسیقیو خوراک شي نو بیا د خپل هنر لپاره څه پاتې نه وي او بیا یې زموږ خلک یا هم خوشې غواړي او یا هم مفت یې کاپي کوي چې دا یو دا چې غلا ده او بله دا چې د هنر او کلتور سره لوی زیاتی دی.

او بل ګوانښ همدا د هنرمند کېدو خبره ده چې د کور په چاپېریال کې دغه مینه او دغه چې غوښتنه هم ده وژل کېږي او ډېری ورتیاوې د موسیقي خاورې کېږي.

نو د کور په چاپېریال کې چې کوم فرست شته هغه به د سیالو او ورانوونکیو ځواکونو څخه وژغورل شي او هم دغه د هنر په زد پیغورونه چې د کور په چاپېریال کې دي د رول ماړولونه په مرسته له مینځه یوړل شي. نو اوس زموږ ټنګ ټکور یو څه نا څه د دکلتوري برخې د چلوونکي ځواک په توګه کارول کېدای شي تر څو د پښتو ژبې د ودې لپاره مرستندویه رول ولوبوي. خو دا به وروسته هم د نورو تر ځنګ وګوروو چې دا به څنګه تر سره کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلی:

ټنګ ټکور زموږ د کلي په چاپېریال کې لکه ننداره همداسې هالت لري. تو پیر یې په دې کې دی چې د ننداري لپاره پېغور نشته خو د ټنګ ټکور لپاره دا بیا لوی پېغور دی چې د چا زوی سندرې ووایې. او چې د چا لور سندرې ووایي نو په مرګ به وګواښل شي.

په کلي کې د ټنګ ټکور غوښتنه بیا د کور په کچه لویه ده. او همدا رنګ د اړتیا او غوښتلو لپاره ځوابول او رسول هم ډېر دي. په همدې شان د کلي په چاپېریال کې د ټنګ ټکور په زد ورانوونکي او سیال ځواکونه هم خورا ځواکمن دي. موږ ګورو چې مذهبي ډلې او د جومات واکداران بیا خپله بنه ښکاره کوي د ټنګ ټکور یا موسیقۍ سره په دوښمنۍ کې. د دوی تر څنګ هغه کلیوال چې د دوی تر اغېزې لاندې راغلي او یا هم په خپله وچسري دي هغوی هم د موسیقي سره دوه ډوله دوښمني کوي. یو دا چې د ټنګ ټکور یا موسیقي د هنر سره او بله دا چې د هنرمند سره یې. او بیا خپل خپلوان خو لا پرېږده دا کلي نور ځوانان هم د سندرغاړي کېدو او هنرمند کېدو څخه راګرځوي. د دې ورانووکیو او سیالو ځواکونو تر څنګ بیا دلته نور سیال ځواکونه شته چې هغه د نورو هېوادونو او ژبو کلتوري توکي او موسیقي ده چې بیا د افغان د موسیقۍ سره د سیالو او ورانووکیو ځواکونو کار کوي او زموږ موسیقۍ ته لوی ګواښ جوړوي. د کلي په کچه چې څومره غوښتنه شتون لري هغه بیا ټوله د دغو سیالو او ورانووکیو ځواکو لخوا هم تر ولکې لاندې راځي او هم مخ په کمېدو ده. نو په کلي کې هم یو لوی فرست شته او تر څنګ یې دا ګواښونه او سیال او ورانوونکي ځواکونه شته چې مرستندویه ځواکونه په خورا سختۍ سره ساه اخلي. موسیقي هم یو څه نا څه کېدای شي چې د کلتوري چلوونکیو او خوځوونکیو ځواکونو رول ولوبوي او هغه هم په ډېر پام سره چې موږ دا سیال او ورانووکیو ځواکونو سره څرنګه چلند وکړو. او پخپله د افغان هنرمندانو تر مینځ هم د کلي په کچه چې کومې سمې سیالۍ ته اړتیا ده هغه بیا وروستنۍ خبرې دي چې بیا به پرې څېړنې نه وروسته خبرې وکړوو.

## ټول هېواد او نوره نړۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ چې چاپېریال څومره لویېږي همدومره د ځواکونو او غوښتنو انځور بدلېږي. د افغانانو په ښارونو کې چې څومره د ټنګ ټکور یاموسیقي سره مینه او ورته اړتیا ده بیا همدومره ورسره غوښتنه نشته. د غوښتنې کچه د نورو کلتوري برخو په پرتله خورا اوچته او ډېره ده خو دا غوښتنه بیا چې ځوابول کېږي او توکي ورته رسول کېږي نو دلته ستونځه خپل ځان ښکاره کوي.

لکه څنګه مو چې د کلي په چاپېریال کې د ټنګ ټکور ځېړنه وکړه او هلته مو ولیدل چې غوښتنه او رسول د کومو ستونځو سره مخامخ ده ، زموږ ټنګ ټکور په ښارونو کې بیاتر هغې نه د ډېرو منزمو او سمبالو سیالو او ورانوونکیو او ځواکمنو ځواکونو تر ساتور لاندې ده. نور خولا پریږه دا چې زموږ د فلم اوموزیک دوکانونه لکه چې پاس ورته هم اشاره وشوه یا خو په بمونو الوزل کېږي او یا هم سوځول کېږي نو بیا د ورانوونکیو ځواکونو پېاوړتیا بې بریده او زیاتېپاله ده. او دا چې زموږ پوهان، سیاسیون او چارواکي بې پروا دي دا په خپله د ورانوونکیو ځواکونو ملګرتیا او د هغوی ملا تړل دي. دا به یا وېره وي یا بې پروایي او هم بې خبري خو هر یو چې وي دا په دوی پور دی چې د دغه هالت څخه راووځي او د مرستندویه ځواکونو سره مل شي او د چلوونکیو او هڅوونکیو ځواکونو د غوښتنو په پارولو کې ژوندی ونډه او برخه واخلي.

سره لدې چې مرستندویه ځواکونه هم ډېر دي خو دا مرستندویه ځواکونه بیا دومره سمبال ندي لکه څومره چې ورانوونکي او سیال ځواکوونه دي. او بله دا چې دوی بیا ځواکمن هم ندي.

او چې غوښتنې ته ګورو نو دا غوښتنه بیا هم د ورانوونکیو ځواکونو او سیالو لخوا هم تر ساتور لاندې او هم د نورو ژبو کلتوري توکي، چې د سیالو ځواکونو په بڼه کې دي، تر برید لاندې دي. نو زموږ د غوښتنې څېړنه چې کوو نو دلته ګورو چې دا غوښتنه همدې سیالو ځواکونو د ورانوونکیو ځواکونو او ویده او بې پروا پښتنو په مرسته تر ولکې لاندې راوستلې ده. دلته هماغه د کور ګوابښ چې هلک یا نجلۍ نشي کولای چې د ټنګ ټکور یا موسیقي په کاروبار کې کار وکړي یا نې هنرمندان شي هغه ګوابښ لا نور هم د نفوس په کچه لا ډېر شوی دی، سره لدې چې نن سبا د افغانانو په تلویزیونو کې د هنرمندانو لپاره د ودې ځینې پروګرامونه شته دي. خو دا کېدونکي هنرمندان بیا هم د هماغو ساتورنو لاندې دي.

نن سبا یو څه نا څه د افغانانو لپاره چې په نورو هېوادونو کې اوسېږي د خپلې موسیقۍ سره مینه په غوښتنه بدله شوې ده چې دا ډېری یې د کوزې پښتونخوا برکت دی. او هلته اوس د کلتور دا برخه په دریو ځواکونو چې اتڼ ، په خپله موسیقي او د پلم او ډرامو لپاره موسیقي ده موسیقي یې د ځواکمنېدو په خوا بیایې. بلې خوا ته بیا د ډېرو ستونځو سره مخ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ چې اوس ګورو دا بیا په ډېر چټې د ودې په پړاو کې ده ځکه چې اوس ځینې د موسیقي پر مخ بیوونکي د هنرمندانو څخه ناوړه مالي او سیاسي ګټې پورته کوي. چې سره دد ې چې دا تاوان او ختره شته خو بیا هم یو خپلواک چاپېریال شته چې دا په ډېر ښه فرست باندې بدلېدلای شي. او دا لږ څه پام او پوهه او مینه غواړي.

په پایله چې دا وېیلای شو چې زموږ موسیقي لا تر اوسه هم سره د دې ډېرو ستونځو کولای شي چې د کلتوري چلوونکیو او هڅوونکیو په توګه د نورو لکه ننداره ،،،، ترې کار واخیستل شي او په ډېر پام سره او سمبال شویو پروګرامونو سره. چې بیا دا پخپله د پښتو د ودې لپاره پاینښتي رول ولوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو اتڼ څېړنه د دود د ستور او هنر انځور بېلګيزه کې





Figure 27 انځور شمېره۲۸ د اتڼ دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنيزه بېلګيزه٠

زما خپله د اتڼ د ډول غږ ته تېکه نکېږي٠ چې يې واورم نو ټول په ولولو راشم او چې ځاى يې وي نو په اتڼ ورګډ شم٠ او چې اتڼ وکړم نو داسې وي لکه چې ټولې اند ېښنې او د زړه تنګوالي مې لرې شوي وي او چې بيا اتڼ ونکړم نو داسې وم لکه کوم ډېر اړين شی مې ورک کړي وي٠ په هر هغه ځاى کې چې اتڼ وشي او اتڼ وي نو تر يو يا دوه وچسريو نه پرته نور ټول افغانان که مشران دي که کشران که هلکان دي او که نجونې ټول د اتڼ سره خپله مينه ښکاره کوي٠ او بيا خو ان سپين ږيري هم د اتڼ ډلې ته وردانګي٠ ځينې خو بيا ورته بې خوده شي او بيا يې ځوک درودلی نه شي نو بيا به يو بل ځوک هغه په زور له ډګره راوباسي٠ دا د اتڼ يوه خوا ده چې نن سبا لا ژوندۍ ده٠ بل اړخ يې پوځي هنر دی٠ د مشر او ډېر د قدر وړ پښتو ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهسوار سنګروال سبب په خپل کتاب کې چې د پښتو ادبیاتو په معاصر تاریخ (۴۵۲-۴۴۵ پاڼې) باندې لیکلی دی د اتڼ او د اتڼ د نارواو د هغه د اهنګونو په هکله پوره مالومات ورکړي دي٠

" اتڼ د پښتنو دځوانانوا وپېغلو هغه نڅا ده چې په ډله ابزه توګه د ځانګړو حرکتونو له مخې اجرا کېږي، اتڼ د خو صیو ، جشنونو ، اخترونو او نورو خوشالیو په موقع ادا کېږي٠ دا حرکتونه بیلابیل پړانوونه لري او له هر پړاو سره ځانګړی اهنګ هم زمزمه کېږي او د اتڼ نارې ییې بولي چې په لاندې ډول دي،،،،،،،،،،،،،،، " شهسوار سنګروال ، د پښتو ادبیاتو په معاصر تاریخ (-۴۴۵ ۴۴۲ پاڼې)٠

او بیا د یوې ټیلیفوني مرکې په ترڅ کې د (۲۰۰۸-۰۴-۲۲) په نېټه مې ترې پوښتنه وکړه چې دا خو یو پوځي مهارت هم دی چې ما د افغانانو هغه کیسه چې د پاني پت په نیولو کې مشهوره ده پوښتنه وکړه٠ له نېکه مرغه ده پدې هکله یوه لیکنه کړې ده چې د خالو خان کیسه په کې ده٠ په دې کیسه کې خالو چې د سلطان مامود غزنوي د ځګړې ا وپوځ مشر ؤ د پاني پت په برید کې دوی څو ځلې پاتې راغلي ول٠ نو په پای کې خالو خان خپلو افغان پوځ ته امر کړی ؤ چې: ***" راځئ لمنې وترئ او چې په اتڼ پرې ورځوو "*** ٠ زموږ په وردګو کې اتڼ دوه ډولونه لري په عامه توګه یو عام اتڼ او بل برګ اتڼ چې پدې کې نارینه او ښځې سره په ګډه اتڼ کوي٠ او دا ټول دیوه لوی ټېر غړي په کې ګډون کوي٠ او نن سبا بیا په پر مخ تللو او روڼ اندو کورنیو کې بیا هر څوک په برګ اتڼ کې برخه اخیستلای شي٠ چې دلته هم په لندن کې او هم په پېښور کې مو دا برګ اتنونه په ودونو کې هم لیدلي او هم مو کړي دي٠

اتڼ به اوس د خپلو ښېرونو په چاپېریالونو او د ځواکونو په رڼا کې چې په غوښتنو او رسولو یې څه اغېزه اچولې ده وڅېړو٠ اتڼ به د دستور د نورو برخو په شان په همدغو دریو چاپېریالونو کې د ځواکونو او مینې، اړتیا اوغوښتنې او ځوابولو او رسولو په وړتیاوو وڅېړو٠

## کور:

کور په چاپېریال کې د اتڼ ښېرنه ډېره اړینه ځکه ده چې دلته موږ ګورو چې اتڼ ته لا تر اوسه پرته له ځینې وچ سرو نو ټول په سپکه نه ګوري٠ د ګران هېواد په ډېرو برخو کې اتڼ ډېر ډولونه لري ما چې په خپل کور کې اتڼ لیدلی و هغه دوه ډوله و٠ یو ساده اتڼ او بل برګ اتڼ چې ټول نر او ښځې به پرې ورګډ وو٠ د کور په چاپېریال کې د اتڼ سره مینه ډېره ده٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کلي:

موسيقي زموږ د کلي په چاپېريال کې لکه ننداره همداسې هالت لري· توپير يې په دې کې دی چې د ننداري لپاره پېغور نشته خو د موسيقۍ لپاره دا بيا لوی پېغور دی چې د چا زوی سندرې ووايي· او چې د چا لور سندرې ووايي نو په مرګ به وګواښل شي·

او پخپله د افغان هنرمندانو تر مينځ هم د کلي په کچه چې کومې سمې سيالۍ ته اړتيا ده هغه بيا وروستنۍ خبرې دي چې بيا به پرې څېړنې نه وروسته خبرې وکړوو·

## ټول هېواد او نوره نړۍ:

زموږ چې چاپېريال څومره لويېږي همدومره د ځواکونو او غوښتنو انځور بدلېږي· د افغانانو په ښارونو کې چې څومره داتې سره مينه او ورته اړتيا ده بيا همدومره ورسره غوښتنه هم شته· د غوښتنې کچه د نورو کلتوري برخو په پرتله خورا او چته او ډېره ده خو دا غوښتنه بيا چې ځوابول کېږي او توکي ورته رسول کېږي نو دلته ستونځه خپل ځان ښکاره کوي·

لکه څنګه مو چې د کلي په چاپېريال کې د اتڼ څېړنه وکړه او هلته مو وليدل چې غوښتنه او رسول د کومو ستونځو سره مخامخ ده ، زموږ اتڼ په ښارونو کې بيا تر هغې نه د لږ څه منزمو او سمبالو سيالو او ورانوونکيو او ځواکمنو ځواکونو تر ساتور لاندې دی خو د نورو کلتوري توکيو په پرتله اتڼ په ډېر ځواکمن او ښه کچه کې دی·· نور خولا پريږده دا چې زموږ د فلم او موزيک دوکانونه لکه چې پاس ورته هم اشاره وشوه يا خو په بمونو الوزل کېږي او يا هم سوځول کېږي د نو بيا د ورانوونکيو ځواکونو پياوړتيا بې بريده او زياتېپاله ده· او دا چې زموږ پوهان، سياسيون او چارواکي بې پروا دي دا په خپله د ورانووکيو ځواکونو ملګرتيا او د هغوی ملا تړل دي· دا به يا وېره وي يا بې پروايي او هم بې خبري خو هر يو چې وي دا په دوی پور دی چې د دغه هالت څخه راووځي او د مرستندويه ځواکونو سره مل شي او د چلوونکيو او هڅوونکيو ځواکونو د غوښتنو په پارولو کې ژوندۍ ونډه او برخه واخلي·

سره لدې چې مرستندويه ځواکونه هم ډېر دي خو دا مرستندويه ځواکونه بيا دومره سمبال ندي لکه څومره چې ورانوونکي او سيال ځواکوونه دي· او بله دا چې دوی بيا ځواکمن هم ندي·

(c) ketabton.com: The Digital Library



او چې غوښتنې ته ګورو نو دا غوښتنه بيا هم د ورانوونکيو ځواکونو او سيالو لخوا هم تر ساتور لاندې او هم د نورو ژبو کلتوري توکي، چې د سيالو ځواکونو په بڼه کې دي، تر بريد لاندې دي. نو زموږ د غوښتنې څېړنه چې کوو نو دلته ګورو چې دا غوښتنه همدې سيالو ځواکونو د ورانوونکيو ځواکونو او ويده او بې پروا پښتنو په مرسته تر ولکې لاندې راستلې ده. دلته هماغه د کور ګوابن چې هلک يا نجلۍ نشي کولای چې د موسيقي په کاروبار کې کار وکړي يا نې هنرمندان شي هغه ګوابن لا نور هم د نفوس په کچه لاډېر شوی دی، سره لدې چې نن سبا د افغانانو په تلويزيونو کې د هنرمندانو لپاره د ودې ځينې پروګرامونه شته دي. خو دا کېدونکې هنرمندان بيا هم د هماغو ساتورنو لاندې دي. نن سبا يو څه نا څه د افغانانو لپاره چې په نورو هېوادونو کې اوسېږي د خپلې موسيقۍ سره مينه په غوښتنه بدله شوې ده خو دا بيا د ودې په ډېر ځتي پړاو کې ده ځکه چې اوس ځينې د موسيقي پر مخ بېوونکې د هنرمندانو څخه ناوړه مالي او سياسي ګټې پورته کوي. چې سره دد ې چې دا تاوان او ختره شته خو بيا هم يو خپلواک چاپېريال شته چې دا په ډېر ښه فرست باندې بدلېدلای شي. او دا لږ څه پام او پوهه او مينه غواړي.

په پايله چې دا وېيلای شو چې زموږ موسيقي لا تر اوسه هم سره د دې ډېرو ستونځو کولای شي چې د کلتوري چلوونکيو او هڅوونکيو په توګه د نورو لکه نندارہ ،،،، ترې کار واخيستل شي په ډېر پام او سمبال شويو پروګرامونو سره. چې بيا دا پخپله د پښتو د ودې لپاره پايښتي رول ولوبوي.

لکه څرنګه چې مو د کلتور د نورو برخو په هکله ولېدل چې په ټولو چاپېريالونو کې د هغوی سره څومره ستونځمن او ځواکمن غليم ځواکونه مخامخ دي خو اتڼ د لوی خدای په پزل سره بيا په همدې چاپېريال کې بل هالت لري. لکه څنګه چې ګورو په ټولو کچو کې مينه ورسره دومره ډېره ده چې په ډېر ښه وده کې روان دی.

## په لندن او اروپا کې اتڼ

دلته په لندن کې د پښتو کلتوري توکيو ته د نورو ژبو په پرتله خورا ډېره غوښتنه او اړتيا ده. تازه څېړنې دا سې ښيي چې دلته د نوي کال ۲۰۰۹ په شپه مو په مرکزي لندن کې د اتڼ لپاره خپل پښتانه راغوښتلي ول چې د دا نوی کال به په اتڼونو کې لمانځو. کله چې هلته ولاړو نو دا اتڼ لپاره مو يوا ځې نېږدې سلو کسانو ته بلنه ورکړې وه. او دا د موږ لپاره لومړی ځل و چې په لندن کې په يوه بهر ځای کې اتڼ کوو. هلته چې کله موږ اتڼ پيل کړ او ډول مو ودرباوه، وغږاوه نو دومره نور پښتانه راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې بیا په اتڼ کې د دوی سمبالول ډېر ګران شول. زما په آند چې دوه درې سوه افغانان راغلي ول چې په ډېره مینه یې اتڼ کولو. افغانانو خو اتڼ کولو نو بیا به نور خلک لکه انګریزان، اروپایان، هندوان او د نورو هېوادو هلکان او نجونې به اتڼ ته راګډ شول چې بیا به یې اتڼ په بله کړ. بیا به زموږ ځوانانو په اتڼ کې د نجونو یا په کتار کې کول او یا هم د اتڼ له مینځ ځخه شړل خورا خوږ کار ورته جوړ شو. لومړی نوي کال په رارسېدو سره په چرنګ کراس (Charring Cross) کې اتڼ وکړ، لږ وروسته چې سمسمی شو نو بیا ترپالګر سکویر (Trafalgar Square) ته ولاړو او هلته مو نېږدې درې ګېنټې اتڼ وکړ. دا اتڼ دومره په شور او ډرب کې و چې ان د نورو توکمونو هلکانو او نجونو له لاسه مو اتڼ نه شو کولای. دومره اتڼ مو وکړ چې سم سم ستړي شوي ولو. بیا وروسته سره لدې چې ډېر ستړي شوو نو بیا لږ وروسته راغلو د پېکډېلي سکویر (Piccadilly Square) ته چې هلته مو هم نېږدې یوه ګېنټه اتڼ وکړ چې ډېری افغانان راغلل او اتڼ یې وکړ. په دغه درېواړو ځایونو کې ګران پوه او ملګري ښاغلي سپین تنې ډېری وخت اتڼ لپاره ډول وواهه او ما هم کله کله مرسته ورسره کوله. او دا د پېغور پدل مو وران کړ. او یوه نوې سمه د پښتو د ودې لپاره تیره مو کېښوده. چې بیا کله مې د ډېریو مشرانو سره خبرې وکړې نو دوی ټولو موږ ته مبارکی راکړې.

په دغه شپه موږ ولیدل چې ډېری ملګرو سره چې په کلونو کلونو یې یو بل نه وو لیدلي سره وموندل او سره غاړه غړی شول. موږ دا په سترګو ولیدل چې دوی یو بل ووېیل که دا ډول او اتڼ دلته نه وای نو موږ به سره نه وو لیدلي. ځکه چې پښتانه ډول او اتڼ سره را کاږل او دوی هم سره نا ببره ولیدل چې ډېر خوښ شول. نو ما هم یوه ته ووېیل چې کله بیا مو دا اتڼ پروګرام کولو نو تاسې به هرو مرو خبروو او تاسې به خپل ملګري هم خبروئ.

موږ په لندن کې اوس په ډېری ځایونو کې هم خپله ډول وهو او هم ورته اتڼ کوو. کله چې اختر وي او هم کله چې نورې ښې ورځې وي نو په همدې ډول او اتڼ یې لمانځو.

د لوی اختر په ورځ د چې د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په ۸ مه نېټه د اختر د مانځه ځخه وروسته مو تغرونه ټول کړل او اتڼ مو وکړ. کله چې مو اتڼ پېل کړ نو ډول راوړ چې زه به ډول وهم او دا نور به اتڼ کوي. ټولو راته ووېیل چې بیا به اتڼ ځوک کوي. نو پدې سلا شولو چې پېتې ته به اتڼ کوو. دوه اتنونه مو لا کړي نه ول چې ګل لا لا یانې ډاکټر سبب ببري ګل وزیري راغی. نو چې زما سترګې پرې ولګېدلې له ډېری خوښۍ نه مې سترګې له اوښکو ډکې او کوکه مې اوکړه چې پېټه او ټایپ بند کړئ چې اوس ډول ته اتڼ کوو. نو ګل لالا اتڼ لپاره ډېر ښکولی ډول وواهه چې بیا ورسته مو ډېر ښه او په زړه پورې اتنونه وکړل او دا اختر مو په اتنونو ولمانځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۲۰۰۸ کال کې د مهاجرو مياشت لمانځل کېدله او چې دوی ښاغلي سيد جان کارواني سيب ته بلنه ورکړې وه چې دوی د افغانانو د دود دستور او کلتور کومه برخه وړاندې کول غواړي. ما ته ښاغلي مستوپي سيب تېلېپون او راته يې وويل چې هلته که د اتڼ پروګرام لپاره څه تېاري کولای شو. ما ته يې هغه بلنه راوړاندې کړله او ما هم په خپل وار سره ښاغلي سپين تڼي، ډاکټر سېب ببري ګل وزير، سوله مل سيب شينواري سمسور فيض، انځور خان، او کوچي او ډېرو نور ځوانانو ته بلنه ورکړله. چې کله موږ هلته په هغه پروګرام کې برخه واخيستله نو هلته موږ د اتڼ په برکت ځو نور کارونه وکړل. اتڼ مو د ډول سره وکړ. خپل کالي او خپله شمله او پګړۍ مو داسې وروپېژندله چې دا د افغانانو نوښت او بشريت لپاره يوه مرسته ده. دا د افغانانو يو شان توب ښکاره کوي چې دوی امپراتورۍ جوړې کړي خو د ټولو پر سره ورته تاج دی. او په لومړي ځل مو د دې پر ځای چې زموږ اتڼ ته انګريزي نوم وکړي هلته موږ په دې ټينګار وکړ چې د دې نوم اتڼ دی او که څوک يې د ځای او خاوندانو پوښتنه کوي نو افغانستان او افغان دي. ډېر خوندور اتڼ وشو. او بله مو هم دا ورته ووېيل چې دا زموږ د ولسواکۍ ځانګو ځکه ده چې زموږ يو ډېر کشر هم زموږ د اتڼ مشري کولای شي چې ښه تکړه وي په اتڼ کې او نور ورپسې اتڼ وکړي. نو هلته د ډېرو هېوادونو ولسونو خپل دود دستور په ننداره کېښود او ډېرو ځوانانو او نجونو زموږ د اتڼ سره مينه ښکاره کړه او ستاينه يې وکړه. او زموږ د پګړۍ پلسپې او ښکلا هم دوی ته خوند ورکړ.

په لندن په جنوب لوېديز د لوشم(Lewisham, London )د يو شمېر پښتنو په نوښت زما ډېر ګران ملګري ښاغلي سمسور پېژ سيب چې تکړه ځوان دی ، يوه ټولنه د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په ۱۸مه نېټه پرانيسته. په دغه غونډه کې نه يوازې دا چې اتڼونه مو وکړل بلکې دا اتڼ په ښېګڼو باندې ما ډېرې خبرې په انګرېزۍ کې هم وکړې او دا مې هم په ګوته کړه چې زموږ اتڼ او جرګه د کلتوري پانګو په څېر کولای شي چې دلته او هم په لر او بر افغانستان کې د ترهګرۍ په زد مبارزه کې ډېر ښه رول ولوبوي. او هم همدا دوه کلتوري پانګې کوالی شي چې زموږ ځوانان د ( Terrorism and Extremism ) ترهګرۍ او زياتي پلوۍاو ان جرم جنايت، مخدره مواد او داسې نورو ټولنيزې بلاوو ،

څخه وساتي او دا دواړه کلتوري پانګي زموږ ځوانان د سړيتوب او انسانيت خوا ته لار ښونه کړي. چې بيا هلته مېلمنو ورته هرکلي وکړ. او بيا وروسته چې مو اتڼ ته ځان برابرولو نو ډول راوخيستو چې د اتڼ لپاره ډول ووهم. يو دوه شپېې مې لا ډول نه و وهلی چې ښاغلی سپين تنی سېب راغی او راته يې وويل چې ته اتڼ ته شه چې زه درته ډول ووهم. ما ته يې هم خوند راکړ چې بيا ما اتڼ ته ورودانګل، تنی سېب ډول وواهه او سندر غاړي سندرې ووېيلې. چې بيا وروسته ما هم يو څو اتڼونو ته ډول وواهه. چې ټول ځوانانو او مشرانو په اتڼ کې ګډون وکړ. دا غونډه ډېره بريالۍ سر ته ورسېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر په ۱۹، ۲۰ او ۲۱ مه باندې په هالینډ کې په افغانستان باندې نړیوال کنپرانس و. هلته مو هم له مرکو او کنپرانس وروسته برګ اتڼونه وکړل چې په پای کې ما ګډون کوونکو ته ووېیل چې اوس ټول افغان که لر دی که بر خپلو اکه کېږي ځکه چې زموږ مشرانو او خویندو په ګډه اتڼونه وکړل. له کومې ورځې نه چې ما ډول اخیستی دی د هغې ورځې راهیسې دا ډېر ځوانان شته چې هغوی هم ډولونه اخیستې دي او د ډول وهل یې څه نا څه زده کړي دي.

ما یو وخت په لندن کې لړلړ موټر چلولو هغه هم د شپې لخوا. نو موږه یو دوه پښتانه وو چې کله به کار نه وو نو ما به د خپل ګاډي سي ډي ولګولو چې په کې به مو د اتڼ سندره واچوله او په لوی واټ سرک به مو اتڼ واچولو. موږ سره چې نور ملګري د عربي هېوادونو او افریقایي هېوادونو به هم ول هغه به هم راګډ شول. نو بیا به کله کله داسې هم کېده چې یو بل افغان هم چې به رانیژدې شو هغه به هم خپل ګاډی ودرولو او یوه دوه څرخونه به یې وکړل او بیا به موږه خپل اتڼ کار لپاره بند کړ. نو ډېر خوند به یې کولو.

لکه څنګه چې په دواړو برخو کې هم د پوهې او هم د څېړنې څخه د څرګنده شوه چې اتڼ تر ټولو د پښتو د کلتوري، رسمي او نا رسمي برخو څخه په غوره هالت کې دی. نو اوس اړین بریښي چې اتڼ بیا نو سم د نوې پوهې په رڼا کې وڅېړو. مخکې مو اتڼ په هغه چاپېریال کې وڅېړلو چې هغه موږ ته دا راپه ګوته کړله چې اتڼ په غوره هالت کې هم دی او هم مینه ورسره ډېره ده او هم لا ژوندی دی. نو اوس به اتڼ داسې وڅېړو چې که اتڼ د یوه هڅوونکي او چلوونکي ځواک په څېر ومنو نو دا به څومره ریښتیانی او شوني وي؟

او څه اړتیاوې به وځېږوي، وخوځوي او وهڅوي؟

او څه وړاندېینه او د رسولو بازار به څومره تود کړي؟

او د دې اغېزې به اوږد مهال او لنډ مهال کې وي؟

او دا اغېزې به په کومه کچه کې څومره وي؟

او د دې اغېزې به په نورو کلتوري توکیو باندې څه وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور شمېره ۲۹ په لندن کې د خپلواکۍ د ورځې لمانځلو اتڼ Figure 28



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اتڼ هر اړخیزه څېړنه د دود دستور په بېلګیزه کې





Figure 29 انځور شمېره ۳۰ د دود دستوربرخو سره د ځواکونو څېړنیزه بېلګیزه.

مونږ خو وړاندې ولیدل چې اتڼ په کور، کلي، هېواد او نوره نړۍ کې ډېر مینه وال لري او دا د یوې کلتوري پانګې او وسیلې په څېر مونږ منلای شو. نو چې کله دا منو چې دا یوه ملي، او کلتوري پانګه او وسیله ده نو دا څه لري او څه اغېزې لري؟

لکه څنګه چې په پاسني ماډل او بېلګیزه کې ښکاري چې اتڼ شپږ ډېرې ښکاره برخې د مونږ په ټولنه کې روزي او وده ورکوي چې دا برخې په دې ډول دي:

## ۱ نزم او خپلواکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ لورليد او نوښت

## ۳ کالي او ښکلا

## ۴ مشر تابه او د هغه د لاس ته راوړو لپاره په ښه والي سيالي

## ۵ ولسواکي او د ولسواکۍ لپاره د سيالو ډلو زېږېدنه او بيا په ښېګڼه سيالي او د ولس زړه تر لاسه کول

## ۲ ټولنيزې اړيکې ډېرول او ځواکمن کول

نو اوس به دا هره برخه لږ نوره هم روښانه کړو٠

## ۱ نزم او خپلواکي

کله چې اتڼ کېږي نو ټول بايده چې د ډول هر درز ته په ګډه او نزم سره د وجود هغه غړي چې اړين وي وښوروي او پر مخ، پر شا او يا هم ځای پر ځای خوځښت وکړي٠ نو دا نزم د ماشومتوب څخه د مونږ په لاندېني خپل او زمير کې ځای پر ځای کېږي او نزم زده کړه راکوي چې بيا په ژوندانه کې په نزم پوهېږو٠ نزم يې دا دی چې مشر چې کوم ډول اتڼ کوي نو ټول به په مشر پسې هماغسې اتڼ کوي٠ که دی لاسونه پورته کوي، که څنې ښوروي، که لاسونه په ملا نيسي، که لاسونه په اوږو نيسي او همدا سې نور، نو ورپسې اتڼچيان د دې لار روي کوي٠ همدا شو نزم٠ په کلتور کې د نورو رواجونو تر څنګ اتڼ هم يو ځواک دی چې خپلواکۍ ته ډېره وده ورکړي٠ د بېلګې په توګه، په اتڼ کې د پښتنيزو څنيو درلودل په خپله هغه انساني خپلواکي ده چې دا يواځې اتڼ ساتلای او ستايلای شي٠ په هر وخت کې او هر ځای کې اتڼ کول هم د خپلواکۍ بېلګې دي چې موږ ورته د ښه راتلونکي په جوړولو کې تر ښه کار اخيستلای شو٠ او برګ اتڼ هغه اتڼ دی چې زموږ ټول مشران، کشران، نر او ښځې په کې برخه اخلي چې د خپلواکۍ او برابرۍ يوه ځانګواو تل مخ په وړاندې ژرنده يا مېچن ګڼلای شو٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اتن کې ځینې هم ډېرې ښې وي نو د ځینو پرېښودل په خپله هم زموږ ځوانانو او پېغلو ته د خپلواکي متره ورکوي او هم د نوښت خواته خوځوي.

## ۲ لورلید او نوښت

په افغانانو کې اتڼ ډېر ډولونه لري. خو دا ټول ډولونه یې بیا هم په سمه یوې خواته خوځېږي. دغه خوځېدل یوې خواته خپله یو لورلید ورکوي اتڼچیانو ته. کله اتڼچیان په دوره کې وي او کله هم مخامخ او کله هم وړاندې او ورسته او کله هم بېلابېل ډولونه لري چې دا د لورلید په لاندنې ځان ځېر کې کري او ځای پر ځای کوي. د اتڼ ډولونه په خپله دا ښکاروي چې دا په نوښتونو شوي دي. او اتڼ د نوښت لپاره یو ډېر ښه ډګر دی چې یو انځور ګر د پکر او آند زېرمو او ماغزو ته وده ورکوي. او کوم کسان چې یو اځې یو اتڼ مني او نورو ډولونه ته سپک ګوري هغوی د نوښت سره داسې دوښمني کوي چې دوی په کې ګټونکي نه دي. د بېلګې په توګه نن سبا چې غمی کوم اتڼونه کوي نو هغه په کې نوښت راولي. دا نوښت په خپله د ټولو پکر او ماغزو د ودې لپاره او بیا په ځانګړې توګه د ځوانانو د سیالۍ او پښتو او خپل اتڼ سره مینه ساتل او هم په نړۍواله کچه وده ورکولو کې ګټور او پایښتي ښه لري. په نړۍ کې ډېرې داسې کلتوري نڅاوې شته چې په ورکېدو دي او لوی لامل یې دا دی چې په هغې کې د نوښت ژوښکې او ارواه وژل شوې او ځوانان ورسره مینه نه شي ساتلی دا ځکه چې هغه نڅاوې د ورځې د رواج، او پېشن ( Fashion ) سره برابر نوې او هم ورسره ډېر واټن لري. نو ځوانان ورته وایي چې له موډه او پېشنه لوېدلای دی. نو ځکه هغه نوي مینه وال نه شي موندلای. او د تاریخ کندو ته ورولوېږي.

یوه بېلګه یې موریسن ( Morrison Dance ) وېلشي نڅا ده چې په مړه کېدو ده. لوی لامل یې همدا دی چې دا نڅا داسې ده چې نوی وېلشي نسل ته د مینې وړ نه ده. او یو اځې یې هغه پخواني سپینږیري کوي او بس. پدې نڅا کې یو اځینۍ ستونځه دا ده چې د نوی وخت سره یې اړوند بدلون ته ځان برابر نه کړ. نو نوي وېلشي نسل ترې واټن واخیست. سره لدې چې کلتوري نڅا ده او په دوره کې زموږ اتڼ ته ورته والی لري خو بیا هم یې ځان ته نوي ځوانان او پېغلې نه دي مینه وال کړي. په هغه ځېرنه کې چې پدې هکله شوی ؤ، په هغې کې ټولو وېلشي ځوانانو او پېغلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په ډاګه کړه چې دا یو ډېر زوړ رواج دی او دا نڅا د نن ورځې د هنر او نڅاګانو سره هېڅ ورته والی نه لري. او په هر



ځای کې یې ځوک کولای هم نه شي.

انځور شمېره ۳۱ د وېلز ولسي نڅا چې په ورک کېدو ده  Figure 30

## ۳ جامه او ښکلا

موږ ګورو چې په اتڼ کې سره د دې چې په نورو برخو کې سیالي راولي ، په کالیو کې هم خپله اغېزه اچوي او هغه د ښکلا خوا ته خوځوي. زموږ په اتڼ کې هر سړی او ښځه غواړي چې ښایسته کالي واغوندي او پګړۍ یې نوې او د پګړۍ د نګه شمله یې وي ۰ دا خپله یوه بله سیالي روزي او هغه هم د ځنو او کالیو چې دا هم د کالیو او ښکلا نوښت ته وده ورکوي. هر نوښت په کالیو کې او په ځنیو کې دا په ډاګه کوي چې اتڼ په دې که رول لوبوي.

## ۴ مشر تابه او د هغه د لاس ته راوړو لپاره په ښه والي سیالي

اتڼ په هر ډول او ځای کې چې وي، خو تل مشر لري. همدا چې د اتڼ مشرۍ سره هر ځوک مینه لري نو دا په خپله یو خوځوونکی او هڅوونکی شو. په اتڼ کې خو د اتڼ مشر هغه کېږي چې هغه تر ټولو ښه اتڼ وکړي. هر اتڼ چې دا مینه لري چې د ده د خوښې د اتڼ لپاره ډول ووهل شي. نو یو اتڼچي هغه وخت مشرتابه رسېږي چې دی د دې وړتیا تر لاسه کړي. د اتڼ مشر هېڅکله هم، پرته له د اتڼ ښېګڼې ځخه په بل څه، لکه د خان ځوی او یا هم خان په خپله، په ډېرو پیسو، په ښایست، په لوړه ببیه، او یا هم په ښایست، د اتڼ مشر کېدای نه شي. نو کوم ځوک چې غواړي د اتڼ مشر شي نو هغه به د ښه اتڼچي کېدو لپاره به زیار باسي او خپله ښېګڼه به په نورو مني چې دا خپله د مشر تابه لپاره د سیالیو ډګر ګرځي. او د اتڼ مشري به په سیالیو او هغه هم د ښېګڼو په سیالیو تر لاسه کېږي. نو موږ ګورو چې اتڼ زموږ په ولس کې یو د سمو سیالیو ډګر او هڅوونکی او خوځوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ ولسواکي او د ولسواکۍ لپاره د سيالو ډلو زېږېدنه او بيا په ښېګڼه سيالي او د ولس زړه تر لاسه کول

دا برخه له ځلورمې څخه کوم توپير نه لري. يوائې دومره ده چې د اتڼ مشر يو هلک يا يوه پېغله او همدا سې په مشرانو، دتل د پاره نه وي. نو ځکه چې کله د اتڼ مشر ستړی شي نو بل دا تڼ مشر باندې غږ وشي چې وړاندې شه. او يا هم يو ځوک چې په ځان کې دا وړتيا ويني نو لاس پورته کړي يا غږ وکړي چې زه مشر کېږم. که د نورو خوښه وه وخت ورکوي او ډول هم د ده په خوښه وهل کېږي او کنه نو بل مخ ته کېږي. ځکه چې په لومړي مشر پسې دويم مشر هم د ښېګنو په سر وړاندې کېږي. نو همدا خبره ده چې دا د مشر تابه لپاره زموږ د ماشومانو په لانديني ځان ځري کې دا کرل کېږي او ځای پر ځای کېږي چې سيالي به په ښېګڼو کوي. نه چې په خانۍ، پېسو او يا هم کومه بله وسله. بله دا چې دا خو د اتڼ د مشر تابه لپاره سيالي شوه. نو اتڼ خو هم ډولونه لري او په هره سيمه کې د اتڼ يوه تکره ډله وي. چې دوی بيا د بلې سيمې او هم په خپله سيمه کې بلې ډلې سره سيالي کوي. هره ډله چې ښه اتڼ وکړي نو هغه به هم ګټندويه وی او هم په خلکو کې مينه وال مومي. لکه چې اوس همدا زموږ په هره سيمه کې شته. نو دا هم د ولسواکۍ لپاره زموږ ماشومان او راتلونکي نسلونو په لانديني ځان ځري کې د ډلو تر مينځ د سياليو لپاره په ښېګڼه روزنه ورکوي او ددوی لانديني ځان ځري کې همدا سمه سيالي کري او ځای پر ځای کوي يې. کله چې دوی لويان شي هم به اتڼ کوي او هم د سياسي، ګوندي او ولسواکۍ سياليو لپاره به ولس ته خپله ښېګڼه ښيې او هم به نور راتلونکي نسلونه په همدې روزي. نو دوی به په مردارو وسيلو په کومو چې نن سبا دا په پرديو آندونو ککړو سيالۍ کوي. او دا ټولې وسيلې پردی دي. لکه چې زه موددام دا وايم چې په سالنګ کې پنجابۍ کبلې او امونه او په وردګو کې اربۍ کجورې نه کرل کېږي.

## ۶ ټولنيزې اړيکې ډېرول او ځواکمن کول، روغتيا

دا نو ډېره ښکاره خبره ده چې کله مونږ اتڼ کوو نو د اتڼ هم د کولو او هم د کتلو لپاره ډېر شمېر د ولس خلک راځي. دا چې ولس سره راټولېږي نو يو بل سره ګوري، خبرې کوي، نوي ملګري سره مومي، نوې سيالۍ، ډلې او ملګرتياوې سره جوړېږي. او اتڼ خو په خپله يو ورزښت هم دی نو د روغتيا لپاره يو ډېر ځواکمن چلوونکی، خوځوونکی او هڅوونکی دی.

د دې ترڅنګ اتڼ په ټولنه کې نورې اغېزې هم لري چې هغه به وروسته وڅېړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اتڼ اغېزې څېړنه د دود دستور او ژوندانه په نورو برخو





Figure 31 انځور شمېره ۳۲ د اتڼ څېړنیزه بېلګیزه چې د دود دستور په نورو برخه یې اغېزه څېړي

نو اوس به راشو دې ته چې د اتڼ په کړو سره سربېره پر دې چې نزم او خپلواکي ، لورلید او نوښت ،کالي او ښکلا ، مشر تابه او د هغه د لاس ته راوړو لپاره په ښه والي سیالي، ولسواکي او د ولسواکۍ لپاره د سیالو ډلو زېږېدنه او بیا په ښېګڼه سیالي او د ولس زړه تر لاسه کول، ټولنیزې اړیکې ډېرول او ځواکمن کول او روغتیا ته ګټه رسېږي، نور کومې برخې په کې وده کوي؟


دا په خپله دود دستور ته وده ورکوي· او په ځانګړې توګه د دې ټولو برخو په ودې او یا هم اوښتون او په کار لوېدو سره پښتو په دوران کې لوېږي· چې بیا په خپل وار سره ډېرې اړتیاوې څېړوي او هغوی ته رسول او رسد په دوران کې لوېږي· دا خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جو ته خبره ده چې کله پښتو ژبه ډېره پکار اچول کېږي همدومره، ځواکمنه کېږي او هم وده کوي چې دې ته هر اړخيزه او پايښتي وده وايي.

## د اتڼ اغېزې څېړنه د ژوندانه په سپماوي برخه




انځور شمېره ۳۳ د اتڼ څېړنيزه ښېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي Figure 32

موږ ګورو چې د اتڼونو په کړونو سره په ټولنه ډېرى د راکړې ورکړې او سپماوي (اقتسادي) برخې په دوران راځي. چې دا په خپله ځيني اړتياوې څېړوي چې هغې ځوابونې رسول په کارېږي. د ښېلګې په توګه اتڼ دا اړتياوې لکه، خوښي، زوق، ولولې او ټېکنالوژي څېړوي او يا هم کله همدا خوښي، ولولې او زوق دي چې اتڼ څېړوي. نو چې دا وڅېړول شول وړاندېينه او اغېزې يې پاس ګورو چې هغه په سپماوي برخه کې دا دي چې، دې ته ډول او د ډول وهونکي دا تشه ډکوي، بله تشه، بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه سندرې او اتڼ په سي ډي او ډي وي ډي جوړولو ډکوي. بله وړاندېینه او رسول د کامرو، پلمونو، او کالیو، او بیا د کتلو د اتڼ د پلمونو لپاره تلویزیون، سینما، سي ډي او ډي وي ډي چلوونکی، وي. او همداسې بل داچې په کوم ځای کې چې دا اتڼ کېږي هلته به شیان خرڅېږي. او بیا دغه شیان به دوکانونو کې خرڅېږي. نو اغېزه یې همدا لویه اقتصادي لمسونه او هڅونه او ډېرو پښتنو او غیر پښتنو ته د کاروبار پیدا کول دي. او بیا په دې ټولو کې لویه اغېزه بیا هم پښتو ژبې ته ده چې دا به په هره شېبه کې په دوران، آوښتون او پکارولو او ان د شعر او سندرولپاره وي. خپله شایر او سندر غاړي او لیکوال په کې هم د سپما په دوران کې ګټې ترې اخلي چې ژوند یې پرې بیا چلېږي. نو مور ګورو چې پدې کې څومره خلک پکار شول او دا بیا د ټولنې په ژوندانه کې په پایښتي ډول وپویل او ګنډل شوه چې د پښتو ودې لپاره بیا هم پایښتي ښه غوره کوي. که چېرې دا یوه بل کلتور برخه وي نو کېدا ی شي چې سپماوي (اقتصادي) لمسون یې هم یوڅه وي خو په دغه کچه چې د پښتو د کلتور لپاره وي دومره به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اتڼ اغېزې څېړنه د ژوندانه په ټولنېزه برخه





Figure 33 انځور شمېره ۳۴ د اتڼ څېړنيزه ښېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه څېړي


په ټولنيزه برخه کې د اتڼ لپاره چې موږ کومې خبرې وړاندې وکړې د هغې د بيا وبيلو څخه به ډېره وکړو او يو اځې به همدومره وو ايم چې کومې اړتياوې چې دلته شته او يا هم څېړول کېږي هغه بيا هم خوښي، دود دستور او ولولې دي. اغېزې يې همدا دي لکه څرنګه چې موږ وړاندې هم په ګوته کړلې. لکه نيږدې اړيکې د ټولنې د غړو تر مينځ ان د نورو سيمو د پښتنو او غير پښتو لپاره، روغتيا، د مشر منل، د ښېګڼو منل ياني دا چې که يو څوک د اتڼ مشر دی نو هغه ډېر ښه اتڼ چي دی چې د اتڼ مشر دی. بيا هم ګورو چې د دغه مشر کېدو لپاره دښېګڼو په سر سيالۍ کېږي چې تر څو هغه دغې کچې ته ځان ورسوي. او په خپله دا د ولسواکۍ لپاره زهنيت او آند څېړوي. او خامخا د پښتو په وده کې ډېره اغېزه لري چې دا بنسټېزه او پايښتي کوي. چې بيا به د ده ژوند او ژبه يو او بل سره ابدي وګنډل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اتڼ اغېزې ځېړنه د ژوندانه په سياسي برخه




انځور شمېره ۳۵ د اتڼ ځېړنيزه بېلګيزه چې د دود دستور په نورو برخه يې اغېزه ځېړي Figure 34

په هره ټولنه کې انسانان ښکاره او پټې سياسي اړتياوې لري· دا اړتياوې بيا په غوښتنو بدلېږي· نو چې کله په غوښتنو بدلېږي دا بيا بېلابېل ډولونه اخلي· دا اړتياوې او غوښتنې پدې ډول چې خپل سياسي او ټولنيز ارمانونه پوره کړي، نو يوه ډله انسانان غواړي چې هغوی مشران شي، بله ډله بيا د ولسواکۍ د پلي کېدو لپاره غوښتنې لري بيا بله ډله د هغې مخالپت کوي· نو ډېری وخت خو د مشر ځای يو ا و سيالان ورته ډېروي· نو دغه خپله سيالۍ ځېږوي· همدا سې زمونږ اتڼ هم د افغانانو په سياسي ژوندانه کې د دغو سياسي اړتياوو او غوښتنو لپاره اړونده وړاندېينې لري· چې خپله دا ځوانان په پښتونولۍ او ولسواکۍ کې روزي او د دوی په لاندېنې ځان ځېري ( ما تحت ضمير , Sub-Conscious ) کې يې کري او ځای پر ځای کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library




يې. نورې اغېزې يې دا دي چې دوی ته زغمل او د مشر منل ور زده کوي. چې که يو بل غواړي چې مشر شي نو ده ته به لاره ښکاره وي چې دی به هم ځان په ښېګڼو سمبالوي او د ټولو خوښه به تر لاسه کوي چې دوی پرې غړ و کړي چې پلانيه (اتله، بريالیه، امده او يو بل نوم) وړاندې شه او د اتڼ مشر شه او يا به دی په ځان کې دا ښیګڼې ويني چې په ډاډه مشرۍ ته وروړاندې شي. بله ښکاره اغېزه يې دا ده چې اتڼ په ډلو کېږي. نو خپله د ډلو او ګوندونو لپاره دا ورته ډالۍ کوي چې دغه ډلې به هم يو او بل سره په ښېګڼه او ولسواکۍ او د ولس د زړه د ترلاسه کولو سره به سيالۍ کوي. چې ولس به وايي چې دغه ډله ډېر ښه اتڼ کوي. يا پلانۍ پېغله په پلاني اتڼ چې مينه شوه او يا پلانۍ پېغله ډېر ښه اتڼ کوي. نو دا پخپله د سياسي ښېګڼو لپاره يوه لويه او پايښتي اغېزه ده چې موږ يې په ګوته کوو. هېله ده چې د دې نورې اغېزې د وخت په تېرېدو سره نورې هم را وسپړل شي او ولس ته ښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اړتیا غوښتنې وړاند بینې او اغېزې بلیګیزې پایله




انځور شمېره ۳۶ د اتڼ څېړنیزه ببلګیزه چې د دود دستور په نورو برخه یې اغېزه څېړي **Figure 35**

نو موږ ولیدل چې په اتڼ سره زموږ د هېواد د دود دستور ډېرې برخې ښې اغېزمنې کېږي. نو اغېزمنتیا چې په کومو برخو کې ولیدل شوه هغه ډېر ښه او پایښتي ښه غوره کوي. دا ځکه چې دا هرڅه په خپله د غوښتنو او رسولو ( Supply and Demand ) په چاپېریال تر سره کېږي. او اتڼ دی چې دغو برخو ته سمه وده ورکوي. او د ټولنې دا برخې ترې نه سم رنګ اخلي . پدې سره پښتو ژبه پخپله په دوران لوېږي او په دا ټولو کې لکه د اړینو مسرپې موادو په څېر د دغه دوران برخه ګرځي چې ورسره هم وده کوي او هم پراخېږي. لکه د ماشینونو د سون مواد. چې څومره ماشینونه وده کوي همدومره دا د مسرپ او ساتنې مواد یې هم سوچه او سمېږي. نو اوس به راشو او دا به وګورو چې دا اتڼ څخه د دود دستور د نورو برخو د ودې لپاره په څه ډول ګټه پورته کولای شو. څرنګه د اتڼ په کړو سره د کلتور نورې برخې هم په خوځښت، چلوولو، او وده ورکولو


(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستلای شو. موږ بره وکتل چې زموږ د کلتور ځینې برخې په بېلا بېلو ځایونې کې ځواکمنې دي. لکه ننداره یا ډرامه او پلم دا په کوزه پښتونخوا کې په خورا ځواکمن هالت کې دي.

نو اوس دا څرنګه په بېل بېل او یا په ګډه کولای شو چې د کلتور د نورو برخو د ودې لپاره سمبال کړو.

## د اتڼ تر سیوري لاندې




انځور شمېره ۳۷ د اتڼ څېړنیزه ښېلګیزه چې د دود دستور په نورو برخه یې اغېزه څېړي Figure 36

د اتڼ او ننداري تر سیوري لاندې زموږ موسیقي چې وده وکړي بیا زموږ فلم هم ورسره داسې وده کولای شي چې هغه به بیا د مایکل پورتېر په الماسي ماډل کې پوره راشي او پایښت به لري او وده به یې د فلم لپاره په هغو بنسټونو ولاړه وي چې هم به

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه خپله وي او هم وړاندېینه او هم مرستندویه کاروبارونه· اتڼ ، ننداره، او موسیقي زموږ فلم ته پایښتي بنسټ ورکوي· چې پدې سره بیا پښتو پخپله وده کوي· کله چې زموږ اتڼ موسیقي ته پایښتي وده ورکړي دلته خامخا په دې کې نندارې ته هم ځای ورکړو په دې ټولو ځایونو کې ، د بېلګې په توګه که چېرې یو واده وي نو هلته د اتڼ چیانو تر څنګ خو خامخا موسیقي شته نو چې ټوکیان راولو او لږ ورته نوی رنګ ورکړو او لږ لارښوونه ورته وکړو دا په خپله ننداره شوه ، سره له دې چې په کلیو کې دا ډېر دود دی چې هلته بیا نو د ټوکیانو مزې وي چې ښه ډوډۍ هم کله نا کله ورکول کېږي· او ان ښځینه ټوکیانې د ښځو مجلسونه تاوده ساتي· نو دا درې چې سره وتړل شي دا په خپله د فلم لپاره هغه ښخ بنسټ چې ورته وایي هغه جوړ شو او فلم په خپله هم ورته انځورګر او هم ورته مرستندویه برخې په ټولنه کې په پایښتي ډول رامینځته شوې· په ځانګړې توګه زموږ برګ اتڼ کولای شي چې زموږ نجونې هم د زموږ د فلم کاروبار او نورو برخو ته ورو زي· اتڼ هغه د ژوندانه پیاوړې او جوړوونکې برخه ده چې د ټولنې ښخ بنسټ جوړوي· دا داسې دی لکه چې موږ یوه مانۍ، یوه الوتکه، یو سړک او داسې نور، جوړوو· او د هغه جوړولو ته ماشینونه راوړو او په دې ماشینونو یې ودانوو· نو بیا دا ماشینونه چېرې جوړېږي او څوک یې جوړوي او پرزې یې د په کومو ځایونو کې جوړېږي ؟ نو اتڼ د دې ماشینونو د او ددوی د پرزو جوړنې فابریکې دي چې د هېواد سیاسي، کلتوري، ان سپماوي (اقتصادي) برخو او داسې نورو لپاره موږ ته راتلونکي نسلونه روزي· او د مایکل پورتر په دغه لاندېني ماډل کې یې موږ په ارزښت او لوړتیا او اغېزه پوهېدای شو· اتڼ په خپله دوه ټاکونکي رولونه لوبولای شي· چې یو یې د هېواد په الماسي ماډل کې د مرستندویه برخه او بله یې د نړیوال کېدو په ماډل کې د خوځوونکي او هڅوونکي رول لوبوي·

اتڼ هغه د ژوندانه پیاوړې او جوړوونکې برخه چې د ټولنې ښخ بنسټ جوړوي· دا داسې دی لکه چې موږ یوه مانۍ، یوه الوتکه، یو سړک او داسې نور، جوړوو· او د هغه جوړولو ته ماشینونه راوړو او په دې ماشینونو یې ودانوو· نو بیا دا ماشینونه چېرې جوړېږي او څوک یې جوړوي او پرزې یې د په کومو ځایونو کې جوړېږي ؟ نو اتڼ د دې ماشینونو د او ددوی د پرزو جوړنې فابریکې دي چې د هېواد سیاسي، کلتوري، ان اکتسادي او داسې نورو لپاره موږ ته راتلونکي نسلونه روزي· او د مایکل پورتر په دغه لاندېني ماډل کې یې موږ په ارزښت او لوړتیا او اغېزه پوهېدای شو· اتڼ په خپله دوه ټاکونکي رولونه لوبولای شي· چې یو یې د هېواد په الماسي ماډل کې د مرستندویه برخه او بله یې د نړیوال کېدو په ماډل کې د خوځوونکي او هڅوونکي رول·

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دلته غواړم چي دلته يوه وړه خو ډېره اړينه بېلګه ياده کړم او د ټولو پام ورته راواړوم او چي اتڼ د خوځوونکي او هڅوونکي ځواک بڼه په ټولنه کي بيا هم غوره کوي او هغه د غه زموږ د پخواني ښه دود دستور بيا ژوندي کول او خپرول دي. چي زموږ په ودونو کي او س هم اتڼ او برګ اتڼونه خو کېږي او يو څه چي ډېر کم افغانان هغه ته پام کوي هغه د ناوي او زوم په مشرۍ يو برګ اتڼ چي په لومړی سر کي په کي د ناوي او زوم ملګري او خپلوان او بيا ټول هغه مينه وال د غه اتڼ ته ورګډ شي.

زه خو په هر واده کي د دې زيار باسم چي دا زموږ په کورنيو کي خو دا د پخوا څخه رواج وو خو اوس مو دې نورو ته هم ورپام کړی دی. هيله ده چي نور هم په دې اړه دا پورتر سره کړي.





Figure 37 انځور شمېره د مايکل پورټر هېوادنی الماسي بېلګېزه

(c) ketabton.com: The Digital Library







Figure 38 انځور شمېره ۳۹ د ۳۸ پښتو ژباړه د پښتو ژبې لپاره

مایکل پورټر دا بېلګیزه د دې لپاره جوړه کړې ده چې یوه هېواد یا کومه کاروباري سیمه د دې په مرسته د یوه شي، پرادکټ، یا د یوه کاروبار، ( industry ) د راکشولو او جزبولو لپاره د څېړنې لپاره پکار واچوي تر څو دا بېلګیزه د دوی د ودې او سیالیزې کتې او برلاسې لپاره مرسته وکړي. د بېلګې په توګه لکه آسیایي هېوادونو ځانګړي کاروبارونه ځانته راکاږلِ لکه، جوړول او تویول، ( Productions ) په چین کې، کمپیوټر او توکر، په هند کې، پېشن په ایټالیا کې، او داسې نور. د دې بېلګیزې لوی کمال په دې کې دی چې یوه کمپنۍ کولای شي چې وڅېړي چې د دوی د ودې لپاره څه شته دي. لکه یوه انګریزي کمپنۍ لپاره کوم څوک وواېي چې په افغانستان کې د موټرو او ګاډیو ماشین او یا ټیر جوړولو بټۍ یا پابریکې جوړوو. که دا به دغه بېلګیزه کې واچوو نو ځواب خامخا په مخالپت کې یې دی. نو که څوک وغواړي چې دا کار د کېدو کړي نو هغه به دغه شرایت برابروي، چې په دغو څلورو برخو کې بریالی وي.

نو موږ اوس کولای شو چې د پښتو د ودې لپاره دا څېړنېزه بېلګیزه پکار واچوو تر څو هغه ستونځې هم وپېژنو او هم د لرې کولو لپاره شرایت برابر کړو . او هم دا د پښتو د ودې لړۍ پایښتي او ځان باندې وګرځوو.


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غوښتنې چاپېریال

- پښتانه په کورنیو او بهرنیو دلیلونو باندې د خپلې ژبې او کلتور سره بې مینې شوي دي.
- د پښتنو اړتیاوو ته نورو ژبني او کلتوري توکو بازار ډک کړی دی.
- د اتڼ او جرګې ځای لا هماغسې تش دی. په نړۍواله کچه.

## ورته او مرستندویه برخې

- ټوله مېډیا ژوندۍ ده او ډېره ښه مرسته کولاه شي.
- د پښتو د کلتور برخې ټول مرستندوی دي.
- په پېښور، کابل ،ننګرهار، کندهار کوټه، مردان او نورو ځایونو کې د هرڅه شتون.
- چاروا کې اوس لړلړ دا مېړانه کولای شي چې په پښتو خبرې وکړي.
- د ډېرو ،هجرو، مرکو او جرګو شتون.

## د پانګونې او ځواک چاپېریال

- د پانګونې ارزښت او ښېګنې:

-وېیونکې ژبه او د کلتور نورې برخې.

-ډېر کم پښتانه دې ته لېواله دي.

-کم شمېر خلک پانګونه کوي.

-کمزوری شتون د بنسټونو.

-د سمبالولو بنسټ هېڅ شته نه.

- دمالوماتو بنسټ ډېر کمزوری دی.

- پوهاوي او تخنیکي بنسټ ډېر کمزوری دی.

## دپښتو د ودې ټولنې او یا کمپنۍ کړنلاره او یا هم سیالي

- د پښتو او پښتنو ګوټ ته کېدنه او په پایله کې یې د پېژند او تاریخ او نوم ورکېدنه.

د پارسۍ، هندي ،اردو، انګرېزۍ او اربي سیالي له پښتو سره.

د دغې بېلګیزې نه خو دا سې ښکاري چې بیا هم پښتو په خپل سر پدې وده نشي کولای چې دلته شرایت ورته خراپ شوي او وران شوي دي چې پخپله پښتانه دي چې بې پروا دي او هم د هېوادي مادل په څېړنه کې د سیالانو او ملګرو کاروبارونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنې په بنسټ پښتو وده نشي کولای. نو دا بیا هم د دې ښېلګیزې په غوښتنه او پایلو موږ خوځوونکیو، هڅوونکیو، او چلوونکیو ځواکونو ته اړتیا لرو تر څو دا د پښتو مېچن په خوځښت راولي او بیا ودې او خوځښت ته یې پایښتي بڼه ورکړي. که نه نو بیا یې هغه د کلیوالو خبره ده وایې بیا یې د تاریخ په کندو کې ګوره!

## څه وکړوو؟

نو اوس دا راته په ټولو څېړنیزو ښېلګیزو او وسایلو جوته شوه چې موږ همدا ځواکمن کلتوري او دودیز چلوونکي لرو چې د پښتو د کلتور په هڅوونکیو، خوځوونکیو او چلوونکیو ځواکونو په خوځښت او دوران سره پښتو خپله پایښتي وده پېل کولای او لړۍ ورکولای شي. او بس. دا خو اوس راته جوته شوه چې په ارو څېزونو کې د کلتور توکي بیا په ځانګړې توګه اتڼ او ډرامې چې لومړنۍ یې په لر او بر کې او ډرامې یې یوازې بیا په لره پښتونخوا کې د خوځوونکیو، هڅوونکیو او چلوونکیو ځواکونو رول لوبولای شي. دا چې دا به څنګه په خوځښت راځي دا به ورسته وړاندې کړوو. خو اوس به د ژبې مرستندویه برخې وګوروو چې هلته څه حال دی. او دا هم جوته کړوو چې کېدای شي د پښتو ژبې په مرستندویه چې رسمي او نا رسمي برخې لري څوکمنتیاوې او کمزورۍ هم په ګوته کړوو. د دې لپاره چې بیا هم د پایښتي ودې لپاره لارې چارې وموموو نو دا بیا هم اړینه ده چې په مرستندویه برخو کې هم خوځوونکیو، هڅوونکیو او چلوونکیو ځواکونو ته هم پام وکړو. او دا هم به په یاد ولرو چې دا څرنګه سره ګنډلای شو. د ګنډلو مې موخه دا ده چې کوم خوځوونکي، هڅوونکي او چلوونکي ځواکونه چې په اره یا اسلي بر مرستندویه برخو کې په ډاګه کوو نو دوی به د یو او بل سره څرنګه سم په هر ډګر مرسته کولای شي. او څرنګه یو د بل پشپړوونکي کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**Figure 39** انځور شمېره ۴۰ د پښتو د ارو مواد لرلو څخه ګټه اوچتول

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو سره څېړنه





**Figure 40** انځور شمېره ۴۱ د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو سره

لکه څرنګه چې مو د پښتو ژبې اړې برخې وڅېړلې او هلته مو دا څېړنه په څو بېلابېلو بېلګيزو کې وکړه نو همدا شان به د پښتو ژبې مرستندويه برخې هم څېړو. تر څو وکولای شو دلته هم هغه کمزورۍ په ګوته کړو چې رغېدو ته او ځواکمنېدو ته اړتيا لري. او همدا شان هغه ځواکونه او هڅوونکي، چلوونکي او خوځوونکي ځواکونه په ښه کړو چې هغه بيا د مرستندويه برخو او هم د آرو برخو لپاره ګټور کېدای شي. په مرستندويه برخه کې موږ دوه برخې لرو چې يوه يې رسمي او بله يې نا رسمي ده. دغه دواړه برخې اړينې دي چې سمه څېړنه يې وشي. د نا رسمي برخې څېړنه به موږ يوه ډېره کمزوره او تر اغېزې لاندې راتلوونکې برخې په ډول وپېژنو. خو د رسمي برخې د څېړلو لپاره موږ د ځواکونو تلل کوو. دا به لکه څرنګه چې بره ښکاره شوې ده، دا به په څلورو پوړونو کې چې هر يو يې خپل خپل ځايونه لري څېړو. لکه پاسني بېلګيزه کې:

ولسمشر

کابينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلازمېنه او

ټول هېواد او نوره نړۍ

د بېلګې په ډول دا موږ دلته لومړی د هېواد تر ټولو اغېزمن ځواک او چینه د خبرو او رسمي برخې لپاره ولسمشر ګڼلای دی. د غه برخه تر ټولو د ارزښت وړ برخه ده. بیا مو وروسته د هېواد د وزیرانو کابینه مو په پام کې نیولې ده. د کابینې څخه وروسته د هېواد پلازمېنه ده چې خورا د ارزښت وړ ده. ځکه چې کومې خبرې، لیکنې، پرمانونه، ژمنې او نور هر ډول کارونه چې ولسمشر کوي هغه لومړی په کابینې کې شنل کېږي او د پلي کېدو لپاره بیا وزارتونو ته ورکول کېږي. او همدا شان بیا د ټول د هېواد په پلازمېنه کې تر سره کېږي او ان دا په ځانګړې توګه که په یوه کلي کې او هم د هېواد نه په بهر کې هم یو کار وي. نو بیا وروسته دا بیا د ټول هېواد لپاره خپرېږي. نو اوس موږ ګورو چې دا خو یو چاپېریال شو. موږ دا اوس بیا په یوه بل چاپېریال کې هم څېړوو چې هغه بیا د چارواکیو د کار ځای دی. په لاندې ډول دي.

## د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې دا غېزمنو ځایونو سره څېړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library







Figure 41   انځور شمېره ۴۲ د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځايونو سره

دلته ګورو چې کله د ولسمشر لخوا او يا هم د دغو څلورو برخو لخوا څه کېږي نو دا بيا په دغو پينځه ګونو برخو کې چې اوس به وسپړل شي په يو نه يو ډول څرګندېږي. د دغه بل اړخ برخې په دا لاندې ډول دي. لومړی رسنۍ وسيلې دي چې هر کوم رسمي کار، خبره او يا هم کړه کېږي دا په رسنيو وسيلو کې را څرګندېږي او په دغه ځای کې ټولې خبرې د رسمي مرستندويه برخې دي. بله برخه چې په هغه کې رسمي برخه ډېره پکارېږي هغه د زده کړې مرکزونه دي. د بېلګې په توګه، ماشوم پالنځايونه، وړکتونونه، ښوونځي، پوهنتونونه، او د زده کړې ټول مرکزونه چې دلته بيا هم د ژبې مرستندويه رسمي برخه ډېره پکارېږي. بله يا درېيمه برخه خپله چارواکي دي چې دوی په خپله دغه مرستندويه برخه په خپلو ټولو ليکنو کې پکاروي. او څلورمه برخه بيا د هېواد قضايي او عدلي سيستم دی چې هلته بيا هم د مرستندويه رسمي برخه په پراخه توګه پکارېږي. او په پای کې بې همدا د هېواد نرخ جوړونکې او قانون جوړوونکې دواړه جرګې دي چې هلته د مرستندويه رسمي برخې په


(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخه کچه پکارېږي. نو اوس به وګورو چې په دغو برخو کې پښتو ژبه په کومه کچه د کارولو کې ده. هلته بيا هم ملګري، سيال، ورانوونکي ځواکونه څه دي چې تر ځو موږ هماغه خپله موخه تر لاسه کړو، چې بيا د ملو ځواکونو په مرسته کومې کمزورۍ چې به وي هغه به سمې کړو. او د پايښتي ودې کرښه او پلان به جوړ کړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځور شمېره ۴۳ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو سره Figure 42

دغه انځور چې تاسو ګورئ نو دلته د اغېزمنو کسانو اغیزه ګورو چې د خپلو کار او اړیکو د ځایونو لارې د مرستندویه برخې په کار اچولو سره ژبه باندې اغېزه اچوي. دا د اغېزمنو کسانو او چارواکو غبشی دی چې د اغېزمنو کسانو او چارواکو ښکارندویې کوي. همدا د دې اغېزمنو کسانو راکړه ورکړه او د کارونو د سرته رسولو لړۍ دي چې اغېزمن ځایونه د ژبې مرستندویه برخو ته خپله مرسته یا تاوان رسولای شي. په دې مانا چې که د پاسه هر څومره یو څه دا غېزمنو کسانو لخوا په کار اچول کېږي دا به خامخا په ډېره اسانۍ سره لاندې خوا ته خوځېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرستندویه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (ولسمشر) څېړنه





Figure 43 انځور شمېره ۴۴ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه

تر ننه پورې چې د پښتو ودې لپاره په رسمي برخه کې د چاروا کو، ولسمشرانو او سیاسیونو لخوا کومې هلې ځلې یا پروګرامونه پلي شوي دي هغه دې ته ورته دي لکه چې څوک د خوب په کوټه کې د منې ونه کېږدي د هغې څه ناڅه ساتنه او پاملرنه وکړي او د هغې ونې څخه د باغ د مېوې ټولو تمه ولري. همدا پخه خبره د پښتنو ده چې وايي په یوه ګل نه پسرلی کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا اوس چې موږ د مرستندويه رسمي برخې څېړنه کوو چې د ولسمشر څخه يې پيل کړوو نو دا په خپله په ډاگه کېږي چې مرستندويه رسمي برخه د پښتو ژبې په ډېر کمزوري حالت کې ځکه ده چې سيال او ورانوونکي ځواکونه خورا ځواکمن دي.

که يې د لومړي ولسمشر او ټولواک چې په جرگو ټاکل شوي باچا وو د هغه څخه پيل وکړوو نو دا به جوته شي چې يوا ځې د احمد شاه بابا په دروان کې د چارواکو او جرگو خبرې د ولسمشر سره خبرې اترې په پښتو وې خو بيا هم د ولسمشر رسمي ليکنې بيا ډېرى يې په پښتو نه وې. همدا سې بيا چې د تېمور دروان ته راشو نو بيا تر داود خانه چې پښتو يې بلکل هېره کړې وه. نو دا يو لوى ناورين دى. او که د ننى چې د ولسمشرى په گدى کېنولاى شوي په وجود او واک او چارو کې د پښتو خپور والى او په کارول وڅېړوو نو دا به جوته شي چې داسې کوم څه يې ندي کړي چې موږ ورته په وياړ وگورو او ورته د تاريخ جوړونې يوه لړى ورته ووايو نو ولسمشر هم په خپله د مرستندويه برخې لپاره تر اوسه کوم نوښت ندى کړى. پدې چې په تو کم پښتون دى پښتو يې زده ده او کله ناکله پرې خبرې کوي. ولسمشر ډېرى د نورو تر اغېزې لاندې ځکه دى چې دى د واک په سيالى کې د ځان د ساتلو لپاره پښتو ژبې مرستندويه رسمي برخه هم پدې کمزوري کړې ده چې کومه کړنلاره نه هم لري او نه هم پرې پوهېږي. تر اوسه په ټول هېواد کې د ولسمشر داسې يوه جمله نشته چې د هېواد د ټولو ولسونو په خوله او ژبه په طبعي ډول ناسته وي. که د هېواد ځوانان يو هندي پلم وگوري چې د انځور گر او اتل نوم يې راجو او يا هم انتوني وي نو ډېرى ځوانان سبا په کوڅو , بازارونو , ښوونځيو او پوهنتونو کې يو بل ته وايي چې گواکې زه راجو يم او پلانى ييغله به وژغورم او پلانى کار به زه تر سره کړم او دا جملې يې پوره په هندي او اوردو کې زده کړې وي. نو داسې ښکاري چې دلته د ولسمشر چې کوم رول لوبولاى شي هغه ډېر کمزورى دى. او تمه ترې هم سمه ځکه نده چې ولسمشر د دې کارونو استعداد نه لري. او نه هم د ارو موادو څخه کوم څه لري چې دى په کار واچوي.

همدا رنگه موږ گورو چې دلته د ولسمشر لخوا چې هر څه تر سره کېږي نو دا د پښتو ژبې رسمي برخې ته نه يوا ځې دا چې گټه نه رسوي بلکې نوره يې هم کمزوره کوي. د ولسمشر ټول کړه وړه په لاندې دولتي او نا دولتي برخو خپلې اغېزې لري. دده ټول کړه وړه همدا سې چې په کابينه، پلازمينه والو او د هېواد په نورو برخو باندې خپله ځانگړې اغېزه لري همدا رنگه د هېواد په نورو جوړښتونو لکه رسنى، د زده کړې مرکزونه، چارواکي، قضا او دواړه جرگې چې د ولايتونو جرگې هم ورسره شمېرل کېږي خپلې اغېزې لري. نو همدا اوس چې موږ گورو نو په انځور کې دا اغېزه خړه پړه ده دا ځکه چې دوى د ولسمشر د غېر پښتو او يا نا پښتو تر اغېزې لاندې دي او دا ځکه چې موږ دا خړه پړه اغېزه يې بولو. د ولسمشر هر خبره چې دى يې وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر بل کړه وړه یې په مېډیا کې خپرېږي او د هېواد ټولو جوړښتونو ته رسېږي او ورته خپرېږي چې بیا دا خپله یو لوی رول ماډل دی چې په اوس مهال کې پښتو ژبې ته یې ډېره کمه ګټه رسېدلې ده.


او چې ولې؟ دا مو مخکې د آرو مواد او توکو نه درلودل او بې پروایي د یوې یا بلې ډلې څخه وېره او یا د دوی خوشاله کول او یا هم نه ژمنتیا خپلې ژبې او کلتور او دود دستور ته او داسې نور په ګوته کړل. یوه بله ډېره اړینه خبره دا ده چې په خپله ژبه خبرو کولو نه ډاډمنتیا او په نورو پردیو ژبو ځان ورته پرمختللی ښکارېدل، پداسې حال کې چې په خپله ژبه خبرې نه کول او خپله دود دستور نه ترسره کول لویه بې کلتوري ده. که چېرې کوم توکی د دود دستور د وخت سره سم نه وي د هغې سمول هم لوی کار دی.

په ولسمشریو اځې د اوږد مهال اغېزه چې کورنۍ، کابینې او جرګو لخوا وي شونې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرستندویه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (کابینې) څېړنه




انځور شمېره ۴۵ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه **Figure 44**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه مو چې ولسمشر وڅېړلو له دې څخه د کابینې حالت نور هم خراپ دی. دا ځکه چې هلته نه یوازې دا چې دوی خپلې ستونځې هم لري بلکې د ولسمشر نادودې پر دوی هم اغېزه کوي او د ولسمشر پې پروایي هم د دوی زهنونه خورا کمزوري کوي سر بېره پر دې چې دوی هم خپله به د بې پروایۍ سیالان به وي. او بله دا چې هلته په کابینه کې د نورو ژبو وېیونکي شته بلکي دا پښتو وېیونکي وزیران هم ډېری یې نه هم آر مواد لري او نه هم یې دې خپل کلتور او دود دستور ته پام دی. نو دوی هلته خپلې ډېری مسلې په پښتو نه سره حل کوي بلکې هماغه پخوانی دود شته چې دوی په بله ژبه غږېدل ښه ګڼي دا ځکه چې دوی نه داډمنتیا لري او نه هم خپل دود او دستور د مرستندویه برخې لري او نه یې هم سره تړلی شي.

که تر ننه پورې کوم کار شوی دی د پښتو ودې لپاره هغه هم نه یوازې دا چې په کومه ستراتېژیک او علمي او سیاسي چوکاټ کې نه دی شوی بلکې هماغو د ولولو ډکو چارو د نورو ژبو وېیونکي پاروليّ او د پښتو سره د مینې څخه یې نور هم لرې کړي دي. او په خپله د غلیمانو ښکار هم شوي دي دا ځکه چې دې ته یې کومه کرښه او ستراتېژي نه درلوده.

لکه څرنګه چې د ولسمشر اغېزه نا سمه او خړپړ انځور یې جوړ کړی دی همدا رنګه د ده کابینه هم چې دوی ټول کړه وړه همدا اسې بیا په پلازمینه والو او د هېواد په نورو برخو باندې خپلې ځانګړې اغېزې لري همدا رنګه د هېواد په نورو جوړښتونو لکه رسنی، د زده کړې مرکزونه، چاروا کي، قضا او دواړه جرګې چې د ولایتونو جرګې هم ورسره شمېرل کېږي خپلې اغېزې لري.

نو همدا اوس چې موږ ګورو نو په انځور کې دا اغېزه بیا هم له بده مرغه خړه پړه ده دا ځکه چې دوی د کابینې د غړو د غېر پښتو او یا نا پښتو تر اغېزې لاندې دي او دا ځکه چې موږ دا خړه پړه اغېزه یې بولو. د کابینې د غړو هره خبره یا پریکړه چې دوی یې وکړي او هر بل کړه وړه یې په مېډیا کې خپرېږي او د هېواد ټولو جوړښتونو ته رسېږي او ورته خپرېږي چې بیا دا خپله وروسته له ولسمشره بل لوی رول ماډل دی چې په اوس مهال کې پښتو ژبې ته یې ډېره کمه ګټه رسېدلې ده او تاوان خو یې بې کچې.

د کابینې په چاپېریال کې خو نن سبا یوازې سینګاري کارونه تر سره کېږي چې دا د ارو موادو نه درلودل په خپله دا جوتوي : د بېلګې په توګه دا پښتو ژبې وزیران ان خپلې کرښې پریکړې او نیوکې یا راپورونه د وزارت د چلولو لپاره په پښتو نه لیکي. همدا وزیران بیا خپلې مرکې په پښتو نه کوي. او په کلتوري ډګر کې هم ډېر کمزوري دي ان په ودونو کې اتڼ هم نه شي کولای نور خو لا پرېږده . دې وزیرانو لکه ولسمشر یوه به یې هم په خپل واده کې د برګ اتڼ مشري نه وي کړې او ان زه دا وایم چې که کوم یو یې د اتڼ سره مینه ولري هغه به هم د تورو ځواکونو او خپل نه داډمنتیا له امه په پټه اتڼ کوي. دوی څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوالی شي چې په يوه شپه يا په کابينه کې بيا کلتوري زمريان شي. هلته نور هم بې کلتوره ګيدړان ترې جوړ شي. ليکدود او خبري او علمي سندونه په خوږه پښتو ليکل خو لا پريږده.

نو په کابينه کې هم د پښتو مرستندويه برخې مرستندويه ځواک کمزوری او سيال او ورانوونکې ځواکونه ځواکمن دي. يوائې د راتلونکي لپاره دا چانس شته چې دوی باندې اغېزه وشي چې دوی هم ډاډمنتيا ولري او هم په آرو موادو سمبال شي. او دغه حالت په خپل وار سره په نورو لاندې اغېزمنو کسانو خپل رنګ ور شني او همدا شان اغېزه پرې کوي. او بيا همدا اغېزمن ځايونه هم ددې تر اغېزې لاندې راځي چې همدا لړۍ بيا لاندې روانه ده.

او چې ولې؟


دا يو ځل بيا دلته تکراروم.

دا مو مخکې د آرو مواد او توکو نه درلودل او بې پروايي د يوې يا بلې ډلې څخه وېره او يا د دوی خوشاله کول او يا هم نه ژمنتيا خپلې ژبې او کلتور او دود دستور ته او داسې نور په ګوته کړل. يوه بله ډېره اړينه خبره دا ده چې په خپله ژبه خبرو کولو نه ډاډمنتيا او په نورو پرديو ژبو ځان ورته پرمختللی ښکارېدل، پداسې حال کې چې په خپله ژبه خبرې نه کول او خپله دود دستور نه تر سره کول لويه بې کلتوري ده. دا ځکه چې زموږ د کلتور ډېرې پخې او مدام د منلو وړ برخې بې چې د وياړ وړ دي هغه هم دوی ته د پرديو لخوا پېغور جوړېدل او دوی هم په ناپوهۍ کې منل. که چېرې کوم توکی د دود دستور د وخت سره سم نه وي د هغې سمول هم لوی کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (پلازمېنه وال) څېړنه




انځور شمېره ۴۲ د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځايونو د ځواکونو څېړنه Figure 45

لکه څرنګه مو چې ولسمشر او د ده د کابينې ناسمه اغيزه د دوی د بې غورۍ او نورو لاملونو له امله وليدل چې د دوی څومره په خپله د پښتو سره زياتی کوي او بيا د دوی اغېزه په نورو هم ناوړه ده چې دا په خپله پښتو ژبې ته تاوان رسوي او د ودې مخ نيوی يې کوي او همدا په خپله د پښتو زولنې دي سره د نورو کورنيو او بهرنيو ستونځو٠ دا ځکه چې په پلازمېنه کې نه يواځې دا چې دوی خپلې ستونځې هم لري بلکې د ولسمشر او بيا د کابينې نادودې پر دوی هم اغېزه کوي او د ولسمشر او د ده د کابينې بې پروايي هم د دوی ذهنونه خورا کمزوري کوي سر بېره پر دې چې دوی هم خپله به د بې پروايۍ سيالان وي٠ دوی خو به مدام د کابينې او ولسمشر کړو وړو يا ملاتړ کوي يا به پرې غبرګون ښکاروي او يا به هم څېړنه پرې کوي٠ نو په هر يو حالت کې دا به ښېرته په هماغه ډول او ژبه او کلتور تر سره کېږي په کومه چې يې پيل د ولسمشر او کابينې څخه شوی وي٠ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځکه بیا هم دلته دا خړ پړ انځور ډېر خپور او د سمولو چارې یې خورا درنې او ژورې او پراخې چې ډېرې انرژۍ او پانګې ته اړتیا لري.

او بله دا چې هلته په پلازمېنه کې د نورو ژبو وییونکي شته بلکې دا پښتو وییونکي پلازمېنه وال هم ډېری یې نه هم آر مواد لري او نه هم یې دې ته پام دی. نو دوی هلته خپلې ډېری مسلې په پښتو نه سره حل کوي بلکې هماغه پخوانی دود شته چې دوی په بله ژبه رغېدل ښه ګڼي دا ځکه چې دوی نه ډاډمنتیا لري او نه هم خپل دود او دستور د مرستندویه برخې سره تړلی شي. د بېلګې په توګه دا پښتو ژبې وزیران ان په ودونو کې اتڼ هم نه شي کولای. دې وزیرانو لکه ولسمشر یوه به یې هم په خپل واده کې د برګ اتڼ مشري نه وي کړې او ان زه دا وایم چې که کوم یو یې د اتڼ سره مینه ولري هغه به هم د تورو ځواکونو او خپل نه ډاډمنتیا له امه په پټه اتڼ کوي. دوی څنګه کوالی شي چې په یوه شپه یا په کابینه کې بیا کلتوري زمریان شي. هلته نور هم بې کلتوره ګیدړان تر ې جوړ شي. لیکدود او خبري او علمي سندونه په خوږه پښتو لیکل خو لا پرېږده.

نو بیا دا د پلازمېنې خلک به له دوی څخه څه زده کړي وکړي چې دوی ته هم ځان ښه ښکاره شي او یا هم د ورځې پېښن شي؟

نو بیا به څنګه دا جرت وکړي چې خپل دود ته په خوښۍ وده ورکړي؟

سره له دې چې یوه څه ځوانانو دې دود ته او هم د کلي مشرانو دې زموږ دود ته ډېر پام ګرځولای دی او هغه هم د مینې له برکته نور دا سې کوم ښکل شوې کرښه او تګلاره خو په زره بین هم نه موندل کېږي. نو په پلازمېنه کې هم د پښتو مرستندویه برخې مرستندویه ځواک کمزوری او سیال او ورانوونکې ځواکونه ځواکمن پاتې دي. یوازې د راتلونکي لپاره دا چانس شته چې دوی باندې اغېزه وشي چې دوی هم ډاډمنتیا ولري او هم په آرو موادو سمبال شي. او دغه حالت په خپل وار سره په نورو لاندې اغېزمنو کسانو خپل رنګ ور شني او همدا شان اغېزه پرې کوي. او بیا همدا اغېزمن ځایونه هم ددې تر اغېزې لاندې راځي چې همدا لړۍ بیا لاندې روانه ده.

او چې ولې؟

دا دریم ځل بیا دلته تکراروم.


دا مو مخکې د آرو مواد او توکو نه درلودل او بې پروايي د یوې یا بلې ډلې څخه وېره او یا د دوی خوشاله کول او یا هم نه ژمنتیا خپلې ژبې او کلتور او دود دستور ته او داسې نور په ګوته کړل.یوه بله ډېره اړینه خبره دا ده چې په خپله ژبه خبرو کولو نه ډاډمنتیا او په نورو پردیو ژبو ځان ورته پرمختللی ښکاربدل، پداسې حال کې چې په خپله ژبه خبرې نه کول او خپله دود

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستور نه تر سره کول لويه بې کلتوري ده. که چېرې کوم توکی د دوه دستور د وخت سره سم نه وي د هغې سمول هم لوی کار دی.

## د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو کسانو (ټول هېواد او نوره نړی) څېړنه




انځور شمېره ۴۷ د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځايونو د ځواکونو څېړنه **Figure 46**

لکه څرنګه چې مو پاس دولسمشر څخه نېولې بيا تر پلازمېنه والو پورې د ژبې مرستندويه برخو سره د مرستندويه, ورانوونکي او سيالو ځواکونو څېړنه وکړه نو هلته دا په ډاګه شوه چې مرستندويه ځواکونه کمزوري دي او دليلونه يې هم هماغه ول چې وړاندې ياد شول. نو چې موږ بيا ټول هېواد او په نوره نړی کې دا څېړنه کوو بيا نو دا انځور بل ډول دی. دا ځکه چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې پښتو شته نو هلته د ارو توکو په کارول د ولس د ژوند برخه ده. چې کله ناکله پلازمېنه وال,

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابينه او ولسمشر له يوې خوا او مېډيا، د زده کړې مرکزونه، چارواکي او جرګې تر خپلې اغېزې لاندې راولي. د يوې خوا د نېکمرغۍ ځای دا دی چې ولس په خپلو ارو کلتوري توکو او دود دستور ټينګ په دې ولاړ دی چې د دوی د ژوندانه برخه ده. خو له بلې خوا بد مرغي دا ده چې بيا په چارواکو او دولتي او نورو ټولو جوړښتونو چې کومه ناوړه اغېزه ده هغه بيا دا ولس سره په ځو برخو په ټکر کې اچوي.

په دې انځور کې بيا خړ پړتيا لرېده. او هغه هم پدې چې مرستندويه ځواکونه چې دي لږ څه پياوړتيا په کې شته. او د سيالو او ورانوونکو ځواکونو زور دلته تر يوه بريده لږ دی. خو که چېرې دې ته پام ونه شي نو دا انځور به نور هم خړ پړ شي چې يوه ورځ به په تورېدو واوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به په دغه دویمه برخه کې د اغېزمن ځایونو څېړنه وکړو. دا به هم د سیالۍ په ستراتیژیکه بېلګیزه کې وڅېړو. دا اغېزمن ځایونه د ژبې په مرستندویه رسمي برخو کې د اوس مهال لپاره ما همدا پینځه برخې په پام کې نیولي دي. دا پینځه ګونه برخې هم د اغېزمنو کسانو لخوا چلول کېږي، خو د دې لپاره چې دلته د بلې هرې ژبې د ودې شونتیا شته نو دوی ته د اوس مهال لپاره د ځای په سترګه ورته ګورو. او لومړی به پیل وکړو د رسنیو وسیلو څخه.






Figure 47    انځور شمېره ۴۸ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرستندویه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو ځایونو (رسنۍ وسیلې) څېړنه




انځور شمېره ۴۹ د مرستندویه برخو رسمي اړخ اړیکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځایونو د ځواکونو څېړنه **Figure 48**

موږ ټول د دې اوسني وخت شاهدان یو چې په رسنیو وسیلو کې، که هغه تلویزیونونه دي، که ویب پاڼې او یا هم چاپي پاڼې، په دې ټولو کې د پښتو ونډه خورا کمه ده. زموږ څېړنې دا ښکاروي چې دلته هغه ځواکونه چې مرستندویه دي هغه په خورا کمزوري حالت کې دي. د بېلګې په توګه په مېډیا کې لیکوالان، ګډون کوونکي، پلمونه، مېلمانه، او ولس دلته د دې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای چې په پښتو په ډاډمنتیا او ویاړنه وګړابې او یا خپله خبره ځای ته ورسوي، په نورو ژبو خبرې کوي. په دې کې موږ نه شو کولای چې دلته مینه او اړتیا په غوښتنه بدله کړوو. نو چې غوښتنه نه وي نو خو ورته رسول هم نه کېږي. په دې کې دا پړه په بل چا اچول هم د انساپ خبره نه ده. په دې کې افغانان په خپله پړه دي. که دا چارواکي، دي، که نور. کله چې دا چاروکي، پوهان، لیکوالان، سندغاړي، او کارپوهان په پښتو خبرې نه کوي نو دوی په آر کې د پښتو ژبې سره ورانوونکي رول لوبوي او د سیالانو تله درنوي. نو په ریښتیا سره چې دوی بیا د نورو ژبو زېرمو ته خپلې مرغلرې وراچوي. دلته بیا هم بلې برخې ته پام کول پکار دی. هغه دا چې په رسنیو کې چې کومې کړنلارې جوړېږي هغه بیا هم تر همدې د غوښتنې او رسولو تر اغېزې لاندې راځي او هم دا کېدای شي چې نور لکه ایرانیان او پارسي ژبې د دې څخه ناوړه ګټه پورته کړي. لکه څرنګه چې اوس ښکاري دا همدا اسې ده. کوم وخت چې ښاغلی حاجي پزل کریم د شمشاد تلویزیون مشر دلته لندن ته راغلی ؤ نو ده همدا شکایت وکړ چې هلته د پښتو ژبې سره د مور او میرې چلند کېږي او دی دې ته اړ شوی دی چې پښتو ته خزمت وکړي. ځینې ښېلګې یې هم یادې کړې چې بیا ډېری خلکو ورسره دا ومنله چې په مېډیا کې دا ستونځه شته. خو بیا هم همدې ټکي ته راګرځو چې مینه او اړتیا څرنګه غوښتنې باندې اوړي؟

دا کومه ډېره کرکېچنه خبره نه ده. دا ډېره ښکاره او سپینه خبره ده. چې په خپله افغانان د خپلې پښتو سره دا ناروا او نا مردي کوي. او غوښتنه نه جوړوي. ډېری په دې باندې سر نه خلاسوي.

دا بیا هم د ولسمشر څخه نیولی بیا تر کابینې او پلازمینه والو او ان کلیوالو پورې تړلې ده چې دوی په لومړي سر کې ګرم دي.

او چې ولې؟

د څلورم ځل لپاره بیا وایم چې: همدا ولسمشر او کابینه او پلازمینه وال او چارواکي ګرم دي چې دوی د غه لاندې کمزورۍ لري:

دا مو مخکې د آرو مواد او توکو نه درلودل او بې پروایي د یوې یا بلې ډلې څخه وېره او یا د دوی خوشاله کول او یا هم نه ژمنتیا خپلې ژبې او کلتور او دود دستور ته او دا اسې نور په ګوته کړل. یوه بله ډېره اړینه خبره دا ده چې په خپله ژبه خبرو کولو نه ډاډمنتیا او په نورو پردیو ژبو ځان ورته پرمختللی ښکارېدل، پدا اسې حال کې چې په خپله ژبه خبرې نه کول او خپله دود


(c) ketabton.com: The Digital Library



دستور نه تر سره کول لويه بې کلتوري ده. که چېرې کوم توکی د دود د دستور د وخت سره سم نه وي د هغې سمول هم لوی کار دی.

په پښتو مېډيا ته ګړابېدل ورته نه کوم ارزښت او نه هم کوم تاوان لري. خو د دغو بې پروايېو پايلې بيا ولس ته ډېرې ګرانې پرېځوي. نو دغه د پوهې خاوندان او مشران او چې د خلکو ببلګې هم دي، دوی د ورانوونکيو او سيالو ځواکونو په کتار کې راځي. نو چې دا ورانوونکي او سيال ځواک دومره ځواکمن شي نو بيا د مرستندويه ځواکونو خير نشته.

## د مرستندويه برخو رسمي اړخ د اغېزمنو ځايونو (دزده کړې مرکزونه چارواکي قضا او دوه ګونې جرګې) ځېړنه



(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور شمېره ۵۰ د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځايونو د ځواکونو څېړنه Figure 49

او له بده مرغه همدا انځور په دې څلورو نورو برخو کې بيا هم خړ پړ ځکه دی چې همدا يوه کيسه په ټولو برخو کې يو ډول ده.

پدې مانا چې د پښتو مرستندويه ځواک کمزوری او سيال او ورانوونکی ځواکونه پياوړي دي چې پښتو يې کښېباسلې ده او د پښتو خير نشته. او دا چې ولې بيا هم زمونږ هماغه د پخوانۍ خبرې يو ځل بيا تکرارول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه وړاند یزونه او تګلاره:

لومړی: د ښکته څخه یانې د ولسونو څخه پورته خواته یانې چاواکو خواته

دویم: د پاسه یانې د چارواکو لخوا ښکته خواته یانې د ولسونو خواته

تګلاره:

چې دا دوه وړاندیزونه څنګه پلي شي؟

د دې دواړو وړاندیزونو د پلي کولو لپاره موږ دلته د پېښن او د ښکلا د نړۍ د پوهاوي د بېلګه ایزو څخه مرسته اخلو او خپل کار پرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی: د ښکته څخه پاني د ولسونو څخه پورته خواته یانې چاواکو خواته





Figure 50 انځور شمېره ۵۱ د لاندې پرګنوله خواڅخه د ودې ستراتیژي

دا زموږ د تګلارې لومړنۍ هغه اړینه برخه ده چې مدام له پامه غورځېدلې ده. چې د په خپله هماغه د اړتیا او غوښتنې لپاره هم مینځ زړی جوړوي او هم د راتلونکو واکمنو لپاره په کلتور او خپل دود دستور د مېړانې خاوند د شا تیر جوړوي. دې ته زموږ پښتانه بایده چې ډېر پام وکړي او په دې باندې زه د لوستونکو پام هغه انګریزي کتاب چې د کټ کټ کلب په نامه او پېلیا لیکلی چې څنګه ولسي کلتور او دود دستور چې د ولس له کچې پیل شو او دا کتاب دا په ډاګه کوي چې څنګه همدې ولسي کلتور او دود دستور د انګرېزي هېواد څخه لویه امپراتوري جوړه کړه چې ژوندکې یې په همدې کلیو کې وتوکېدلې. چې دا کتاب د جوتوي چې څنګه څو ملګرو د یوه ملت خیال جوړ کړ او د ملت یې د ټولې نړۍ واکمن کړ او ترننه دی.


(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ پښتنو ته هم په کار ده چې دې ته ډېر پام وکړي. چې موږ چې په هر کچه کې يو خپل پور تر سره کړوو او بيا د نورو څخه که واکمن دي او که ولسي بيا د کار تمه وکړوو.

موږ بايده چې خپل سورنيي د شاخخه راکوز کړوو او لومړی د سورنيو اشتيا وپاروو او بيا همدومره سورنيي جوړ کړوو چې غوښتونکي يې وي.

## سياسي او کليوالي جرګې:




انځور شمېره ۵۲ د ستراتيژۍ لپاره څېړنه او د مرستندويه برخو رسمي اړخ اړيکې د اغېزمنو کسانو او اغېزمنو ځايونو د ځواکونو څېړنه Figure 51

جرګه چې د افغانانو د وياړنو د دود دستور ډېره مهمه برخه ده ، خو دا هم د ستونځو څخه بې برخې نده. پاس چې کومې ستونځې ورته په ګوته شوي نورې ستونځې هم لري. او دا ستونځې دا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په جرګو کې د پريکړو نه ليکل په پښتو. او بيا يې نه خپرول.
- په جرګه د ګډودن کوونکو او پرېکړه کوونکو د وخت موده نه ټاکل کېدل.
- جرګه يوا ځې د ستونځو د هوارۍ لپاره نه دا چې د کوم نوښت لپاره.
- د جرګې او دود دستور د کار او ښېګڼو او بديو په هکله په جرګو کې نه غږېدل.

سمې اونيزه يا مياشتينۍ جرګې نه کېدل.

لکه څرنګه چې مو په نورو برخو کې وړاندې وکتل چې هلته په بل هر ځای کې د پښتو د ودې سره ننګونې او ګواښونه خورا ځواکمن دي. په رسنيو وسيلو کې، د زده کړې په مرکزونو کې، د چارواکو په ليک لوست او کړو وړو کې، او ان په قضا کې په دې ټولو کې د پښتو د مرستندويو موادو د ودې لپاره لا څه چې د پښتو د پايښت لپاره يو لوی ګواښ شته دی. او د دې اغېزې بيا د هېواد په سياسي جوړښت کې په هره کچه کې په ښکاره او تېل-منل شوي ډول تر سترګو کېږي. چې دا پخپله موږ ته دا پايله په لاس راکوي چې دغه د پښتو د کلتور، ژبې او دود دستور لپاره ګواښوونه او ننګونې دي او په دغسې يو هالت کې ستونځې لا په ډېرېدو وي.

يوا ځينی ځای چې په هغه کې د پښتو د مرستندويه برخې لپاره ځای شته هغه هماغه کليوالي يا سيمه ايزې جرګې دي چې د ژوندانه په ډېرو اړينو برخو پورې تړلي دی او بېلېدل يې نا شونې شوي دي. که هالت داسې وای چې دلته د جرګې بديل وای نو دغه ځای به هم د ستونځو څخه ډک يو بل موږ به ؤ. نو اوس خو له نېکه مرغه چې افغانان چې څومره په خپل دود دستور کلک دي همدومره چا ورته د جرګو سم او غوره بديل ندی وړاندې کړی. نو جرګه دلته يوه بله ځواکمنه برخه ده چې لکه اتڼ موږ ددې څخه د چلوونکي، هڅوونکي او خوځوونکي ځواک په ډول کار اخيستلای او په کارولای شو. دلته موږ ګورو چې د جرګې په دغه رول سره دغه نورې ان رسمي او نا رسمي برخې په خوځښت راځي. دا ځکه چې د جرګې په جوړولو سره مېډيا په دغه برخه کې په خپله په اړين ډول برخه اخلي، همداسې د جرګې د پرېکړې څخه قضا خبرول کېږي او هغوی هم پدې سره د جرګې له پرېکړو څخه ډاډمن کېږي. بله دا چې په دغه جرګو کې که ان چارواکي برخه وانخلي هم خو بيا دوی ته هم د قضا په ډول خبرول کېږي. او هغه په دې چې که څوک ناغه شول نو بيا به چارواکي مرسته کوي. او يا هم که جرګه د کومې ستونځې سره مخامخ شي نو بيا به هم چارواکي مرسته کوي. او دغه د جرګو پرېکړې بيا موږ کولای شو چې د زده کړو د مرکزونو ته هم په پښتو ورورسوو. نو ددې څخه له ورايه ښکاري چې اوس دم ګړۍ موږ درې هڅوونکي، چلوونکي، او خوځوونکي، ځواکونه لرو او هغه په بېلابېلو سيمو پورې اړه لري. او په لاندې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتڼ، ننداره يا ډرامې او جرګه.

نو د دوی اغېزې مو هم وليدلې چې دوی څومره اغېزمن څواکونه دي. چې د دوی په چلولو سره خپله پښتو ژبه په طبيعي ډول هم په خوځښت راځي او هم پاېښتي وده کوي.

لکه څرنګه چې زموږ د ژوند ټولې برخې د ودې او بدلون په لړۍ کې دي نو پکار داده چې دا اړينه برخې هم د نوښت په ښکلا سمبا شي او هر برخه يې خپل ښه د وخت سره سم بدلون تر لاسه کړي. په اتڼ کې دې نوښت ځوانانو ته ورکړل شي او مشران دې دهغوی نوښت ته په درنه وګوري او هم د اتڼ آره برخه وساتل شي. د اتڼ د ډلو او ټيمونو سياليو ته وده ورکول او هغه هڅول په خپله ډېره اړينه بريښي.

يو کلنی د سرو زرو جام د اتڼ سياليو ته ټاکل چې که کوم تکړه ډله يې د خپل ډولچې سره وګټي په هماغه مخکينيو موخو او سمبالتياوو باندې. زوم او ناوې دواړه په برګ اتڼ کې مشري اخيستل او د خپلې خوښې نوښت په کې وړاندې کول له پخوا به چې په ننبه ويشتلو زوم سيالي کوله. او همدا رنګه ناوې او زوم چې زموږ په ټولنه کې په خپله واده چې د ولسمشرانو ځای لري په برګ اتڼ کې هم مشري وکړي او هم نوښت دا به بيا په دې ټولو راتلونکو نسلونو باندې ډېره ښه اغېزه وکړي چې دا اغېزه بيا په ټوله ټولنه باندې پرته له چاروا کو تر سره کېږي چې بيا دوی چې چاروا کې شي بيا دوی هم دا دستور ته نوره هم وده ورکوي. او همدا شان که چېرې بيا خپله دا دود دستور د دوی لخوا تر سره او خپور شي نو بيا يې هم اغېزه په زرهاوو ځله ده. تر څو د ژوندانه ټول اړخونه ورسره وتړل شي او پاېښتې ښه غوره کړي. چې د اړتياوو او غوښتنو او ځوابولو په ډول لکه د بازار د توکيو د رانيولو او هم د اشتيا د څېړولو په ډول په اوښتون کې وي. نو پکار ده چې ټول ولسمشران زموږ، چاوراکې او هرې يوې برخې مشران لکه ناوې او زوم د برګ اتڼ د مشرۍ کولو سره او په هغه کې نوښت راوستلو سره هم خپله ګډه مېړانه ښکاره کړي او هم خپله ګډه غوټه لکه پخوا به چې ننبې ويشتل کېدلې. او دا ټول مشران او کشران چې پاس ياد شول د خپلې ژبې او دود دستور سره مينه ولري او هم يې تر سره کړي او هم يې ستاينه او د ښې ودې نيوکه وکړي چې د دوی اغېزه چې ښکته خواته راځي نو ډېره اغېزمنه او هڅوونکې، چلوونکې او خوځوونکې ده. او که څوک د خپل کلتور او دود دستور څخه لرې وي نو هغوی ته په هره کچه چې وي پېغور جوړ کړي او بې کلتوره ورته وو ايي. چې بيا که زموږ يوه پېغله او يو ځوان چې په خپل واده خپل دود دستور تر سره کړي بيا به خامخا چې چاروا کی او ان ولسمشر شي بيا به يې په ځای کې دوی تر سره کوي او دا به دژوندانه په ټولو برخو کې وګنډل شي چې اړتيا څېړوي او رسول ورته اړين کېږي چې پدې سره خپله هم ژبه او هم کلتور پاېښت مومي او هم په سمو نيوکو سره دواړه د نوښت په برکت سره وده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شان دا جرګې دې د په دوه ډوله وده وکړي· یو ډول یې د جوړښت یاني هر غونډه چې کېږي که د ژوند انه په هره برخه کې وي هلته دې د جرګې او مرکې مشران د ولس په رایو وټاکل شي او هم دې ورته وخت ورکړل شي چې په څو کلونو کې دې دوی ښه کار ونه وکړي·

او بله دا چې جرګې د ځانګړتیاوو لپاره لکه سیاسي ګوندونه دې هم په جرګو جوړ شي او په دې ډول سره به موږ د وخت سره سم د خپل ژوند ټولو برخو ته وده ورکړې وي· او هم دې زموږ سیاسي ګوندونه د جرګور په جوړښت سره سمبال شي تر څو یو بل سره وګنډل شي چې بیا سیاسي ګوندونه جرګو ته نوی د خت سره سم نوښت او د پرېکړوو نوی ډول ورکړي·

لکه مخکې چې ورته ګوته ونیوه چې د دې جرګو ټول کړه وړه د ژوند انه په هر برخه کې خپرېږي او دا په خپله د پښتو ژبې ودې ته پایښتې ښه او بنسټ ورکوي·

دا به په خپل وار سره د ولسواکۍ هغه برخه ځواکمنه کړي چې د پردیو اندونو مخ نیوی وکړي او ولس به په ځان ډاډه کړي· ولس به د خپلو مشرانو په اندونو پسې تږي شي او د خپل ژوندانه په ټولو برخو کې به یې پلي کړي· د بېلګې په توګه ان خپل دین او نرخ به هم د دې پر ځای چې د پنجکتاب او د هاپز کتابونه زده کړي نو همدا ټول به د خپلو ښو پوهانو لکه خوشال بابا، رهمان بابا او همزه او نورو مشرانو په شېرونو کې زده کړي·


او همداسې به دا کلتور په خپل ځواک سره بېرته ولسمشرۍ مانۍ او نورو د واک ځایونو ته په تېبیې ډول ورسېږي·

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم: د پاسه ياڼې د چارواکو لخوا ښکته خواته ياڼې د ولسونو خواته:

کله چې موږ د خپل کلتور او دود دستور آرتوکي او مواد ولرو نو بيا دا پکار ده چې د ولسمشر څخه هم تمه ولروو چې په پلي کولو کې يې پوره ونډه او خپل پور ترسره کړي.




انځور شمېره ۵۳ د ارو او مرستندويه برخو سره نغابنتنې پيل Figure 52

ځومره چې د هېواد ولسمشر د خپل دود دستور سره مينه کوي همدومره هغه دود دستور وده کوي او د ورځې موږ او د ولس په زړونو کې ځای نيسي. موږ دلته د ولسمشره څخه نېولې بيا د ده د کابينې څخه دا په تمه لروو چې په خپله هم اتڼ وکړي او هم د کلتور د نورو برخو سره د زړه له کومې مينه ښکاره کړي تر څو د ده کابينه هم همدا کار وکړي. چې دا په خپله هم کابينه او هم د هېواد نورې ټولې برخې اغېزمنې کوي او هم د ودې لپاره يې لوی چلوونکی او خوځوونکی جوړيږي. چې د انګريزانو په خبره کلتوري اشتيا راوپاروي. او اشتيا پارول کوم ګران کار نه دی. خو دومره کول غواړي چې که ستا د باغ منې ډېرې ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅې شي نو لومړی خو منې دې بایده چې خوندورې وي. او بیا بل ته یې هم په خوند شخوند پرې ووهې او هغه ته یې هم په هماغه خوند ست وکړې. نو چې هغه ستا خوندوره منه هم وګوري او هم ستا په خوند منه خوړل وګورې نو بیا به یې ایله اشتیا راشي او زړه به یې وشي چې ستا دا منه وخوري. د دې څخه وروسته نو دا په کار ده چې دا منه به د باغه ورته په پاینښتې ډول برابروې. او که دا سې ونه کړې نو ستا منه به ستا په خپل لاس کې خوسا شي. او که په زوره په چا خورې نو په څو به یې وخوري.

زما په خیال زموږ لیکوالانو او شاعرانو ته پکار ده چې ژبه دومره خوږه او اسانه کړي چې هر ځوان په هر ځای کې یې په لا شعور سره په خوله راوړي. او ډېرې ښې خبرې او ټکي هره ورځ په کلیو کې جوړیږي او کلیوال یې په خپلو ټوکو ټکالو کې پکاروي چې زموږ لیکوالان او شاعران کولای شي چې دا د په ټولو رسمي او نارسمي برخو کې وردننه کړي چې همدا د ورځې موډ او دود وګرځي. او چې څوک یې نه په کاروي نو هغوی ته به یو پېغور هم جوړ وي. زموږ لیکولان او شاعران چې څومره اوچت شي دوی بایده چې همدومره پراخه فکر ولري. یانې دا چې دوی بایده چې یواځې خپل لوستونکي او مینه وال د لوړې کچې پوهې پښتانه ونه بولي بلکې خپل ډېر پام ځوانانو او ماشومانو ته واړوي تر څو زموږ نوی نسل دا تېرې ناخوالې ورغوي او دا خزانه د سره ډکه کړي.

ننموږ ته ډېر د شرم ځای دی چې ایرانیان د خالو د تورو باتوري زموږ پر مخ په شامنامه مو ببرته ولي. زموږ لیکوالان بایده چې ډېر دې ته خیال وکړي چې خپلې مرغلرې د پښتو دود دستور پانګې ته ور واچوي او دا خزانه پرې نوره هم بډایه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library








Figure 53 انځور شمېره ۵۴ د ارو او مرستندويه برخو سره نغابنتنه او لارې چارې

(c) ketabton.com: The Digital Library






انځور شمېره ۵۵ د اري او رسمي برخو سره نغابنتنه، اړيکې او اغېزې    Figure 54


موږ که بره دغه دوو بېلګيزو ته وګوره نو دا راته په ډاګه شي چي که چېري ولسمشر د خپل اتڼ او نور دود دستور برخو سره مينه ولري او هغه پلي کړي نو دا چي د کابينې څخه بيا خپور شي او بيا د پلازمېنه والو او نور هېوادوالو لخوا تر سره شي او دا بيا د هېواد د جوړښتونو لکه ډله ايزو رسنيو ، قضا، ښوني او روزنې مرکزونو، چارواکو او جرګو لخوا هم ترسره او هم خپور شي نو دا خو له ورايه ښکاري چي څومره لويه او څو ځله يې اغېزه ده.

او همدا رنګه ناوې او زوم چي زموږ په ټولنه کې په خپله واده چي د ولسمشرانو ځای لري په برګ اتڼ کې هم مشري وکړي او هم نوښت دا به بيا په دې ټولو راتلونکو نسلونو باندې ډېره ښه اغېزه وکړي چې دا اغېزه بيا په ټوله ټولنه باندې پرته له چارواکو تر سره کېږي چې بيا دوی چې چارواکي شي بيا دوی هم دا دستور ته نوره هم وده ورکوي. او همدا شان که چېرې بيا خپله دا دود دستور د دوی لخوا تر سره او خپور شي نو بيا يې هم اغېزه په زرهاوو ځله ده. تر څو د ژوندانه ټول اړخونه ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وترړل شي او پاينېتي بنه غوره کړي. چې د اړتياوو او غوښتنو او ځوابولو په ډول لکه د بازار د توکيو د رانيولو او هم د اشتيا د ځيرېولو په ډول په اوښتون کې وي. نو پکار ده چې ټول ولسمشران زموږ، چاوراکي او هري يو ي برخې مشران لکه ناوي او زوم د برګ اتڼ د مشرۍ کولو سره او په هغه کې نوښت راوستلو سره هم خپله ګډه مېړانه ښکاره کړي او هم خپله ګډه غوټه لکه پخوا به چې نښې ويشتل کېدلې. او دا ټول مشران او کشران چې پاس ياد شول د خپلې ژبې او دود دستور سره مينه ولري او هم يې تر سره کړي او هم يې ستاينه او د ښې ودې نيوکه وکړي چې د دوی اغېزه چې ښکته خواته راځي نو ډېره اغېزمنه او هڅوونکې، چلوونکې او خوځوونکې ده. او که څوک د خپل کلتور او دود دستور څخه لرې وي نو هغوی ته په هره کچه چې وي پېغور جوړ کړي او بې کلتوره ورته ووايي.




انځور شمېره ۵۲ پښتو په ټولنه او نړۍ کې **Figure 55**

(c) ketabton.com: The Digital Library






Figure 56 انځور شمېره ۵۷ د پېښن د پوهې خخه اړول شوی

## تګلاره:





Figure 57 انځور شمېره ۵۸ د پېښن د پوهې خخه

(c) ketabton.com: The Digital Library







Figure 58 انځور شمېره ۵۹ د پېښن د پوهې څخه پښتو ژبې ودې لپاره اړول شوې بېلګيزه

دا پاسنی انځور چې د فېښن د پوهې او نړۍ څخه ما را اخيستی دی، يو ډېر ښه د تګلارې لپاره بېلګيزه کېدای شي. دا ځکه چې په دې سره به دا ښکاره د هر ګام لپاره ورسره توکي او لارې چارې په ګوته کړي او د هرې برخې پوره مسوليت او دندې او بڼه يې جوته کړي. هر پښتانه او پښتنې ته دا پکار ده چې دا په خپل زړه کې دا پخه واچوي چې دوی په خته پياوړي، ښاغلي، توريالي، وياړلي، نوښتګر، پوه، او د مېړانې خاوند دي او د دې ژبې او کلتور بېلګې او نښې د دوی نيکونه دي چې دوی پوره پښتنو کړې ده. هم يې پښتو وبيلې ده او هم يې پښتو پلې کړې ده. او د پښتونو شمله يې په وياړ او چته ساتلې ده. دا ځو بېلګې د يادولو وړ دي لکه د مېرويس نيکه، خوشال خان، ملالۍ، سپينې ادې، نازو ان، احمد شاه بابا، محمد جان خان وردګ، ايوب خان، باچا خان، مېرزا علي خان، غوريانو، لوديانو، سوريانو او داسې نورو په زرهاوو. او ان نن ټوله نړۍ زموږ د تورې خرپ او شرنګ پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو ماشومانو ته د پښتنو نومونه ورکول لکه اتل ،وړمه ، غرغښت او لیمه.

په پښتو روغبړ کول بیا په ځانګړې توګه د کلیو په خوړه ژبه.

زموږ لیکوالانو ته په کار ده چې د خپلو ټولو اتلانو کیسې ولیکي او نوې کیسې هم ولیکي او بیا دا د کورنیو ، چاروا کو ، سیاسیونو او پوهانو مسولیت دی چې دا په خپلو ماشومانو پلې کړي چې هغوی یې زده کړي. او د دې ښې ودې لپاره باید چې سیالۍ وي چې دا زموږ ماشومان په زړه کې وساتي چې پایښتي ښه غوره کړي.

د لیکلو په برخه کې یا علمي لیکنې وکړوو یا هم ویې ژباړوو او یا هم د دعلمي لیکلو او یا هم د علم د ژباړلو مالي پانګې ژمن شو او ددې تر څنګ د جوړ شویو څیزونو لکه کلتوري، او یا هم لیکلي موادو او کتابونو د اخیستلو ژمن شو. او هر پښتون افغان په دې وننګوو چې په خپل کور کې دا څېزونه څومره لري او په څومره یې پیسې ورکړي دي؟

کنښانستل ، بې غوري او بې پروایي زموږ ورک کېدل ګړندي کوي.

نو اوس بیا په کار دا ده چې خپل د کلیو دود دستور په هر ځای کې په ډېره مېړانه او نوښت سره هم تر سره کړوو او هم یې نورو ته وروپېژنو. خپله جامه او خپل ملي کالي او شملې په هر ځای کې چې مو تر وسه وي په ویاړ سره واغوندو او د خپلې شملې پېژند ګلوي وکړوو. موږ ټولو ته پکار دا ده چې د دود دستور ښایسته کولو او په نوښت سمبالولو کې برخه واخلو او هېڅکله هم بې پروا پاتې نه شو. که چېرې ان یوه برخه د کلتور زموږ خوښه نه وي نو د هغې خو هېڅ کله هم سپکاوی ونه کړوو. د بېلګې په توګه نن سبا زموږ ځوانانو په اتڼ کې ډېر نوښتونه راوستلي دي نو زما د مشرانو څخه تمه دا ده چې نوښت وستایي نه دا چې هغه ورټي که یې خوښ نه وي بیا دې د هغو ځوانانو درنښت وکړي چې هغوی هم دا نوښت یې کړی او هم یې خوښ دی. مشران کولای شي چې په زړو اتڼونو کې نوښت راولي.

ناوې او زوم کولای شي چې په خپل واده کې د برګ اتڼ لپاره نوښت راولي او د نورو څخه په خپل واده کې یوه نوې د مېړانې بېلګه ښکاره کړي لکه پخوا به چې ننبې ویښتل کېدلې. او دا سې ښه نوښت په کې راولي چې هم یې اره او اسلي ښه ژوندۍ پاتې شي او هم ځوانان یې خوښ کړي. او همدا سې د د کلتور ټولې برخې باید چې په ډېره پام سره هم خوړې شي او هم د ټولو د منلو وړ. د پردیو د برېدونو مخ نیوی په ډېره کلکه او مېړانه په کار دی.

چې موږ خپله ژبه او دود دستور خوږ کړوو دا په خپله ډېر مینه وال مومي. او کوم کسان چې بې خبره دي د هغوی اشتیا را پارول پکار دی او کوم چې بې پروا او پردي پالي دي هغوی ته پیغور جوړول پکار دي. که چېرې په کوم واده کې اتڼ او برګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتڼ ونه شي او هم ناوې او زوم په اتڼ کې مشرې ونه کړي نو دوی ته هم پېغور جوړول په کار دي. او همدا رنګه موږ کولای شو چې د کوزې پښتونخوا د هنرمندانو او انځورګرو پوهانو د فرهنګي پانګې څخه په کار اخيستو سره د برې پښتونخوا د فرهنګ په ټولو برخو کې هلته نوښت راولو. د بيلګې په توګه د ډرامې، پلم، او ننداري لپاره د اسمايل شاهد، آصپ خان، بدر منير، آلم زيب، او سندرو لپاره د رهيم شاه، ګلزار آلم، نازيه اکبال او نورو د پيژندګلوو او د پرګرامونو لپاره لاري چارې هوارول پکار دي او همدا رنګه د برې پښتونخوا کابل او کندهار څخه د هنر مندانو، ليکوالانو او ان سياسيونو تګ پېښور او کوېټې ته او بيا د دې دواړو غاړو څخه په ټوله نړۍ کې چې پښتانه دي د دوی سره په پوهه اړيکې ټينګولو لپاره هلې ځلې په کار دي.

او موږ ټولو ته يوه ننګونه!

او هر پښتون دې خپلې جاغې ته وګوري چې دې دا پاسنۍ خبرې ځومره تر سره کړي؟

او ځومره به يې په خپل پاتې ژوندانه کې تر سره کړي که د پښتو سره په پښتو مينه کوي؟

او ځومره به يې خپلو ماشومانو ته ورزده او ځومره به يې په دوی پلي کړي؟

دا خو لا پرېږده چې لکه زما وړه پښځه کلنه لور وړمه سپوږمۍ چې خپلو همځولو ته چې انګرېزانې ،ارب ،پاړسيان ،چېکان او کوريايانې دي پښتو روغبړ ورزده کوي ستا ماشومان يې هم کولای شي که ته يې ورزده کړې او دا ډاډ ګېرنه ورکړې او که ته هم همدا کار وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په سیمه کې پښتو:

زه په دې ډاډه یم چې کله هم که په اسیا کې یو ګډ بازار جوړ شي او دا ولسونه یو بل سره په راکړه ورکړه او سیاست کې سره ډېر نږدې او ان د یوې سیاسي او سپماوي سیمې په جوړولو بریالي شي٠ نو پښتانه به بیا هم هېڅ د نورو سره په تګ راتګ کې او د دوی سره په خبرو او راکړه ورکړه کې ستونځې ونه لري یانې دا چې د دې نورو ژبې به هم زده کړي٠ خو دا بیا هم یوه تشه به وي چې دا نور به پښتو زده نه کړي چې دا بیا ټولو ته ستونځه ده٠ نو پکار دا ده چې پښتانه باید ه چې خپله ژبه هم زده کړي او هم یې نورو ته خوږه کړي او هم د نورو ژبو په ځانګړې توګه زموږ د ګاونډیانو ژبې او انګرېزي چې د تخنیک او پوهې او سیاست ژبه ده زده کړي٠ موږ به د هر چاځخه دا تمه ولروو چې زموږ ژبه یې زده وي٠

دا نور ولسونه به پښتو هغه وخت زده کوي چې پښتانه دا ژبه د خپل درانه دود دستور او بډایه کلتور او سیاسي ځواک په مرسته خوږه او پیاوړې کړې چې خپله ورته په وېیلو درنښت ورکړي چې دا به پایښتي بڼه ورکړي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



Revival of Celtic Language. د سلتیکي ژبې بیا راژوندي کول

http://www.summerlands.com/crossroads/celticlanguage/revival.htm

The philosophy of Language Revival د ژبې د بیا راژوندي کولو پلسپه.

http://www.languagerevival.com/philosophy.html

Hebro Language Revival د هبرو د یهودانو د ژبې بیا راژوندي کول

http://www.jewishvirtuallibrary.org/jsource/biography/ben_yehuda.html

Welsh Language Revival د ولشي ژبې بیا راژوندي کول

http://www.suite101.com/article.cfm/welsh_language/57083

Andrew Carnew, http://dingo.sbs.arizona.edu/~carnie/publications/PDF/Endangered.pdf

Britta Korth, http://www.cimera.org/files/biling/en/Korth_Languagerevival.pdf

Zhanara Zauruzbayeva, http://www.anselm.edu/NR/rdonlyres/FC460641-E210-4AC7-9401-E470E25B9FAC/1262/20024.pdf

شهسوار سنګروال، ۱۹۹۷، د پښتو ادبیاتو ته یوه زغلنده کتنه، دانش کتاب خپرونه، پېښور،۰

د لطیف ننګرهاري مرکه، بي بي سي راډیو ، ۲۰۰۷ کال د اګست ۲۱ مه، لندن

د خورشید عالم سابر مرکه، بي بي سي راډیو ، ۲۰۰۷ کال د اګست ۱۵ مه، لندن

د شهنشاه باچا مرکه ، بي بي سي راډیو ، ۲۰۰۷ کال د اګست ۲ مه، لندن

David Thomson, Europe Since Napoleon, اروپا د ناپلیون څخه راوروسته، ډیوډ تامسن

Edited by Sur Wright, Language and the State, Multilingual Matters Ltd ISBN 1-85359 -385-0 (hbk),

The Kit-Kat Club, the friends who imagined a nation by Ophelia Field

Dibb, Simkin, Pride, Ferrel, Marketing Concept and Strategies 4th Edition

Hitt, Ireland, Hoskisson, Strategic Management 6th Edition

(c) ketabton.com: The Digital Library



George Yep, Global Strategic Manangement

Fashion, University of Bocconi, Italy. Lecture notes.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په پای کې دې هر پښتون خپله او د نورو ونډه په دغه بېلګیزه کې وتلي چې د خپلې ژبې ودې ته مو د بازار د کاروبار له اړه مرسته کړې ده !

# د پښتو خبرنیزه پاڼه

# موسیقي په یوه کال کې

کابل(-----) ،پېښور (-----) ، کندهار(-----) ، ننګرهار(-----) ، کوېټه(-----) ، خوست (-----) ، مردان (-----) ،غزنی(-----) ، هرات (-----) ، کندوز(-----) ، مزارشریف (-----) ، بغلان (-----)

| کسټونه | جوړ شوي | خرڅ شوي | تاسې څو اخیستي | په څو افغانیو |
|---|---|---|---|---|
| پښتو سي ډي | | | | |
| پښتو پيټې | | | | |
| اتڼ سي ډي | | | | |
| اتڼ پیټې | | | | |
| پارسی سي ډي | | | | |
| پارسی پیټې | | | | |
| ایرانی سي ډي | | | | |
| ایرانی پیټې | | | | |
| اوردو سي ډي | | | | |
| اوردو پیټې | | | | |
| هندي سي ډي | | | | |
| هندي پیټې | | | | |
| نورې ژبې سي دي | | | | |
| نورې ژبې پیټې | | | | |
| ټولګه | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو څېړنيزه پاڼه

## فلمونه په يوه کال کې

کابل(-----) ،پېښور (-----) ، کندهار (-----) ، ننګرهار (-----) ، کوېټه(-----) ، خوست (-----) ، مردان (-----) ،غزنی(-----) ، هرات (-----) ، کندوز(-----) ، مزارشريف (-----) ، بغلان (-----)

| کستونه | جوړ شوي | خرڅ شوي | تا څو اخيستي | په څو افغانيو |
|---|---|---|---|---|
| پښتو فلم وي سي ډي | | | | |
| پښتو ډرامې وي سي ډي | | | | |
| پښتو نڅا وي سي ډي | | | | |
| اتڼ وي سي ډي | | | | |
| واده وي سي ډي | | | | |
| پښتو فلم پيټې | | | | |
| پښتو ډرامې پيټې | | | | |
| پښتو نڅا پيټې | | | | |
| اتڼ پيټې | | | | |
| پښتو واده پيټې | | | | |
| پاړسی فلم وي سي ډي | | | | |
| پاړسی ډرامې وي سي ډي | | | | |
| پاړسی نڅا وي سي ډي | | | | |
| پاړسی واده وي سي ډي | | | | |
| پاړسی فلم پيټې | | | | |
| پاړسی ډرامې پيټې | | | | |
| پاړسی نڅا پيټې | | | | |
| پاړسی واده پيټې | | | | |
| ايرانی فلم وي سي ډي | | | | |
| ايرانی ډرامې وي سي ډي | | | | |
| ايرانی نڅا وي سي ډي | | | | |
| ايرانی واده وي سي ډي | | | | |
| ايرانی فلم پيټې | | | | |
| ايرانی ډرامې پيټې | | | | |
| ايرانی نڅا پيټې | | | | |
| ايرانی واده پيټې | | | | |
| اوردو فلم وي سي ډي | | | | |
| اوردو ډرامې وي سي ډي | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اوردو نڅا وي سي ډي | | | | |
| اوردو واده وي سي ډي | | | | |
| اوردو فلم پيتې | | | | |
| اوردو ډرامې پيتې | | | | |
| اوردو نڅا پيتې | | | | |
| اوردو واده پيتې | | | | |
| هندي فلم وي سي ډي | | | | |
| هندي ډرامې وي سي ډي | | | | |
| هندي نڅا وي سي ډي | | | | |
| هندي واده وي سي ډي | | | | |
| هندي فلم پيتې | | | | |
| هندي ډرامې پيتې | | | | |
| هندي نڅا پيتې | | | | |
| هندي واده پيتې | | | | |
| نور فلم وي سي ډي | | | | |
| نور ډرامې وي سي ډي | | | | |
| نور نڅا وي سي ډي | | | | |
| نور واده وي سي ډي | | | | |
| نور فلم پيتې | | | | |
| نور ډرامې پيتې | | | | |
| نور نڅا پيتې | | | | |
| نور واده پيتې | | | | |
| **ټولګه** | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو څېړنیزه پاڼه

## اتڼ په یوه کال کې

کابل(-----) ،پېښور (-----) ، کندهار(-----) ، ننګرهار(-----) ، کوېټه(-----) ، خوست (-----) ، مردان (-----) ،غزنی(-----) ، هرات (-----) ،
کندوز(-----) ، مزارشریف (-----) ، بغلان (-----)

| نوم (لیکل یې اړین نه دي) | څو ودونو ته تللي یاست؟ | څو اتڼونه مو لیدلي دي په هر واده کې؟ | څو نورې نڅاوې او سندرې مو لیدلي دي په هر واده کې؟ | څو اتڼونه مو کړي دي؟ | په بل ځای کې اتڼونه مو کړي دي؟ |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو څېړنيزه پاڼه

## ننداره په يوه کال کې

کابل(-----) ،پېښور (-----) ، کندهار (-----) ، ننګرهار (-----) ، کوېټه(-----) ، خوست (-----) ، مردان (-----) ،غزني (-----) ، هرات (-----) ،
کندوز (-----) ، مزارشريف (-----) ، بغلان (-----)

| نوم (ليکل يې اړين نه دي) | دلته څو پښتو نندارې شوې دي؟ | څو ننداري مو ليدلي دي؟ | څو نورې نندارې مو ليدلي دي لکه پارسی، هندي ..... | په ننداره کې مو نور څه ليدلي دي؟ | په بل ځای کې مو نندارې ليدلي دي؟کوم ځای کې؟ |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| تولګه | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو څېړنيزه پانګه

## چاپي خپرونې (نا رسمي ) په يوه کال کې

کابل(-----) ،پېښور (-----) ، کندهار(-----) ، ننګرهار(-----) ، کوېټه(-----) ، خوست (-----) ، مردان (-----) ،غزنی(-----) ، هرات (-----) ، کندوز(-----) ، مزارشريف (-----) ، بغلان (-----)

| چاپي خپرونې | دلته چاپ شوي | د ايرانه راوړل شوي | د پېښوره يا کوټې راوړل شوي | تاسې څو اخيستي | په څو افغانيو |
|---|---|---|---|---|---|
| پښتو کتابونه | | | | | |
| پښتو اخبار | | | | | |
| پښتو مجلې | | | | | |
| پښتو ديني کتابونه | | | | | |
| دري کتابونه | | | | | |
| دري اخبار | | | | | |
| دري مجلې | | | | | |
| دري ديني کتابونه | | | | | |
| ايرانی کتابونه | | | | | |
| ايرانی اخبار | | | | | |
| ايرانی مجلې | | | | | |
| ايرانی ديني کتابونه | | | | | |
| اوردو کتابونه | | | | | |
| اوردو اخبار | | | | | |
| اوردو مجلې | | | | | |
| اوردو ديني کتابونه | | | | | |
| انګريزی کتابونه | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| انګرېزۍ اخبار | | | | | |
| انګرېزۍ مجلې | | | | | |
| انګرېزۍ نور کتابونه | | | | | |
| ټولګه | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو څېړنيزه پاڼه

## چاپي خپروني (رسمي ) په يوه کال کې

کابل(-----) ،پېښور (-----) ، کندهار(-----) ، ننګرهار(-----) ، کوېټه(-----) ، خوست (-----) ، مردان (-----) ،غزنی(-----) ، هرات (-----) ، کندوز(-----) ، مزارشريف (-----) ، بغلان (-----)

| چاپي خپروني | دلته چاپ شوي | د ايرانه راوړل شوي | د پېښوره يا کوټې راوړل شوي | تاسې څو اخيستي | په څو افغانيو |
|---|---|---|---|---|---|
| پښتو کتابونه | | | | | |
| پښتو اخبار | | | | | |
| پښتو مجلې | | | | | |
| پښتو ديني کتابونه | | | | | |
| دري کتابونه | | | | | |
| دري اخبار | | | | | |
| دري مجلې | | | | | |
| دري ديني کتابونه | | | | | |
| ايرانی کتابونه | | | | | |
| ايرانی اخبار | | | | | |
| ايرانی مجلې | | | | | |
| ايرانی ديني کتابونه | | | | | |
| اوردو کتابونه | | | | | |
| اوردو اخبار | | | | | |
| اوردو مجلې | | | | | |
| اوردو ديني کتابونه | | | | | |
| انګريزی کتابونه | | | | | |
| انګريزی اخبار | | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | انګرېزي مجلې |
| | | | | | انګرېزي نور کتابونه |
| | | | | | ټولګه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر په برېښنايي کتابتون کې پر ليکه اثار

- **اسلام او مذهب :**

- د روژې ډالۍ — ډاکتر نثار احمد صمد
- روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت — مؤلف: مولوي سيد محبوب شاه ساجد
- د اصحابانو کيسې — مولوي عبدالهادي حماد
- د مصطلح الحدیث علم په سوال او ځواب کښې — ليکونکی: شیخ مصطفی العدوی مترجم: محمد عمر بشار
- اړينه پوهه — مولوي عبدالهادي حماد
- د برېښنايي کتابتون د اسلام او مذهب د برخې د نورو پر ليکه کتابونو لپاره دلته کليک وکړئ !

- **ساينس او تخنيک :**

- د ږنا کړکۍ (د کمپيوټر زده کړه) — عبدالستار فيضي
- سرطان او د چاپېريال راديو اکټيويټي — ليکوال: پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی ځدراڼ
- د مايکروسافټ آفس پښتو لارښود — عبدالستار فيضي
- غواړئ ذهني ځيرکتيا مو تمرين کړئ؟ — ژباړن: مختار احمد احسان
- د ساينس او تخنيک د برخې د نورو پر ليکه کتابونو لپاره دلته کليک وکړئ !

- **سپورټ او روغتيا :**

- هغه پياوړي لارې چارې چې اند ښينه ستاسو له ژوند څخه محو کوي — ژباړن: ډاکتر محمد رقيب (فاروقي وردګ)
- THE PREVALENCE OF HIV/AIDS IN AFGHANISTAN — Dr.Hameed Shuja
- د کوچنيانو تنفسي سيستم — ليکوال: پوهندوی دوکتور سيد حسام مل
- د لراوبر وېبپاڼې د برېښنايي کتابتون د سپورټ او روغتيا د برخې د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- **هنر او ادبيات :**

- راځئ کيسه وليکو — نصير احمد احمدي
- مناجاتونه — نور احمد قرانمل
- د هيلو غوټۍ — ويناواله: وحيده "آرينزۍ"
- د ابراهيم ادهم په پلونو (ناول) — ليکوال: عبدالله الهام جمالزی
- منظومې کيسې پښتو لنډۍ او غاړې — ليکوال: څارنوال احمد منګل خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **دماشومانو لپاره :**

- کوچنی شاهزاده(د ماشومانو لپاره) ډاکټر عبدالباري
- زما سوی(د ماشومانو لپاره) مختار احمد احسان
- فتبالر (د ماشومانو لپاره) مختار احمد احسان
- د بريښنايي کتابتون د هنر او ادبياتو د برخې د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- **تاريخ او سياست :**

- روز شمار واقع افغانستان تهيه او ترتيب: حميد علمي
- شيرشاه سوري د افغانانو تر منځ د يووالي هڅونکې ژباړن: استاد قريب الرحمن سعيد
- د ډيورنډ ترون د حقوقو او سياست په تــــله کښې ليکوال: ډاکټر رحمت ربی زيرکيار
- د تاريخ او سياست د برخې د نورو آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- **بېلابېل آثار :**

- خوندور خواږه عبدالستار فيضي
- د نړۍ اووه عجايبې ژباړن: مختار احمد احسان
- د بېلابېل آثار نومي برخې د نورو پر ليکه کتابونو د لوست لپاره دلته کليک وکړئ !د بېلابېل آثار نومي برخې د نورو پر ليکه کتابونو د لوست لپاره دلته کليک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**